# حیاتونه

# HAYAATOONA



حیات روغانی

بسم الله الرحمن الرحيم

پیل کوم په نامه د الله چې رحمان او رحیم دے

PUKHTO.NET

# حیاتونه

# تړون

د یو امام

حضرت باچاخان رحمة الله علیه

او د یو مقتدی

ډاکټر نجیب الله شهید

د سپېڅلو روحونو په نوم

PUKHTO.NET

أ اللهم اشرح لي صدري
د دَ حيات روښانی ”حياتونه“
001 همزاد ته غږ
006 دَ مينې يوۀ ليک
009 دَ پخنو کاکا لوجبهک
019 لاربښود اؤ باداړ
021 دَ سندرې تمهيد
027 إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْن
028 چُوچُو اؤ کوتکمير
037 مينه
038 وېش
040 دَ ځناورو ځهرې
048 غلا
057 بلنه
059 علي بابا اؤ يوۀ څلوېښت غلهٔ
062 زغم
PUKHTO.NET

جاکړ مُلا 068
پېژندګلو 072
دَ باور تمهید 074
دَ کوروداني سوپر پلېننګ 077
دائره 082
مرام 086
دَ مینې بل لیک 090
ذات 092
دَ چاړې لاندې 094
داد 099
اے طبلِ بلند بانګ! 101
زۀ اؤ پدِنګ کاکا 108
دَ بغاوت پېغور 111
ښاغلے 114
بدې ،مونږ اؤ ما في الضمیر 118
وېلنټائن نائټ 127
تور څلی 133
دَ مینې یو بل لیک 136

PUKHTO.NET

## أللهمَّ اشرَح لِي صَدرِي

سحر زما سترګو ته ؤکتل اؤ زهٔ ئې دَ خاؤرو ځلی کښې امانت ؤليدم. ما دَ سحر مخ ته ؤکتل اؤ دَ ماښام تيارو په هغهٔ شخوند وهلو.....

ژوند زما سترګو کښې دَ خپل تلپاتې انځور ننداره کوله اؤ ما دَ هغهٔ دَ ساګانو پلونو پسې خپلې ګوتې ؤشمېرلې.....

شريعت دَ خپل سپين اغوستن ، سپين لوی پټکی اؤ سپينې اُوږدې ږيرې نه دُورې ځندلې اؤ رهبانيت دَ خبر اؤ شر نه دَ خلوت کدې ګوټ کښې ځان پټولو.....

مذهب انسان ته دَ ژوند په لارو کښې رڼا کوله اؤ هغهٔ مذهب له لاس کښې تسبې ورکړې دَ جومات ګوټ کښې اعتکاف ته کښېنولے ؤ.....

عقيدې په منطق پسې ملنډې کولې اؤ وهم دَ عقيدې په سترګو کښې دَ تيارو زنی نوستل.....



PUKHTO.NET

دَ خدا ے منونکی اؤ دَ خدا ے نهٔ منونکی ثوره په لاس دَ یؤ بل سرونو غوڅولو کښې بوخت وو اؤ خدا ے دَ خپلو نیازبینو دَ توی شوې وینې سیند ته کتل.....

دَ نمونځ کوونکی بې ایمانه اؤ دَ ښلمانځه ایمان لرونکی حشر یؤ رنګ ؤ اؤ ایمان ته ځان دواړو سره سپک ښکارېدلو.....

محبت ځان له دَ ښکلا بُت روغولو اؤ پښو کښې ئې په سجیده پرېوتلو اؤ هوس دَ دغه بُت دَ مخ نه پخپلو میتیازو نور وینځلو.....

عقل دَ تدبُّر قلم سره په روانو اوبو دَ نړۍ قسمت لیکلو اؤ ناپوهۍ دغه اوبو کښې کهٔ روڼ ؤ اؤ کهٔ تت ،خپل سیوری ته په لستونو نخښېدلو.....

زما وړاندې دَ ژوند لوحِ محفوظ پروت ؤ. زما ښی اړخ ته یوه ډېره ښکلې ، نازولې اؤ زړهٔ راښکونکې فرښته اؤ کیڼ اړخ ته یؤ ډېر پُواړ ، کرکژن اؤ بوړنوونکے شیطان ناست وو. ما دَ ژوند څهرې روغولې. دغه څهرو کښې ځنې خندېدلې اؤ ځنې ژړېدلې.

دَ دغه څهرو خندا اؤ ژړا دواړو کښې دَ ازل چپتیا اؤ دَ ابد زوږ یؤ بل ته مخامخ پرلت وهلی ناست وو. دغه چپتیا اؤ زوږ ما دَ "حیاتونه" په نامه یؤ ځا ے کړل اؤ ستاسو وړاندې مې کېښودل. دغه دواړه ؤنې کهٔ هر څو لُوڅې دی ، خو سیورے

لري. ما وې ، چې دَ انسان دَ ارتقاء لړۍ دَ دغه دواړو سيورو منځ کښې وی اؤ چې کله انسان دَ زوړ دَ ؤنې سيوری له لاړ شي ، بيا هم ارتقاء نهٔ پښه نيولې کيږی.

سحر زهٔ دَ خاؤرو څلی کښې امانت ليدلے ؤم ، ما دَ ماښام څلې نه دَ سحر وينه په توئيدلو ليدلې وه.

تاسو هم دَ سحر سترګو ته ؤګورئ!

څان دَ خاؤرو څلی کښې ؤوينئ!

زهٔ لوی الله نه دُعا کؤم ، چې څان امانت وينئ.

حيات روغانے

PUKHTO.NET

## دَ حیات روغانی "حیاتونه"

دَ ژمی شپه..... نرے اؤ کله ټُوند باران. ښکاری دا شپه دَ "حیاتونه" په نوم کیږی. یؤ "حیات" دَ بل نه ځوندور، زورَور، خیګړور، دَ علمیت، روحانیت، تجسس، محبت نه ډک هغه جام چې په څښکلو ئې لا بنده تږے کیږی. نهٔ یم خبر چې دَ چا دے، خو زلمے ئې بوډا کړم..... اؤربدلے مې دے، لیدلے مې نهٔ دے..... لیکلے مې دے، لوستلے مې نهٔ دے:

جې تهٔ نهٔ ئې تږے کبږم، جې دې وینم جل مې اخلی
اخر ساه به له ما وځی، په دې تنده لبونی کښې

هغه دَ روغانی خبره، چا پخنوکی زبهر سرت سره مې بحث کړے هم نهٔ دے، چې خبر مې کړی، چې دَ چا دے اؤ دَ اجمل خټک دَ قلم دَ میراث وارث نورالبشرنوید هم چرته دَ قلم دَ لارې کاغذ ته نهٔ دے سپارلے، ګنې دَ نظر نه به مې تبر شوے ؤ، خو دَ "حیاتونه" په ګوټلو جل واخستم اؤ دا شعر مې فکر ته راغلو.

"حیاتونه" دَ حیات روغانی دَ نثری یرغل یلغار دے.
حیات روغانے دَ نورالبشرنوید شاگردی، دَ زبیرحسرت اؤ علی یارانې اؤ زما مینې اؤ دادگیرنې ډېر زورَور اؤ خیګرور کړے دے. دَ قلم ژبه ئې ډېره تېره اؤ سوچ ئې ډېر ژور دے. دَ علمیت خزانه ورته وراثت کښې راغلې ده. زما یؤ مشر کله کله په خندا کښې وائی، چې دا کاکاخېل چې پېدا شی، لسم پاس وی. زهٔ وېم، حیات روغانی په ورنی کښې شپاړسم پاس کړے دے. روغانیان کۀ دَ لر دی کۀ دَ بر، دَ وجود دَ لوښی دَ ورکوتوالی له کبله ئې عقل اکثر په مورړو واوړی، لېونی شی.....
خو زما دَ روغانی دَ وجود جام دَ عقل په مناسبت خدائے رغ کړے دے اؤ دا زما، زما دَ عصر، زما دَ قام، زما دَ خاوړی، زما دَ ژبې اؤ زما دَ مرام خوشبختی ده، چې زما روغانے په وجود روغ، په دلیل معتبر، په علم پوره اؤ په عمل سرلوړے دے.
هر څو کۀ دَ روغانی دَ قلم ژبه تېره، طنزیه، ترخه ده، نو په دې روغانے ګرم نۀ دے. دا زما دَ عصر المیه اؤ قامی سانحه ده، چې دَ روغانی ژبه ئې ترخه اؤ دَ قلم څُوکه ئې تېره کړه. چې رهبر رهزن شی، عالم بې عمل شی، دانشور تش ور شی، شمله وال برخه وال شی، نو روغانے په مړو خبرې نۀ شی لیکلې، مرثیې به لیکی.

حیات روغانے زما په وړاندې زلمے شو. اوس دَ خبره سړے هم شو. دَ مینې دَ وادۀ څبره ئې هم غاړې ته واچوله. دَ عقل دارې خو ئې دَ مور غېږ کښې پوره کړې دی. دَ شعور اؤ لاشعور سلسله ئې کامله شوه. په لیک کښې ئې دَ اشنغر فطری رنګ دَ ماسټرکریم علمیت، دَ غنی بابا اؤ اشرف مفتون فلسفیانه انداز، دَ امیرنواس خان جلیا طنز، دَ عبدالاکبرخان اکبر بیباکی اؤ دَ فضل رحیم ساقی قامی مینه ډېره ښکاره په نظر راځی.

هر څو کۀ دَ عصر تفاوت دے، خو دَ خپلو اتلانو سره ئې قامی مرام شریک دے، نو دَ هغوی فکری انداز دَ روغانی دَ فکر لارښود ګڼلے شم اؤ دا زما دَ وخت خوشبختی ده، چې په یؤ وجود کښې را ته لوی ذات دَ خپلو سرلوړو اتلانو، فکری لارښودانو اؤ فکری وجود دَ حیات روغانی په جُوثه کښې راکړو.

دَ "حیاتونه" هر "حیات" دَ بل نه معتبر، ښبسته اؤ زړۀ راښکونکے دے. دَ لیک تکراری انداز اؤ فلسفیانه رنګ، علمی کاوشونو "حیاتونه" ته تجسسی ښکلا بخښلې ده اؤ دا دَ یؤ عام فهم لیکوال دَ وس خبره نۀ وی. یقیناً چې عام لوستونکی دَ حیات روغانی دَ "حیاتونه" نه هغه خوند نۀ شی اخستلے، کوم چې دَ عام فهم لیکوال دَ لیک نه عام اولس اخستلے شی،

خو زما په خیال زما دَ علمي درسګاه په علمي پنګه کښې "حیاتونه" ډېره لويه خزانه ده ، چې راتلونکې نسلونه به دَ علم په دې خزانه يقيناً چې ډېر محلونه رغ کړي.

ټرون دَ خدا ے بخښلي لاربسود فخرِ افغان بابا اؤ شهيد ملګري نجيب الله دَ سپېڅلو روحونو په نوم دَ روغاني دَ قامي لېونې جذبې ترجماني کوي ، چې هغه ئې دَ خپل مظلوم پښتون قام سره کوي.

تمهيدي ليک ئې را ته غُونے خير خير کړو ، وائي:

"سحر زما سترګو ته ؤکتل اؤ زهٔ ئې دَ خاؤرو څلي کښې امانت ؤليدم... ما دَ سحر مخ ته ؤکتل اؤ دَ ماښام تيارو په هغهٔ شخوند وهلو. ژوند زما سترګو کښې دَ خپل تلپاتې انځور ننداره کوله اؤ ما دَ هغهٔ دَ ساکانو پلونو پسې خپلې ګوتې ؤشمېرلې. شريعت دَ خپل سپين اغوستن ، سپين لوی پټکی اؤ سپينې أورېدې ږيرې نه دُورې ځندلې اؤ رهبانيت دَ خبر اؤ شر نه دَ خلوت کدې کُټ کښې ځان پټولو. عقيدې په منطق پسې ملندې کولې اؤ وهم دَ عقيدې په سترګو کښې دَ تيارو زنې نوستل......".

اؤ دَ تمهيدي ليک په اخره کلمه کښې ليکي:

"سحر زهٔ دَ خاوَرو څلی کښې امانت ليدلے وُم..... ما دَ ماښام څلې نه دَ سحر وینه په توئېدلو لیدلې وه.
تاسو هم دَ سحر سترګو ته وګورئ! خان دَ خاوَرو څلی کښې وینئ! زهٔ لوی الله نه دُعا کوُم ، چې خان امانت وینئ".
ملګرو! دَ حیات روغانی "حیاتونه" زهٔ دَ شعور اؤ لاشعور ، سپین اؤ تور ، ښکلی اؤ بدرنګ ، سحر اؤ ماښام په فلسفه کښې ورک کړم. نهٔ یم خبر چې خپلې منکرې ، دروغژنې ، فریبژنې ، مکارې ، خودغرضې ، خونړی دنیا ته واپس راشم اؤ کهٔ دَ حیات روغانی سره به دَ هغهٔ دَ حیاتونو په خیالونو کښې غرق دَ منطق په تلاش کښې ګور ته لاړ شم.
معظم جان معظم
25-02-2011
PUKHTO.NET

## همزاد ته غږ

دَ نمر تاؤ سره لمبه شوې رڼا ده اؤ کۀ دَ سپوږمۍ په وړانګو مسته شوې هوا ـــ مونږه کۀ ډېر لاس پښې ؤوهو ، خو دغې دائرې څخه بهر وتلے نۀ شو . نو ايا ضروری ده چې مونږه دا نمر اؤ يا سپوږمۍ خپل مرکز ؤګڼو ؟

نه! چرې هم نه!

PUKHTO.NET

راخه چې دواړه دَ ذرې کېدو په عقیده خانونه بل محور ته ؤ نهٔ سپارو!

راخه چې دواړه مرکز شو اؤ نمر اؤ سپوږمۍ ته غږ وکړو ، چې زمونږ نه یؤ اړخ ته پرېوځي اؤ بل اړخ ته را خیژي . نمر له غږ ورکړه اؤ سپوږمۍ ته ؤوایه ، چې نورې سیارې اؤ ستارې دې هم زمونږه په قدمونو قدم کیږدي ــ خکه چې زهٔ اؤ تهٔ دَ دې کائنات مرکز یُو اؤ دَ نمر ، سپوږمۍ . ستورو اؤ نورو سیارو دَ تګ لارې زما اؤ ستا دَ وجود نه چاپېرې دي .

راخه چې زهٔ اؤ تهٔ په نمر خاتهٔ زېږېدلي اتلان یُو .

راخه چې دواړه دَ نمر پرېواتهٔ په لوري روان شو .

راخه چې دواړه دَ سپېځلې خاوړې په سینه دَ نجات په لوري پلونه پورته کړو .

راخه چې دَ ناپوهۍ په تور ښار دَ خپل فکر اؤ پوهې دَ رڼا دَ لښکر سره یرغل وکړو . دَ دغه ښار دغه تیارې کهٔ هر څو ژورې ، بوګنوونکې اؤ وېروونکې دي ، خو یوه سپرغۍ ئې هم بنیادونه رنګولی شي .

راخه چې دَ نفرت اؤ کرکې په دغه لوړو دنګو غرونو باندې پښې کیږدو . تر څو چې مونږه په دوی پښې نهٔ وی ایښې ، دا به هم

دغسې لوړ اؤ وياړی وی اؤ چې کله مو پرې پښې کېښودې ـــ بيا به زمونږ دَ پښو لاندې وی.

راځه چې دَ مفاهمتونو په نامه خان ګُولوونکو اؤ غلامۍ ته خپل قسمت ويونکو ته دَ همت، غېرت اؤ بغاوت ايتونه ؤلولو .راځه چې دَ دوی وينه غلامه نۀ ده، خو دَ بې وسۍ احساس لکه دَ کنګل منجمده کړې ده .راځه چې دَ بغاوت په سندرو سره دَ دوی وينې په غورځنګ کړو .راځه چې دوی ته ؤوايُو، چې بې وسی اؤ دووسی دَ يو کيفيت دوه نومونه دی اؤ راځه چې دوی ته ور ياد کړو، چې دَ دنيا په مخ يوه مور هم غلام بچے نۀ زېږوی .راځه چې دوی ته ؤوايو، چې په غلام دَ جنت اوبۀ، دَ جنت خواړۀ، دَ جنت خاؤره اؤ دَ جنت دَ حورو تصور حرام دے.

راځه چې دَ وهمونو ياجوج ماجوج ته دېوال لوړ کړو اؤ دَ باور دَ دېوال په شا ئې ښخ کړو ـــ هغه باور چې کۀ دېوال ئې دَ رېښمو تار نه هم رغ شی ،بيا هم دَ فرعون دَ اهرام نه قوی وی.

هنْ! زما لاس ؤنيسه! راځه چې دواړه دَ هيلې اؤ اميد وريځو ته ور ؤخيژو .ګورې نۀ! زمکه دَ نا اميدۍ په کر شنډه شوې ده .دَ وسوسو وښنو زمکه دننه ډډه کړې ده .راځه چې دَ اميد وريځې

پرې نجوړ کړو اؤ دَ امید تخم پکښې ؤنولو . سوکړه شوې زمکه دَ وریځو دَ خدائے نه ګیله کوی اؤ سپرلو ته ښېرې کوی .

راځه چې یؤ بل نه مرور اؤ وېزاره اولس ته دَ ورورولۍ اؤ قام ولۍ ښودنه ؤکړو. راځه چې دوی پوهه کړو ، چې زمونږه الله یؤ دے ــ زمونږه پېغمبر یؤ دے ــ قران یؤ دے ــ مونږه دَ یؤ ادم بابا نه یوې حوا ابۍ زېږولی یُو .

راځه چې دوی ته ؤوایو ، چې کهٔ په لوی پښتونستان کښې مونږه اؤ تاسو یؤ بل نه داسې مرور اؤ وېزاره اوسیږو ، نو دَ الله دَ زمکې په نورو برخو په ستونزو اؤ سختیو کښې بوخت خپلو ورونو لره به څهٔ رنګې لاس ورکړے شو؟

راځه چې دوی ته ؤوایو ، چې دَ اسلام ورورولۍ دَ خپل کور نه پېل کړو اؤ په توله نړۍ کښې ئې دَ مذهب ، سیاست ، ثقافت ، رنګ اؤ نسل نه پرته دَ ادم بابا دَ هر بچی دَ ښېګړې په کار راولو .

راځه چې دَ امن اؤ مینې په اغوستن کښې خان پټ کړے دَ امن اؤ مینې دښمن لوځ لغړ کړو . راځه چې دَ کرکې ، خودغرضۍ اؤ شرخوښۍ دَ بُت په پښو کښې پرته هغه برهمنه

دله خلقو ته په ګوته کړو ، چې دَ مذهب ، سیاست اؤ ثقافت په نومونو تجارت کوی .

راځه چې ټول سیندونه یؤ ځاے ته را غونډ کړو ـــ هغوی ته دَ الله دا لوظ ور یاد کړو ، چې خپلې چاپېرې خاوړې پخپلو اوبو سره خړوب ساتی اؤ چینو ته ؤوایو چې دَ زمکې دَ ښېټې نه ځان لره دَ بهر وتلو لارې ؤلټوی ، چې دَ الله دَ مخلوق په کار راشی . ځکه چې دَ زمکې دننه اؤ بهر چې څومره خزانې دی ، هغه الله دَ خپل مخلوق دَ ښېګړې دَ پاره تخلیق کړې دی .

راځه چې دواړه هم دغسې ځو!

راځه چې دَ وختونو اؤ موسمونو قېد کښې ځانونه ګېر نۀ کړو!

راځه چې زما اؤ ستا مزل دَ ابد په لوری دے!

راځه چې زما اؤ ستا منزل هلته هم نۀ دے ، چرته چې اسمان دَ زمکې په سینه سر ایښے دے .

# دَ مینې یوُلیک

په سمه ډېره مینه سم ډېر سلامونه!

لیک دې راورسېده . څهٔ نازولے لیک وهٔ. څهٔ نازولی وخت کښې په لاس راغلو. لوستلو ئې را کښې ساه پوُک وهله. دَ بېلتون دَ موسم څهٔ زړهٔ چاودون دې هم زبادلے وُ. ما ته دې هغه بې ترسه وختونه راياد کړل ، کله چې به وخت دَ تېرېدلو نوم به خُلهٔ نهٔ اخستلو اوُ توله شپه به ستا دَ يادونو تلاوت کښې تېرېدله. يوه خبره دې را ته ډېره وُدرېدله. تا ليکلی وو ، چې "ما ستا مينه خپلو دُعاګانو کښې غوښتله اوُ بيا ستا دُعا ؤنمانځلې شوه".



PUKHTO.NET

ستا هر یوٗ لفظ لکه دَ یوې ریښتونې کلیمې ریښتونے اوٗ سپېڅلے دے. زما پرې باور دے.

خار شم! ته څهٔ خبر ئې، چې ستا دغه دعوې زهٔ دَ څهٔ شاتار سره مخ کړم؟

خار شم! داسې ځومره تورې شپې وې، چې ما ستا دَ پاره په تویو شوؤ اوښکو رنې ساتلې وې..... داسې ځومره سپینې ورځې وې، چې لکه زما دَ بخت تورې تېرېدلې..... داسې ځومره خاموشۍ وې، چې ما پخپلو سلګو ماتې کړې وې اوٗ داسې څو پېرې وې، چې ما خپل دَ سجیدو نابلده تندے په خاوٗرو خړ کړے وٗ.....

ته نازولې وې اوٗ ستا دعاګانې هم نازولې وې..... خان ئې پرې ځومره په ناز وٗنمانځلو. نن ما ته زما سجیدې ځومره سرتورې اوٗ زما دُعاګانې ځومره ملامتې وٗدرېدلې. زما شېطان، چې زما دَ ذات په یوٗ تور ځمځ کښې لکه دَ بې وسه ګناه غلے ناست وٗ، نن بُرندې سترګې راغلو اوٗ زما هره سجیده، هره دُعا اوٗ هر توکل پسې ئې په برق برق وٗخاندل. زهٔ دغه پېغورونو ته لکه دَ وړوکی ماشوم غلے ولاړ یم.

زما نازولې! خپلو څو نورو ارمانونو ته مې هم ستا په داد دَ سر اوچتولو بلنه ورکړې ده. ما دَ پاره خو دا ډېره ده، چې زهٔ سپېرهٔ ستا سیوری کښې غوړمخے شم. زما حسرتونو له خو دا ډېره ده، چې ستا دَ نازولو دُعاګانو لاس ئې په سر پروت وی. لیکونه په داده زړهٔ رالېږه. ما اوس خپلې نیمګړتیاوې ستا په نوم دَ غُولولو چل زده کړے دے.

تندے دې را ډېخوا کړه، چې ښکول کړم.

په لوی الله دې سپارم.

ستا

PUKHTO.NET

# دَ پښتو کاکا لوجیک

ما ورته وې، "کاکا! خلق روژه نیسی که روژه خلق نیسی؟"

ما ته ئې وکتل او لږې چپتیا نه وروستو ئې ووې، "پکار ده چې دواړه یو بل سره ونیسی. زهٔ ئې دومره نیولے یم، چې روژه کښې څهٔ کول غواړی، هغه کوم او چې څهٔ کول نهٔ غواړی، هغې ته نهٔ نزدې کېږم. ما دومره نیولې ده، چې څهٔ پکښې کول نهٔ غواړی، هغه کولے شم او چې څهٔ پکښې کول غواړی، هغې نه څنډه کولې شم".

ما ورته وې، "کاکا! روژې ډېرې سختې نهٔ شوې؟"

"کهٔ ډېرې سختې شوې، خان به راباندې وخوری ـ زما به څهٔ وکړی؟" (نهٔ ئې وې وره، نهٔ ئې راوړه)

ما ورته وې، "تودې روژې دی، دَ ګړې شربت سرے له خوراکه وباسی".



PUKHTO.NET

وې، "تۆدې روژې سرے له هېڅه نۀ ژباسی. سړی پورې اړه ده، چې خان په څۀ دَ څۀ نه ژباسی".

ما ورته وې، "روژې پسې اختر څومره لويه خوشحالی وی. دَ قدرت قانون دے۔ شپه پسې ورخ، غم پسې ښادی، روژه پسې اختر....." دې نه وړاندې چې ما څۀ وئېلی وے، زما خبره ئې غوڅه کړه،

"شپه تيارې دی او ورخ رڼا، غم دَ اوښکو استاځے دے او ښادی دَ خندا زېرے۔ اختر دَ خوشحالۍ تصور دے او ستا دَ تشبيهاتو تسلسل نه دَ روژې مفهوم دَ شپې او غم ژخی....."

ما سپيناوے ضروری وګڼل، "زما دا غرض نۀ وۀ. زما مطلب وۀ چې....."

هغۀ بيا زما نه خبره واخسته، "ستا چې هر څۀ مطلب وۀ، داسې خبرې چرې مۀ کوه، چې يو خوا خبرې کوې او بله خوا ئې بيا خلقو ته مطلبونه بيانوې۔ په مشقت پسې مشقت !!! زۀ خو اختر دَ روژې ورکړه ګڼم او په دې خبره ټينګ ولاړ يم چې دَ روژې هر ماښام اختر وی، هر څو کۀ پېشمنی کله نا کله سرے په ناره روژې نيولو ته ژتړی".

ما ورته وې، "پخنو کاکا! سرے زړۀ ولې بائېلی؟"

هغه وې ، "دَ کابل فصل توں کال ولاړ وی ، خو دَ لؤ په وخت ئې کلی ؤوهی . کهٔ مار غټ دے ، نو څمخبره هم پلنه ده . څومره چې مقصد لوی وی ، دومره ورته مشقت هم کول غواړی . زیاتره خلق مرام ته نزدې زړهٔ ؤبائیلی اؤ بیا ورسره لنډه لاره دا وی چې "دَ الله به دا خوښه نهٔ وه" ـ زړهٔ وہم دا ښه ده ، چې الله شته ، کنې دې خلقو به څهٔ وې ؟ دا بل چې کوم زړهٔ بائېلل دی ، هغه خو دَ ؤزګارو کار دے . هغه یوې ښځې بلې ته وې چې "خورې! دومره نهٔ ؤزګاریږم چې چا سره متیزه لاړه شم" ، هاغه دَ دغه خلقو مثال دے ، چې بل کار ورسره نهٔ وی ، نو وائی چې "خه! دا زړهٔ به چا باندې ؤبائېلو" ، هر څو کهٔ ددهٔ دَ زړهٔ دَ کتلو زړهٔ دَ چا هم نهٔ وی . هغه دَ حسرت خبره

مینې ته ؤزګار یم ، بې روزګاره یم
زړهٔ چې به څهٔ کار راله ؤ نهٔ کورې ؟"
(محمد زبیرحسرت)

دا چې ما سره ئې خبرې کولې ، ددهٔ خبرو نه به تاسو ته اندازه شوې وی ، چې څومره نبغ ، واضحه مؤقف اؤ روڼ نظر لری . دا ښاغلے "پخنوکاکا" زمونږ دَ کلی اوسېدونکے دے . زمونږ کلے دَ اشنغر دَ رزړو مېره ده ، بلکې تاسو ورته دَ اشنغر

"نواباداياتي" وئېلې شۍ. پخمو کاکا دَ کلي همخولے دے. مونږ ته مو نيکهٔ خبره کوله، چې پخمو به ډېر غلے غلے وهٔ، اوس هم هاغسې دے. دَ هفهٔ نه څهٔ اوړېدلو دَ پاره به خان سوالگر کوې. دَ سوال خواب ورکوی، زياتی يوه خبره "خارج السطور" نهٔ کوی، هر څو کهٔ "په بېن السطور" کښې ترې ډېر مفهومونه ولاړېدلی شی. نيکهٔ مې وې، چې يوه ورخ وَټ کښې گرې ته ولاړ وهٔ، پاندونه ئې کول. چا ئې کړولو دَ پاره ؤپوښتلو،

"پخمو! چې خلق دا پاندونه ولې کوی؟"

"کهٔ خلقو خوړې تورې چې، نهٔ خښلې، نو پاندونه به هم چا نهٔ کول".

پخمو له خپله اړخه خبره سپينه کړې وه، خو تشريح طلب وه. پوښتونکی بيا ؤپوښتهٔ،

"چرته خوړې تورې چې، اؤ چرته پاندو؟ پوهه دې نهٔ کړم".

پخمو کنی نه پترې شوکوله. پوښتنه کوونکی ته ئې دومره هم ؤ نهٔ کتل، چې په مخ ئې څو سترکې دی (کېدے شی، چې هغهٔ سره دا پوهه وه، چې دَ انسان دوه سترکې وی) اؤ وې وئېل،

"کهٔ خلقو چې په کوره نهٔ "خوړولې" اؤ په شودو ئې نهٔ "تورولې"، نو دَ کنو کر اؤ دَ ځارؤ پالنې تهٔ حاجت نهٔ وهٔ".

نیکهٔ مې راته داسې یوه بله قیصه هم کړې وه ، خو ډېره بې خونده وه .زهٔ په هغه څهٔ نهٔ بلوسېږم چې تاسو تنگ کړی .

پښتو کاکا دَ رنگ نه سکڼ دے .دَ ژوند اوږد مزل دغه ماښامی رنگ ماسپښوتښے کړے دے . په تنه ښکاری ،چې پښوا ښهٔ لوړ ، دنگ اؤ دروند وهٔ .سترگې ئې هم حسب ضرورت دوه دی ، خو کله کله ئې دَ څلور کولو چل هم ورځی .دَ انگرېزۍ ژبې دَ اووهٔ (۷) هندسه چې په ۳۵ درجې عموداً شونډو نه لږ پورته سر لاندې کېږدې اؤ دَ دواړو سترگو په منځ کښې لگېدلې نقطې سره ئې نېغه ونجنکوې..... دغسې پوزه ئې ده اؤ ښه دا ده چې لکه دَ نورو پوزو پکښې دوه سېږمې هم شته ، کومې چې ساه اخستو اؤ بوی محسوسولو کښې ددهٔ مرسته کوی .ددهٔ دَ پوزې سره دا خاصیتونه مخصوص نهٔ دی ، خکه چې کهٔ بنده شوې نهٔ وی ، نو هره پوزه دغه خاصیتونه لری . خلهٔ ئې سر پورې ده اؤ خلهٔ کښې ژبه اؤ غاښونه هم لری .دَ غاښونو شمېر ئې وثوق سره نهٔ شو وئیلے .دَ سر یو اؤ بل اړخ ته ئې یو یو غوږ هم شته ، چې دغه رنگ ئې ټول غوږونه دوه دی .دَ غوږونو خانگړتیا ئې داده ، چې تش ددهٔ اوری..... دَ بل چا خبرو ته خان نهٔ ږدی .شونډې ئې هم دوه دی .نور وجود ئې دَ "نظریهٔ

ضرورت" مطابق تول ضرورتونه سر ته رسوی ، دومره ده چې ګوتې ئې یویشت دی . یویشتمه ګوته ئې دَ لیدلو نهٔ ده ، بلکې دَ کولو ده . لامبل اؤ مخ لاس وینځل ئې دومره زړهٔ خوښی دی ، چې سحر خلهٔ کنګالولو دَ پاره هم په باد دَ خلې تیمموم (تیمّم) کوی .

پخنوکاکا بیخی پراسراره نهٔ دے . هره خبره ئې په ډاګه وی . دومره په ډاګه ، چې نیم خان ئې له خانه هم په بده کړے دے . خبره داسې راواخلی ، چې تهٔ به وائې ، په هر څهٔ ئې پوهه کړم..... چې کله ئې رایادوې ، هغهٔ به وُچ اړولے ئې .

هرَ خاے کښې ئې دَ پښتنو دَ یؤوالی اؤ وروروليِ غږ پورته کړے وی . پښتانهٔ یؤ موټے نهٔ شو ، خو دا خوار دغې غم یؤ مُوټے پاتې کړو.

دَ پخنو کاکا دَ ښېرې اؤ ښېرې رغؤنکو اندامونو دَ محلِ وقوع بیانولو نه وروستو باید چې دَ نوموړی دَ فکر پله ستاسو پام بیا راؤګرځوم . دَ نوموړی فکر کهٔ هر څو عام فهم نهٔ دے ، خو دَ منزل په لور کړنلاره ده . دَ خپل کلی دَ چاپېرچل اؤ روانو چارو نه واخله ، دَ نړی وال کلی دَ "چاپېره چال" اؤ "ورانو چارو" پورې په هر څهٔ پوهه لری . لیک لوست ئې نهٔ دے

کېږي ، او که دا ئې کړې وي ، نو يقيناً چې ډېرو نه به ئې لېک هېر کړي وه او لوست ته به ئې کښېنولي وو . دَ علم په حقله دَ خبرو اترو په وخت ئې يوه ورځ دَ علم په حقله وّوې ،

"زما ده . داسې زما چې يوه تياره ورته ودرېدلې نهٔ شي . اخيرې وخت دے ، هر څهٔ دَ زمکې سر له راغلي دي . علم هم په بازار کښې په پانو ليکلے او دَ دغه شي (لږ سوچ کولو نه وروستو) هو! کمپېټر (کمپيوټر) ـ په کېښتو کښې بند تر لاسه کېږي . دَ کوټې کُټ کښې ناست وي ، چې دوه ورځې پس بهر راوځي ، نو لوی مُلا ترې بل نهٔ وي ـ دې سره ئې خبرو کښې اثر هم نهٔ وي . اوس خو هر چا سره دومره علم وي ، چې بل پرې ښه په ارام سره کافر کولے شي . پخوا به ئې لس لنډې سورتونه (اخيري لس سورتونه) ياد کړل ـ دَ قام امام به شو . خلقو به ئې قدر کولو ، خبره به ئې خاے کېدله ".

دَ کلي يوهٔ وّزګار راته وې ، چې يوه ورځ ئې دَ وادهٔ په حقله وئيلي وو ،

"زهٔ په دې خبره اړ نهٔ يم ، چې خلق دې وادهٔ نهٔ کوي . ما خکه نهٔ دے کړے ، چې دَ وادهٔ تول ژوند په شمېره يو کال وی . کال پس دَ سړي بچي وشي . بچي ډېر ښهٔ شے دے ، خو

PUKHTO.NET

داده ، چې سړی نه ښځه واخلي .بیا ښځه خو تر هغې دَ بچو
وی ، تر څو چې په دې پوهه شوی نهٔ وی ، چې نائې باندې
ږیره ښرئېل یا سمول غواړی".

دَ دنیا دارۍ په حقله ئې نظریه ډېره کرکژنه ده .ستاسو
دَ پاره به هله کرکژنه شی ، کله چې تاسو له دَ سلو نه پورته
شمېره خوند درکوی . پخپله ئې خیال دا دے ، چې څوره
څښکه اؤ کهٔ چا حساب غوښتلو ، نو په ډېره کېږه ترې .
نوموړی یوه ورځ وې ، چې "خلق هم نادیدکه غوندې کارونه
کوی .هر سړی خپل غرض دَ بل په اوږه ایښے دے ، کهٔ عذر
ورته کوې ، نو شل لکۍ درپسې تړی اؤ کهٔ کار ورله کوې ، نو
پخپله به دَ زنې دَ تړلو کېږې .وائی "وروری خوری به کوو ،خو
حساب تر منځه" ، هلکه! یا خو به وروری خوری کوې اؤ یا به
دَ حساب کتاب ساتې .دواړه نهٔ کیږی .زما مطلب دادے ،چې
یا به وروری خوری کوې اؤ یا کهٔ حساب کتاب منځ کښې
راولې ، نو بیا ورله دَ تړون نوم مهٔ ورکوه . په ډاګه ورته
وایه ،چې "سودا" کوو.کهٔ را دې کړهٔ ، در به کړم.....کهٔ راغلې ،
در به شم..... کهٔ را دې وړهٔ ، در به وړم . دا سودا شوه ، تړون
نهٔ شو.چې کله پرې خپل غرض سترګې پټې کړی ، نوبیا دا دنیا

دَ حساب په ساده لاره هم نهٔ پوهېږی . چې ستا هغه جمع کوی ، نو دوه اؤ دوه به در لره "درې" کوی ـ کهٔ ستا په سترګو کښې هم دَ نړی، دَ مینې څهٔ رانجهٔ وو ، نو بیا زړهٔ مهٔ خوره "څلور" به درسره ؤمنی . کهٔ چرې خپل شمیری ، نو بیا دوه اؤ دوه پنځهٔ کولے هم شئ ، شپږ کولے هم شی ، دې نه ئې زیاتولے هم شی . هغه په تا پورې اړه وی ، چې خان به څو ته ؤتړلے شې .

دې فکر دنیا دې حد ته راوستله چې وروری، خوری، کښې ئې حساب تر منځه کړو ، کهٔ یاری، دوستی، ته شی ، نو سترګې ئې په شلتالو پسې راؤخی اؤ کهٔ تک راتک ته شی ، نو تا "قُلبه" کوی اؤ خان دَ لوئی الله پېرزو کوی . دَ دنیا په مخ کهٔ نن امن راتلوته غاړه نهٔ ږدی ، نو دَ هغې تولو نه لویه وجه هم دغه "اقتصادپسنده" سوچ دے . هلکو! مونږه خو دَ رحمان بابا په دې شعر ایمان راوړے دے چې:

دَ خوبانو صدقې لره ئې غواړم
هسې نهٔ چې په دنیا پسې زهیر یم"

پښتو کاکا کله نا کله خبره دومره اوږده کړی ، چې سړی نه دا هم هېر کړی ، چې لیکل کوې . اؤ داسې ښکاری چې تاسو نه

هم هېر وو.

کۀ څوک ما وپوښتي، زۀ به ورته په ډاډه زړۀ ووايم، چې پښتو کاکا دَ اشنغر په خاوره توکېدلے هاغه ګُل دے، چې دَ دېوال دَ سيورى لاندې وچ شو. کۀ چرې هغه په بنګال کښې پيدا شوے وۀ، نو کېدے شي چې ټېګور ترې لاس نيوه هم کړې وه. پښتوکاکا دَ خپل فکر دَ عظمت نه خبر نۀ دے. کۀ چرې هغه خبر وۀ، نو خدائے زده چې څۀ به ئې کول. زۀ هم نن سبا وزګار ناست يم. خبر نۀ يم، خو چې څۀ ته مې پام شي ـ بيا نخښتے يم. خان له خبر دے، خو تاسو لره مې وخت خراب کړو. خفه نۀ شئ بنه!



PUKHTO.NET

# لارښود اؤ بادار

زهٔ چې څوک خپل لارښود ګڼم، هغهٔ دَ پاره چې زما
زړهٔ کښې څومره مینه، پېرزو اؤ درناوے دے، دومره کرکه،
بغاوت اؤ سپکاوے زما زړهٔ کښې هغه چا دَ پاره دے، څوک
چې خان زما بادار ګڼی.

زهٔ دې ته غاړه ږدم، چې يؤ سړے زما وينې څښی،
زما غوښې خوری، زما کور خپلې مانۍ دَ پاره ګانه کوی اؤ زما
سر ئې دَ خپل جبر نيزه کښې خان ته تيټ کړے وی اؤ خان
ته زما بادار وائی.

زهٔ دې ته غاړه نهٔ ږدم، چې يؤ سړے زما وينې څښی،
زما غوښې خوری، زما کور خپلې مانۍ دَ پاره ګانه کوی اؤ زما
سر ئې دَ خپل جبر نيزه کښې خان ته تيټ کړے وی اؤ خان
ته زما لارښود وائی.

هغه زما لارښود اؤ بادار نهٔ شی کېدلے، څوک:

چې زما په ژبه نهٔ پوهيږی.....

چې زما جومات له دَ لارې ورکولو توان نهٔ لری.....

چې زما کلی کښې حجره نهٔ شی ودانولې.....

PUKHTO.NET

چې زما ماشوم ته ښوونځے بشپړ کولے نهٔ شي.....
چې زما خواشینۍ کښې ئې اوښکه ستر نهٔ ماتوي.....
چې زما ښادۍ کښې په واز کُومي خندلے نهٔ شي.....
چې زما بې وسۍ له دَ داد ورکولو وس نهٔ لرَي.....
چې زما کښت له دَ کروندې بزغلے نهٔ راؤړي.....
چې زما خاؤره ترې له تندې مري.....
چې زما نخښتې کښې جرګه کولې نهٔ شي.....
چې زما ګرهوان ته راتلونکے لاس نیولے نهٔ شي.....
چې زما شوکونکو نیتونو له مخه نیولې نهٔ شي.....
چې زما وژونکی ته ډال کېدلے نهٔ شي.....

بیا خو کهٔ څوک دَ لارښود یا بادار په نامه زما ورمېږ ماتوي ، نو ما پورې اړه لري ، چې خپل ورمېږ ورته سپارم اؤ کهٔ دَ هغهٔ زړهٔ کښې دا ارمان زېږوم ، چې تول ژوند کښې دَ خپل لاس نمړۍ وُخوري.

بیا خو کهٔ زهٔ خپله وینه کښې تاؤ نهٔ لرم ،
نو ما له خدا ے شته
اؤ کهٔ خپله وینه کښې تاؤ لرم ،
نو ما به خدا ے شته کړي.

## دَ "سندرې" تمهيد

دَ انسان ذات دَ ازل نه دَ جنګ مېدان دے، چرته چې خېر اؤ شر دَ يؤ بل ګرېوانونو ته لاسونه اچولي دي. نفس دَ شر اؤ عقل دَ خېر سرلښکر دے. دَ انسان خيال اؤ سوچ دَ هاغه ګوجر په څير دے، چې دَ منطق په کونتي دَ عقل اؤ نفس څاروي ساڅو کوي. نفس دَ عقل له خوا نهٔ شړي، په دې غرض چې دَ نفس دَ تيندګونو ليدلو سره دَ عقل نظر ښهٔ پوخ اؤ بېدار شي اؤ دَ نفس جيلب دَ عقل لاسونو کښې ورکوي، خکه چې کهٔ نفس داسې بې مهاره پرېښودے شي، نو دا دَ ځان سره هر څهٔ نيست و نابود کوي.

زهٔ انسان..... دَ خیر اؤ شر تماشه هم یم ، تماشبین هم یم. دَ خپل تقدیر حاکم هم یم ، محکوم هم یم. دې جنګ کښې کهٔ کټه وی کهٔ تاوان ، دَ دواړو زور زما روح ته رسیږی اؤ زما خاموشی ماتوی. هغه خاموشی چې بې اوازه شورونه دی. شور هله زیږیږی ، چې ګنګوسې خبرې شی اؤ خبرې هله کیږی ، چې سړے دَ خپلو خاموشو نه ؤوېریږی. مایوسی وېره اؤ ویر دے..... امید زړهٔ ورتیا اؤ خندا ده . دَ انسان زړهٔ دَ امید اؤ مایوسی کور دے. ځنې خلق خپلې خاموشی نه تښتې لپاره خبرې کوی ، ځکه چې خاموشی دَ دوی دَ ضمیر وړاندې دوې بربند کړی اؤ دَ خپل احساس په وړاندې ئې دَ یؤ مجرم په څیر ؤدروی. دَ احساس اؤ ضمیر نظر کښې دَ پړ کېدلو وېره دَ انسان اواز دَ خاموشی دَ قبر نه راؤباسی. دَ انسانی فکر ارتقاء دَ وخت سره سره دے په دې خبره پوهه کړی ، چې امید اؤ مایوسی دواړه ستا دَ زړهٔ په کور کښې اوسیږی. دَ کائناتو خالق تهٔ ډېر زورَور پېدا کړی ، ځکه ئې دَ خیر اؤ شر جنګ ستا ذات کښې پېل کړو. تهٔ ئې په زمکه خپل خلیفه ؤټاکلې. دا پوهه اؤ دا فکر انسان خیکرور کړی اؤ هغه دَ ثواب اؤ عذاب دَ فلسفې نه خبر شی. هغه په دې پوهه شی ، چې کهٔ زهٔ هر څومره الوت

ؤکړم ، خو دَ خپلې سجيدې نه بره پرواز نهٔ شم کولے اؤ کهٔ هر څومره پرېوځم ، خو دَ خپلې ګناه نه زيات ښکته تلے نهٔ شم. دا احساس په خوب کښې هم دَ انسان فکر اؤ ولولې سکوندي.

کله چې خزان دَ ؤچو پاڼو په ترخ کښې دهٔ له پېغور ورکوی ، نو دا دَ خپلو اميدونو دَ راتلونکی پسرلی په تصوير دَ خزان زړهٔ ماتولے شي.....

کله چې تيارې ګواښيږی ، نو دا ورله خپلو سترګو کښې دَ راتلونکی سحر په رڼا غرور ړنګولے شي.....

کله چې دهقان خپل چوپال کښې دَ مايوسۍ له لاسه پرېوتونکے وی ، نو دا ورته وائی ،

"زما وروره! مايوسی دَ خدائے دَ وجود نه انکار دے. هاغه دے بره ؤګوره! دَ وريځو خدائے به دېر زر دَ خپل رحمت په اوبو دَ ترږې خاؤرې تنده ماته کړی اؤ دَ خاؤرې سينه کښې به ساه وتونکے تخم بيا ساه واخلی".....

کله چې جابر واکمن دَ خپل فرعونيت نشه کښې دَ دهٔ اؤ دَ دهٔ دَ ورونو په احساس اؤ عزتِ نفس پښې ږدی ، نو دهٔ کښې دومره همت وی ، چې ورومبے خپل زړهٔ کښې دغه جابر دَ پاره

جوړ شوے تخت راؤغورځوی اؤ بیا دَ هغهٔ خلاف په زوره دَ بغاوت چغه پورته کړی. هېڅ وېره دَ هغهٔ دَ اواز په مرۍ لاس نهٔ شی ایښودے.....

هېڅ زور دَ هغهٔ دَ همت لاسونه نهٔ شی نیولے.....

هېڅ بندېز دَ هغهٔ قدم ایسارولے نهٔ شی.....

هېڅ دېوال دَ هغهٔ مخه نهٔ شی نیولے.....

خکه چې هغه په دې پوهه وی ، چې خېر اؤ شر زما ذات کښې دَ ازل نه په جنګ دی..... امید اؤ مایوسی زما په زړهٔ کښې اوسېږی.....زما سترګې هاغه پرده پوخې دی، چې زما خوشحالۍ زما دَ اجازت نه بغېر زما په مخ موسکا کېدې نهٔ شی اؤ کهٔ زهٔ ئې پخپلو اوښکو اؤ سلګو راکاږم ، نو دغه چرې بې ستره کېدې نهٔ شی.

زهٔ نهٔ لکه مُلا عبادت دَ خپلې روزۍ وسیله ګرځوم اؤ نهٔ ئې لکه مقتدی دَ جنت دَ طمعې یا دَ دوزخ دَ وېرې په سیند وړم..... نهٔ خو لکه دَ صوفی دَ خېر اؤ شر نه دَ تصوف په خلوت کده کښې خان پټوم..... نهٔ دَ ساقی کېدو دعوی کوم اؤ نهٔ لکه دَ یو تنده غری مېخوار دَ یو ګوټ دَ پاره خپله انا دَ ساقی پښو کښې ږدم.....نهٔ خپل بدن دَ حالاتو دَ بې لحاظه

جاکړونو سپېرو ته سپارم اؤ نهٔ خپل ژوبل ژوبل روح دَ اجل خلې ته پرېږدم.....

نهٔ دَ شر ملګرتیا دَ پاره خبر وژنم اؤ نهٔ دَ خبر دَ بقاء دَ پاره خپل لاسونه دَ شر په وینو سرهٔ کوم.....

زهٔ لوی الله انسان پېدا کړم اؤ په زمکه ئې خپل خلیفه ؤټاکلم. دَ ازل په ورځ دَ هغهٔ دَ "أَلَستُ" خواب کښې ما "بَلیٰ" وئیلی دی اؤ زهٔ به چرې هم دَ هاغه جنګ نه ؤ نهٔ تښتم ، کوم دَ پاره چې هغهٔ زهٔ ټاکلے یم. هغهٔ زهٔ دَ پښتون پلار دَ مینې برخه کړم ، دَ پښتنې مور په شودو ئې وروزلم اؤ یؤ خیر، ژوندے اؤ پښتون احساس ئې راته دالی کړو. دا منم چې احساس دَ سړی ژوند ډېر ګران کړی. په احساس لګېدلی پرهرونه هره لحظه عذاب کړی ، خو دا هم دَ دې احساس شرف دے ، چې ژوندے انسان دَ ضمیر عدالت کښې تل برندې سترګې اؤ پورته نظر ولاړ وی اؤ دَ مرګ نه هم په دې شمله جګه ؤړی ، چې دَ خپلې برخې جنګ نه پهٔ شا شوے نهٔ یم.

زهٔ خپل احساس دَ لېونتوب په بام ؤدرولم. نهٔ مې دَ دار وېره خوا له راتله اؤ نهٔ مې دَ مصلوب کېدو اذیت ته پښې خوئېدلې. دا دَ لېونتوب زور ؤ ، هاغه لېونتوب چې پکښې هره

ګناه ثواب شوې ده..... هره جذبه پښتو شوې ده..... هره ادا ښکلې شوې ده..... هر قدم غیرت شوے دے (هاغه غیرت، چې خدائے پرې پخپله خان "غیور" یاد کړے)......

زهٔ خپل لېونتوب دَ جبر په پښو سر ایښودلو له نهٔ یم ورکړے، زما ژبه ئې دَ بغاوت په تکبیر ګویا کړې ده. ما غندنه هم کړې ده، ما ستائنه هم کړې ده. زما زړهٔ نه چې کومه خبره وتلې ده، هغه زما "دَ لېونتوب سندره" شوې ده اؤ زهٔ دَ لېونتوب دغه سندره ستاسو دَ پوهې اؤ احساس تلې ته سپارم.

یادګیرنه:

(دَ ورومبۍ شعری ټولګې "دَ لېونتوب سندره" تمهید)

# إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ

کهٔ وخت په مخ سپېړه درکوی اؤ تهٔ دَ دغه سپېړې څواب په سُوک دَ ورکولو توان لرې اؤ بیا هم زغم کوې ، نو په تا ویاړېږم اؤ دا زېرے درکوم چې الله تا سره دے.

کهٔ وخت په مخ سپېړه درکوی اؤ تهٔ دَ دغه سپېړې څواب په سُوک دَ ورکولو توان نهٔ لرې ، ځکه دَ زغم سیوری له ځې ، نو ستا زغم یؤ بې ننګه پېغور دے.

دَ سپېړې څواب په سُوک دَ ورکولو توان خپل کړه..... بیا دَ خپل توان سره زغم ځان کښې راوله .....

الله اؤ دَ هغهٔ نازولې فرښتې به په تا افرین وائی.

کهٔ داسې نهٔ کوې ، نو زهٔ په تا لعنت وایم.

ځکه چې ستا بې وسی تا غلامۍ له بوځی اؤ دَ غلامۍ هره طبقه اؤ دله دَ لعنت نه پرته دَ هېڅ حق نهٔ لری.

دغه غلامی کهٔ دَ عقیدت په نوم ولې نهٔ وی.

PUKHTO.NET

# چوچو اؤ کوتکمیر

دَ سپو په حقله زما جذبې په زېږون اؤ فطرتاً یخې دی. عقلی سبب ئې دا کېدے، شی چې دَ دنیا په مخ دَ "پاپلې پل" اخستو نه وروستو را ته دَ دنیا ورانو . ۓ "اپې" وئیلی دی اؤ زهٔ ورپسې شوے یم. دا دے ږیره کښې مې وخت سپین ډکی ؤتوکول اؤ دَ سر په رژېدو مې تندے څټ ته ؤرسېدو، خو هاغه دنیا مخکښې ده اؤ لا مخکښې ده. دې حالاتو کښې دَ سپو دَ پاللو یا دوی سره دَ څهٔ قسمه تړون ادانه کولو وخت له په لاس نهٔ یم ورغلے.

خبر دَ جمعې مبارکې په خطبه کښې دَ جومات استاجي دَ سپو پالنې په حقله په زور و شور سره تردید و تحذیر وُکړو ـ وعیدونو ئې را باندې غُونی خېږ کړل ـ زما کشر ورور څهٔ دَ پاسه پاؤ کم درې هفتې یؤ سپے ساتلے وهٔ ـ دَ ابی ږپفورونو سپے پرې نهٔ ښودلو اؤ بیا دَ اشنغر په حدودِ اربعه کښې ؤ نهٔ لیدلے شو ـ نمونځ نه وروستو جومات کښې ایسار شوم ـ دَ استاجي وړاندې التحیات نما کښېناستم ـ دَ عجز و انکسار pose جوړولو نه وروستو مې هماغه هومره عاجزۍ سره ؤوې ،

"اے دَ علم سمندره ! سپے څهٔ شے دے ؟"

مختصرترین خواب راکړے شو، "نجس دے".

زهٔ: (دَ سادګۍ انتها سره استفهامیه انداز کښې) "اؤ کهٔ ؤوینځلے شی ؟"

استاجی: (ترغیبی لهجه کښې قدرې راکښلو وروخو سره) "سپیاکه په وینځلو نهٔ نمانځی کیږی"

زهٔ: (تجسس سره) "زما ورور څهٔ وخت وړاندې" (زر مې ؤوې) "اوس نشته" (بیا وړومبۍ لهجې ته راغلم) "سپے ساتلے وهٔ".

استاجی: "سپے چې کوم کور کښې وی ، هلته فرښتې نهٔ ځی . دغه فتوی مقطوعه ده اؤ بس".



PUKHTO.NET

زۀ: (سره دَ خپل زرۀ دَ زور) "خو ما ډېر داسې کورونه لیدلی دی چې هلته سپے نشته" (درې سېکنډه غېرمتعلقه چپتیا نه وروستو) "بیا هم هلته فرښتې نۀ ځی".

استاجی: (دا خل بیخی فېصله کن انداز کښې ؤوې) "دَ چا په ذاتیاتو حمله کول ګناهِ کبیره ده. أَنَّ الکلْبَ نَجَسٌ فِيْ بَدَايَةِ وَالنِّهَايَةِ. لَا يُوجَدُ فِيْهِ خَيْرٌ وَ يُوْجَد كَثِيْرٌ مِنَ الشَّرِّ فِيْه... سپے نجس دے. اغاز کښې نجس دے. انجام کښې نجس دے. خبر یؤ نۀ لری. شروع نه تې پې شمېره دی. پورې کوڅه کښې ئې هغه تېره ورخ زما ځنې وېرولے دے".

دَ استاجی عدم دلچسپی، زۀ توندی، ته جوت کړم. ما وې، "استاجی سپے وفادار شے دے. مولانا روم وئیلی چې دَ اصحابِ کهف سپے به دَ خدمت په سبب انسان شی اؤ....."

دَ جومات استاجی زما خبره پرې کړه، "اؤ دَ انسان شکل کښې به جنت ته ننؤځی. دا سعادت یوازې قِطمیر ته حاصل دے. تۀ هر سپی ته په دغه تناظر اؤ سیاق و سباق کښې مۀ ګوره".

جومات کښې دَ دنیاداری، نه دَ بې وسی، اؤ ضعیف العمری په سبب دَ دستبردارو شپږ اتۀ مشرانو مخامخ چې کله استاجی، دَ

PUKHTO.NET

بهر لاره ؤنيوله ، نو ما غېرارادي طور قدرې په زوره ؤوې ، "اؤ چوڅو.....؟"

دَ استاجي له لورې هېڅ اواز ردعمل ؤ نهٔ کړو . دَ ژوند دَ عملي مېدان نه Retired old war horses چې کله څهٔ وښلو ته څانګونه وهل . نو ما دَ خدائے دَ کور نه په خېر سره وتل غنيمت ؤګڼلو .

چُوڅو ـ دَ چا دَ نوم په اؤرېدلو چې دَ جومات استاجي سکوت سلامتي ګڼله . ته زمونږ دَ کلي دَ ښاغلي معظم جان خان دَ "سګِ فرمانبردار" کېدو شرف حاصل دے .دَ چُوچُو دَ شرافت ، منکسرالنفسي ، امن پسندئ اؤ عدم تشدد دَ دې نه بل لوی ثبوت څهٔ کېدے شي ، چې استاجي دَ هغهٔ په نوم په دې وجه څهٔ ؤ نهٔ وئېل ، چې دَ کلي خلق دَ هغهٔ په فتوې دَ اعتراض ګوته اوچتولے شي اؤ دَ چُوچُو په حقله دَ فتوې صادرولو نه يوه فتنه زېږېدلې شي .

دين اسلام دَ حق دَ غصب کېدو اجازت هېڅ صورت کښې نهٔ ورکوی اؤ دغې امن پسندئ ته دَ بې غېرتئ نوم ورکوی . چې څوک دَ شر نه رغېدو دَ پاره خپل حق پرېږدی . په دې حوالې سره چُوچُو امنيت پسندئ کښې دَ اسلام دَ حوالې په

توګه نه شو وړاندې کولے . خو دا خبره کولے شو چې د امنيت پسندی لړ کښې دَ نوموړی سدارتهه (ګوتم بده) دَ تعليماتو پابند ضرور دے .کۀ دَ سپو طبعی عمر دَ دېرشو کالو نه زيات کېدلے شو ، نو ما به په داده زړۀ دعوی کړې وه چې جُوجُو عېن په هاغه وخت کښې زېږېدلے وۀ ، کله چې جنرل نيازی په ۱۹۷۱ء کښې جنرل سنګهه ته وسله غورځولې وه .دا وخت زما په خيال دَ جُوجُو دَ دومره امنيت پسندی سبب "مکانی عنصر" دے ، نۀ چې "زمانی عنصر" په دې کښې څۀ لاس لری .معظم جان خان دَ خدائے بخښلی ستر خدائی خدمتګار فضل رحيم ساقی دَ درنې کورنی سره تړون لری او دَ ساقی بابا اؤ دَ معظم جان خان دَ حجرو کوټې دَ يو بل دَ حجرو په انګنونو کښې دی .دَ ساقی بابا کور ته دا اعزاز حاصل دے ، چې ستر عبدالغفارخان بابا (باچاخان) دَ خپل ژوند اخيرنی ورځې دغلته تېرې کړې دی .دَ "وردګې" خاورې دَ "عدم تشدد" اثر واخستو اؤ بيا دَ دغه مکانی اثر لاندې نوموړے جُوجُو هم راغلو .

دَ جُوجُو دَ اعلی ظرفی يوه نمونه دا ده ، چې کۀ تاسو څۀ وخت هم دَ ښاغلی معظم جان خان حجرې ته ورغلئ ، هغه

ورخ وی اؤ کۀ شپه ـ تش لاس يئ اؤ کۀ ډک لاس ـ پټ مخ يئ اؤ کۀ څرګند مخ ـ چُوچُو دا خپل فرض ګڼی چې يؤ نظر به تاسو ته ډېر پۀ باوقاره ، وجيهه اؤ بارعبه انداز کښې ګوری اؤ بيا به ببرته خپل سر په زمکه ږدی . دے به څان چرې دَ "غپ" کولو ګنهګار نۀ کړی ، څکه چې چُوچُو په دې خبره ټينګ ولاړ دے چې دَ پښتنو حجرو ته خلق څی را څی اؤ بله دا چې "غپل" دۀ ته هسې دَ سپو کار ښکاری .

دَ چُوچُو دَ شجرۀ نسب په حقله دَ څۀ تحقيق نتيجه به يقيناً چې "تش لاس" وی . بيا هم دا خبره په ډاګه ده چې چُوچُو په نسل نسب "ګوته" دے اؤ دَ افزائشِ نسل په حقله پوهه لرونکی به په وثوق سره بغېر دَ څۀ شک اؤ اعتراض نه په دې خبره متفق وی چې دَ چُوچُو پلار "نر" وؤ . دَ چُوچُو طبعی اؤ جسمانی اثار هم ددۀ په "نرتوب" دلالت کوی . دَ چُوچُو دَ شرافت په حقله خو دَ دې خبرې قسم زۀ خوړے شم ، چې ژوند کښې به ئې چرې په دې نيت غپ نۀ وی کړے . چې دَ لاروی زړۀ ازار شی يا دَ خپل سپيتوب دليل ورکړی . بله دا چې خواؤشا کښې دَ پيش يا پيشو په اواز اوږبدو چې ددۀ سترګې دَ "شراندېشی" کوم تصوير جوړ کړی ، يقيناً

چې دَ امن خوښو په Letter pad به دَ Logo دَ پاره دغې نه لوی شهکار لیوناردو ډېونچي اؤ پکاسو هم روغ نهٔ کړے شي.

دَ چُوچُو دَ تولو نه لوئ صفتونه ددهٔ "لاریبه" وفاداري اؤ "قابلِ اطاعت" خودداري ده. تاسو چې هر خاے کښې هر چا سره ناست یئ، خو دَ چُوچُو په لیدلو سره دَ معظم جان خان په حقله دَ هېڅ قسمه اظهار اراده ملتوی کوئ. ځکه چې په کلی کښې دَ چُوچُو "ظهور" دَ معظم جان خان دَ راتګ "تمهید" وی. پهٔ یوازې خان دَ چُوچُو په نزد دَ حجرې نه وتل دَ ستر ماتولو تعزیر لري.

بې شکه چې دَ تولې دنیا روزی رسوونکے دَ الله پاک ذات دے. دَ رزق روزۍ مخلوق ته دَ رسولو فریضه مقربې فرښتې حضرت میکائیل ته ورکړې شوې ده. په مونږه کښې دَ کورمې کفیل ته "صفتِ میکائیلي" ورکړے شوے وی. دَ چُوچُو دَ پاره دَ میکائیلیت فریضه دَ ښاغلی معظم جان خان دَ کشری زوی عاصم خان ده. دَ چُوچُو خودداری ووینه چې دَ عاصم خان په غیرموجودګۍ کښې به نهٔ دَ چا دَ لاس رزق خلې لره راوړی اؤ نهٔ به خلهٔ دَ چا دَ لاس رزق لره یؤسی. دَ لوږې نه به مړ شي، خو خپله خودداری به په توک نمرۍ خرڅه نهٔ کړي.

PUKHTO.NET

پخپله خکه دَرزق دَ پاره هلې ځلې نهٔ کوی چې دَ "ترکِ دنیا" په اصولو ټینګ ولاړ دے.

سپے کهٔ دَ هر رنګ، نسل اؤ خطې سره تعلق لری، خو سپے وی. هغه کهٔ دَ نمرختیزې نړۍ په جغرافیائی حالاتو کښې ساه اخلی اؤ معاشرت نه ئې اثرات قبلوی اؤ کهٔ دَ لوئېدیزې نړۍ دَ جغرافیائی اؤ معاشرتی' اثراتو تر لاندې ژوند تېروی ـ خویونه، خصلتونه اؤ قدرونه ئې مشترک وی. هر ناشنا څیز ته، هر ناشنا ځاے کښې، هر ناشنا سړی پسې غپ کول خپل "فرضِ منصبی" ګنی (چُوچُو دې نه مبرّا دے)، نور سپی خپته مړولو سره غرض لری (چُوچُو دې نه بې نیازه دے)؛ نور سپی دَ خپل مالک وفادار وی (چُوچُو دَ دې معتقد دے)، نور سپی دَ زوړ مالک په "ګُرې" کولو دَ نوی مالک هم وفادار وی (چُوچُو دَ دې نه مستثنی دے).

دَ یوې ځلې خبره ده، چې یؤ ورانخوښی ابوحنیفه نه پوښتنه وکړه،

"تهٔ ښهٔ ئې، کهٔ سپے ښهٔ دے؟"

ابوحنیفه ورته ؤوې، "کهٔ زهٔ نهٔ یم اؤ دا سپے دَ خپل پالونکی

وفادار وی، نو ما نه ښهٔ دے، کنې نور خو زهٔ اشرف المخلوقات یم".

سائنس ثابت کړی چې دَ سپی په خلهٔ کښې دَ "لعابِ دهن" ماده دَ خنزیر دَ لعابِ دهن دَ مادې غوندې خصوصیات لری اؤ هم دغه دَ سپی دَ ساتلو دَ ممانعت عقلی دلیل کېدے شی چې نجاست ئې ثابت دے .ولې بیا هم دَ څوکیدارۍ په نیت دَ سپو ساتلو علماؤ اجازت ورکړے ، دې شرط سره چې دَ چنو دَ زغلولو نیت پکښې نېکی په سیند ورلې شی.

دَ چُوچُو په حقله مې دا ګمان یقین ته نزدے دے، چې کهٔ دَ اصحابِ کهف ملګرتیا کُتکمیر جنت ته بوځی، نو دَ چُوچُو ګڼ شمېره خصوصیات به هم دے لهٔ دغې څخه نهٔ محرومه وی.

PUKHTO.NET

## مینه

زهٔ یو خودسره سمندر ـ دومره ژور چې زما دننه په زرګونو سونامیانو به سر را پورته کړلو ، خو چا ته به هم ښکاره نهٔ شوې .زما ژورتیا دغه سونامیانې په خان کښې را نغښتلې .

چې په غورځنګ کښې به راغلم ، نو دَ نوح طوفان به په خان وېرېدلو ـ کهٔ دَ موسی دَ معجزې کونتې را کښې لاره کړې وه ، هغه نهٔ شم وئېلې ، ګنې نور خو زما خوا له په راتللو به دَ سلېمان په لښکر هم غونی خېږېدل .

ساحلونو کښې زما دَ حدونو دَ تعین زړهٔ نهٔ وهٔ . خکه چې زهٔ به تر هغې خاـــے خورېدم ، تر کومه چې به زما زړهٔ غوښتل اؤ زما سرکشه چپې چې به تر کومه خایه غځېدلې ، تر هغې به زما غاړې وې اؤ ما خپلو غاړو کښې دَ چا واک نهٔ منلو .

بیا یوه ورخ ـ دَ عرش دَ ادا ـ دَ مقدسې پرخې یو سپېڅلے څاڅکے راغلو اؤ زما هره چپه ئې خوره کړه .

# وېش

سحر زما کوټه کښې دَ قادشيې دَ خاؤرې بوی وهٔ. دَ نمر ځيرې په بند ور خان دَ ور په چاؤدو کښې په زور تومبلې وهٔ. دَ خليل دَ روح دَ ښو اواز ته ما پخبر راغلاست ؤوې. هغهٔ ما ته وې ،
"زما کوټې ته چې فرښته راشی ، نو زهٔ ورته پخوانے نمونځ ؤکړم ، زړهٔ ئې په خاے شی اؤ لاړه شی.....
زما کوټې ته چې شېطان راشی ، نو زهٔ ورته پخوانی ګناه ؤکړم ، زړهٔ ئې په خاے شی اؤ لاړ شی....."

دَ ښېغلې په لاسونو دَ نکريزې دَ بوی غوندې خوشبو چې زما کوټې ته وتله ، نو ما دَ خليل روح ته په مخه ښه ؤوې اؤ دَ خپلې کوټې ور مې بېرته کړو. زما دَ کوټې ور کښې دوه زورَورو زما لارد څارله..... يؤ زما خداے اؤ يؤ زما شېطان.

په نيمه شپه زهٔ دَ ګناه تکل کښې ؤوتم. نيازبين اؤ ښکلی شېطان له مې سترګې تورې کړې ، وېښتهٔ مې ورله غوړ کړل اؤ ځنې مې ورله ږمنځ کړلې اؤ دَ کوټې نه مې ؤنيولو. دَ ګناه په وخت دَ هغهٔ قِچرو سترګو زما جرأت له داد ورکولو. دغه وخت زورور خداے زما دَ تُرخ جېب کښې ؤ.

دَ سحر بانگ سره زهٔ جومات ته روان شوم. نیازبین اؤ ښکلی خدا ے له مې سترګې تورې کړې ، وېښته مې ورله غوړ کړل اؤ څنې مې ورله ږمنځ کړلې اؤ دَ ګوتې نه مې ؤنیولو. جومات کښې مې خان ته مخامخ ؤدرؤلو اؤ په سجیده ورته پرېوتم. دَ هغه نیازبینو سترګو زما رکوع اؤ سجیدو ته په سر دَ مینې لاس راښکلو. دغه وخت زورور شېطان زما دَ ټرخ جېب کښې ؤ.

ټوله ورځ ما خپله ږیره کښې لاس وهلو ،

سترګو کښې دَ ګناه تور مې رنجو کښې نغښتلی وو ،

دَ تندی محراب اؤ دَ سر پټکے مې دَ خپل ایمان تله کښې ایښی وو ،

خلې نه دَ شرابو اؤ وینې وږم مې دَ تقوی په مسواک وینځلو ،

دَ خپلې مور دَ تی شودهٔ ، دَ خپل پلار پښتو ، دَ خپل ورور غوښې اؤ دَ خپلې خور حق مې تالی کښې ایښی لوی بازار کښې خرڅول.......

ما نه چا هم کرکه نهٔ کوله.

# دَ څناورو ښهرې

مونږه دواړو په يوې خاوړې خرپوسې کړې وې ، يو خاے مو پل اخستے وۀ اؤ دغسې مو دَ ژوند په هره لاره برغونے مزل کړے وۀ . زمونږه ملګرتيا هر چا ستائيله . ښکاره خبره ده چې کۀ مونږه هر څومره خواږۀ وو ، خو دوه وو اؤ دَ دوؤ تر منځه نوپير راځي . توپير تريخوالے راوړی اؤ زمونږه تر منځه خوږې ملګرتيا چرې دغه تريخوالے په داګه کېدلو ته پرېښودلے نۀ وۀ . هغه چې دوبۍ ته تللو ، نو په وړومبی ځل را ته دَ خپل وطن دَ نېستۍ احساس ؤشولو . هغه چې دوبۍ ته لاړلو ، نو په وړومبی ځل را ته خان نيمګړے ښکاره شو . هغه ډېر ښۀ دے . وخت په يادونو خاوړو اړولو ته نۀ پرېږدی . اووۀ ورځنی کښې مې پېرد نيمه يادوی . دَ پوخ کور ارمان اؤ دَ ژوند دَ تقاضو دَ بشپړتيا خوبونو را نه دومره لرې بوتلو . چې يو بل باندې مو لکه دَ ورکو يوازې ايمان پاتې دے . کور لپاره کۀ څۀ راستوی ، نو زما په لاس وی . هغۀ به ئې پلار ته "باباجی" وئيلو ، نو ما به



PUKHTO.NET

ورته هم باباجی وئېلو . باباجی چې به دَ هغهٔ یادونو ؤسکوندېلو ، نو ما پسې به ئې استانــے راؤلېږلو . کورودانه ئې زمونږه کاونډی وه . زمونږه ملګرتیا دَ ازمېښت په دې لاره هم بریالی شوې وه . خکه چې کله هغهٔ هم دغه کور کښې دَ خپلوی خبره ما ته ؤکړه ، نو ما دَ پاره دَ ژوند اؤ مرګ خبره شوه . ښکاره خبره ده ، دې کښې ما ته کهٔ په خان پښه اېښودل وو ، نو ما به کړی وو . ژوند کښې تهٔ یوازې هاغه چا دَ پاره دَ خپلې انا په مری لاس اېښودلے شې ، خوک چې دې زړهٔ ته ډېر نزدې وی . ما دَ پاره وروستو کېدل ګران نهٔ وو . خو دَ هغې پوهولو داهر څهٔ ډېر ګران کړی وو . بیا زما نه لوری دَ خان وژلو په دړکې هغې خپل وجود ؤسپارلو . دَ زړونو په حال لوی الله خبر وهٔ . دَ کور ستر مو نهٔ وهٔ ، خو زهٔ چې به کله هم هغوی کره ورغلم ، نو په خپل مخ به مې څو مخونه واچول . دغسې هغه هم وه . ما به هلته ورتګ نه ډېره ځنډېده کوله ، خو دَ هغهٔ له لوری څهٔ سوال خواب لپاره به ورتللو نه بغېر لاره نهٔ وتله . کله کله به دَ زړهٔ قبر کښې پروت نیم مړی ارمان دَ دیدن غوښتنې ور وستلم . ریښتیا ده چې دَ یؤ مُوتی زړهٔ کار بدن ته یوازې وینه ورکول نهٔ دی ، خان نه سل چنده لوی بدن ددهٔ

په اواز خوخوی . زهٔ چې به ورغلم ، باباجی به وې ، "هلکه! دَ خضر ژوند دې د ے . دلته مې په زړهٔ کښې تبر شوې اؤ دغلته تهٔ راغلې ".

دَ هغهٔ زو ے چې ؤشو ، نو زیږ ے پرې ما کړ ے وهٔ . ډیر خوشحاله وهٔ . ما ته ئې وې ، "وراړهٔ لره دې جامې پېزار اؤ نښخکې در استوؤم اؤ زیری دَ پاره ستا کړې هم".
هاغه ورځ چې ما ته دَ هغهٔ راستولې شوې ډالۍ په لاس راغله ، نو زما مور هم زما وړوکی خورئ سره هغوی کره تلې وه ـ زهٔ هم ورغلم . باباجی کور کښې نهٔ وهٔ . هغې ؤخندل اؤ وې چې ، "ښه شوه چې ملګری دې دوه میاشتې پس ډالۍ راؤلیږله". ما وې ، "هغهٔ خوار خو په هم په هاغه ورځ اخستې وی ، خو نزدې به دَ راتګ څوک نهٔ وو . پرد ے وطن دَ بل وطن مرغۍ زر نهٔ پریږدی ". مور مې وې چې ، "زویه! دوبۍ لرې وطن د ے ، اوږده لاره ده". دَ مور په ناجانۍ پسې دَ هغې سره دَ شونډو په سر ما هم ؤخندل . مور مې خورئ سره روانه شوه . هغې وې چې ژمے د ے اؤ ماښام په سر راغلو ، کور به خوشے پروت وی . چې ما دَ باباجی په حقله پوښتنه ؤکړه ، نو را ته ؤ وئیلے شول چې ماسپخین سودا پسې تلے د ے ، شببه نیمه کښې به راشی .

زهٔ دَ باباجی راستنېدلو ته ایسار شوَم . دَ مور تک وهٔ اؤ داسې ګورې وریځې په ګوابښ راغلې چې سکنړے ماښام ئې توره شپه کړه . مونږه سره دَ باباجی غم وهٔ . دَ وریځو نیت څرګند وهٔ ، څکه خو مو برندې نه کوټې ته مخه وُکړه .

باران داسې بد حال راواخستلو ، چې دَ نوح دَ طوفان تصویر شو – بربښنا اؤ ګړز ګړوز راباندې غُونی خیږ کړل . وړوکی هم ډېر ژړل اؤ دَ باباجی په حقله اندېښنو هم متې رانغښتې وې . کور نه دَ بهر وتلو لاره نهٔ وه ، څکه چې غمپې تیارې کښې هر څهٔ پټ شوی وو اؤ بل دا چې تېز جاکړ بجلی هم بوتلې وه . زهٔ څو شېبو دَ پاره برنده کښې ولاړ وُم ، خو دَ وړوکی ژړا اؤ دَ هغې وېرندک اواز سره کوټې ته ورغلم . دَ کوټې دَ پاسه دومره اوبهٔ ډند شوې وې ، چې دَ ناوې په خلې ئې دَ بهېدلو لاره نهٔ موندله . لکه بهر انګڼ په کوټه کښې دننه هم راښکې شولو . هغې سره وړوکے غېږ کښې وهٔ اؤ وې ئې چې خدا‌ے زده باباجی به چرته ګېر شو‌ے وی . ما ورته دلاسه ورکړه ، چې باران لږې ساه اخستلو ته پرېږده – زهٔ به پسې لاړ شم اؤ هسې هم هغهٔ چې باران لیدلے وی ، نو دَ چا سره به ئې سر سیوری ته کړ‌ے وی .

بیا دَ هغې پام اړولو لپاره ما خبره وړاندې بوتلله . ما وې ، "ښه ده ، دَ وړوکې سره به مشغوله ئې ؟"
هغې دَ ماشوم په پستو اننګو لاس راښکلو او بل لاس ئې دَ هغهٔ په مُلا-ایښودلے وهٔ ، چې دې سره ئې غېږ پورې جوښت کړے وهٔ . سترګې ئې دَ هغهٔ په مخ ښخې کړې وې . یا خو ئې دَ خوبېدلې وړوکې اُودهٔ کېدونکیو سلګیو ته غوږ ایښودلے وهٔ او یا ئې زما خبرې له پاره ځواب لټولو ، هېڅ ئې وُ نهٔ وې .
لږه شېبه وروستو ما بیا راولټوله ، "څهٔ دې وُ نهٔ وئېل ؟"

دَ هغې شونډې وُ رپېدلې - اواز ئې را نغلو . وړوکے ئې رو غونډې خوا ته خملولو او وې وئېل ، " اوس خو وختونه تېرول ، مشغولتیا ..."

په هغې ځاځکے وُشو ، دې سره دَ هغې خبره غوټه شوه . هغې زر دَ وړوکې په لورې وُکتل او وې لیدل چې چرته په هغهٔ خو څڅوبے نهٔ کېږی .

زما زړهٔ مېږی مېږی شولو - ما ورته وې ، "تهٔ اوس جینۍ نهٔ ئې ، مور ئې ".

دَ باران ورېدلو زوږ او دَ ناوې شړاپې داسې ښکاری چې نیمګړے وهٔ . دې سره دَ هغې سلګۍ هم ملګرې شوې . هغې دَ

وړوکی په سینه لاس کېښودلو اؤ زۀ هغې ته لږ نزدې شوم ، ما دَ هغې لاس خپلو لاسو کښې واخستلو ـ دې سره دَ هغې سترګې هم ؤ ورېدلې ـ دَ وئېلو هېڅ نۀ وو . ما ته احساس ؤشولو ، چې دَ ایرو لاندې اُودې سپرغی بیا را ویښې شولې . ما دَ هغې لاس پرېښودلو اؤ هغې خپل زړۀ سپک کړلو ـ زۀ هم تېرو وختونو خان سره یوړم . اوس نۀ ما سره دا غم وۀ ، چې بهر باران دَ دنیا ورانولو ته مُلا تړلې وه اؤ نۀ مې دا یاد وو ، چې باباجی دې جاکړ اؤ جړی کښې کور نه بهر لاندې وتلے وۀ .

هغه ناګهانه ما ته داسې را تر غاړه وتله ، چې زما ټول بدن ئې ؤجړقولو . هغې سلګی وهلې اؤ وې وئېل چې تا زما بې وسی نه غلطه فائده پورته کړله . دَ خان وژنې په دړکه دې پخپله ملکرتیا کښې خان هسکه غړی کړلو اؤ زۀ دې په ژوند مرګ ته ؤسپارلم ـ داسې مرګ چې هره شېبه یؤ نوی رنګ سره راځی . دَ هغې بدحالی ته په کتلو سره زما زړۀ هم نرے شولو . ما هغه خان ته راجوخته کړله . هرې سلګی سره به ئې زۀ داسې کړم ،لکه چې انسان دَ مسلسل اذیت نه وروستو دَ سکون ساه واخلی . ما هم دا غوښتل چې هغه دغسې سلګی وهی اؤ دا تسلسل په خاے ؤساتی . دې سره سره زما اوښکې هم

بهیدلې . دا لا کوم احساس دے؟ سلګیو کښې سکون اؤ اوښکې هم؟ ما سره دومره وخت نۀ وۀ ، چې په دې مې سوچ کړے وۀ .

زۀ نۀ یم خبر چې کله ، خو دا وئیلے شم ، چې کله هغه ما ته را غاړې وتله ، دغې نه وروستو زما ضمیر اؤ سود بود ساه ورکړله . خان مې له لاسه ؤ وتلو . څو شېبو پورې مې ایمان په دې ټینګ وۀ ، چې هغه به مې لاره ؤنیسی . هغې هم خان نه لاس اخستی وو . اؤ دغه رنګ دواړه دَ خپل هوس پښو کښې نسکور پرېوتلو . زما وجود سره دَ لمس په هره لمحه به دَ هغې ساه ژورېدله . زمونږ دَ ساګانو شور کښې دَ چاګړ اؤ ګړز ګړوز اواز ډوب شولو . دَ هغې شونډې چې زما په خلۀ کښې ؤخښېدلې ، نو ما په ورومبی خل دَ خوږو معنا ؤپېژندله ـ دَ هغې دَ بدن لمس په جنت زما یقین پوخ کړو ـ ګناه دومره خوندوره کېدې شی ، دا ما په ورومبی خل ؤلیدل . هغې به دومره زور سره زۀ خان پورې جوخت کړم ، چې ما وې ، دغه دے وجود مو یؤ شو. وخت تېرېدو سره دَ هغې خوا لکه چې مړېدله . دَ جذبو څرګندولو هاغه شدت ئې کښېناستلو . ما هم دَ

خپل وجود تول قوت پخپلو ولو محسوس کړلو اؤ بیا زهٔ هم دَ سیالۍ له بامه پرېوتلم.

مونږه یؤ بل سره غاړه غړۍ پراتهٔ وو اؤ چې سترګې مو ؤغړېدلې ، نو نمر سترګه غړوونکے وهٔ .یؤ هېبت سره زهٔ له کټه راجګ شوم .ما سره هغه هم کاواکه راپاڅېدله .وړاندې له دې چې مونږه څهٔ وئیلی وے ، مخامخ لګېدلې هنداره کښې مو خپلو څېرو ته پام شو .زمونږه څېرې دَ ځناورو وې .دَ وېرې اؤ هېبت چغو سره دَ هغې وړوکے زوے هم په ژړا شو.

مخامخ په تاخ کښې زما دَ خوږ ملګرې تصویر داسې کتل ، لکه چې دَ خپل ناموس اؤ غېرت پالنه کوی اؤ وړوکی داسې ژړل ، لکه چې دَ مور نه دَ مقدسو اؤ سپېڅلو شودو غوښتنه کوی ـــ کوم چې اوس مقدس نهٔ وو.

PUKHTOON.NET

# غــلا

دَ غلا بنیاد دېر پخوا ایښودے شوے وۀ . دا دَ هاغه وخت خبره ده چې کله انسان په سپوږمۍ ځۀ ، دا خو پرونۍ خبره ده ، لا په زمکه هم قدم نۀ وۀ ایښوډلے . کله چې شېطان دَ عرش دَ راز غلا وُکړه اوُ په نتیجه کښې ئې زمونږ نیا نیکۀ له جنته څخه بې دخله کړے شول . په زمکه دَ انساني جسم وړومبۍ غلا بلکې "شُوکه" هاغه وخت وُشوه ، کله چې کارغۀ یوُ وړور ته دَ بل وړور دَ مړی دَ خاوُرې لاندې کولو چل ښودلو . بیا هاغه وخت هم راغلو چې کشتۍ کښې په غلا دَ ناستې هڅه وُکړې شوه . ښکلے وړور هم کوهي ته وُغورځولے شو اوُ یوې فرښتې دَ غورځوونکو نه هم په کوهي کښې پټ وُساتلو . هم دغه وړور دَ عزت په شُوکه تور شو اوُ دَ کویا ماشوم په ګواهۍ سپین شو ، چې وروستو ئې دَ ځکه پلار سره لیدلو دَ پاره دَ غلا دَ الزام ملاتړ واخستلو .

بیا خو په رښا ورځ غلا پېل شوه اؤ دَ خدایي دعوی کوونکی باچا په کور کښې په غلا دَ هغهٔ دَ دښمن پالنه کېدله .

وخت تېرېدو سره داسې وخت هم راغلو چې دَ لوی خدایے نه خلقو دَ "خالی" ورځې دَ پاره غلا ؤکړه ، اؤ دَ (کُونُوا قِرَدَةً خسِئِیْن) سزا ئې ؤموندله .بیا دَ افلاطون دَ علمی دربار نه دَ علم غلا ؤشوه . په هر مېدان کښې دَ مختلفو مادی اؤ غېرمادی څیزونو غلا داسې رواج ؤموندهٔ اؤ داسې مهارت پکښې تر لاسه کړے شو ، چې دَ ویښو مېندو نه بچی تښتول پېل شول .کهٔ مني هر څو دَ شمېرې وې ، خو تیاره کښې په بډه کېدلې .تر دې چې خلقو اُوښان په بډه کړل .دَ هر ورځنو ضرورتونو دَ پاره دَ پېسو ټکو دَ غلا نه علاوه غلا دومره زور شوه چې دَ غل دَ باچایي له وېرې ئې چا ذکر هم نهٔ شو کولے .ځکه چې "پټ غل" ته "باچا" نوم ورکړے شو ، بلکې "دَ تورې شپې غل" ته دَ "سپینې ورځې دَ باچا" په خطاب سره درناوے ورکړے شو. باچا هم اُمر باچا ـ اؤ لوی الله نه په نمونځ کښې غلا ، خو زیاتره مُلا هم کوی اؤ مقتدی هم ـ

قران پاک دَ (اَلْسَارِقُ وَ السَارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَیْدِیْهِمْ) سره دَ غلا کوونکی اؤ غلا کوونکې سزا ؤښودله .لاس پرې کول دَ انسان

نه وزرې پرې کول دی، چې تول عمر لپاره ئې محتاجي ته وسپاري . دَ قران دَ تعزيراتو فلسفه، حکمت اؤکمال هم دا دے چې دَ انسان دَ فطرت سره سمون خوري . څومره چې تعزير سخت وی، دومره دَ جرم شرح کمه وی . پاکستان کښې له بده مرغه دغه تعزيرات ته هډو ائين کښې ځائے ور نهٔ کړے شو . کهٔ ريښتيا خبره شي، نو څوک هم "خان" دَ پاره سخته لاره نهٔ خوښوی . څهٔ ائين جوړونکی پخپله ښهٔ وو اؤ څهٔ ايمنسټي انټرنيشنل رپورتاژو دغه لاره ونيوله . اوس په غلا کولو غل شببه نيمه جېل کښې تېره کړی يا نهٔ اؤ ۱۰۷ دفعې سره خپله غاړه ازاده کړی، هغه هم هله دغه نوبت راځی چې کهٔ پوليس ماما لره په وخت تلے ګرم نهٔ کړے شي .

شيکسپئير دَ غل په حقله وئيلی وو، "کهٔ څوک يوه روپۍ پټه کړی اؤ کهٔ يؤ سل زره، خو هغه غل دے، دَ سزا مستحق دے".

جارج برنارډشا ورسره ډېر زرهٔ پورې اختلاف داسې څرګند کړے، چې "دَ يوې روپۍ غل غلا کړې ده اؤ بايد چې سزا ورکړې شي . دَ سل زرو هغه غل نهٔ شی کېدلے، بلکې هغه فنکار دے اؤ دَ انعام جوګه دے". دَ غلا دَ مزاج په پوهېدو

PUKHTO.NET

هلته مغرب دَ "ښک وبلیوټ" اؤ "جیول تهیف" کرداروته تخلیق کړل اؤ مشرق په باهمی مفاهمت سره دغه کرداروته دلته نافذ کړل. پېړۍ تېرې شوې چې مشرق الله پاک دَ تخلیق دَ سرخوړۍ نه ژغورولے دے. دا ښيځ اوس دَ نمردیزې نړۍ په سر دے اؤ نمرختیزې نړۍ ته تش روند تقلید کول په سر دی.

دَ یوې غیرجانبدارې څېړنې له مخه تهذیب ته راتګ نه وروسته چې غلا دَ خپلو ګنو مخونو سره څومره وده کړې ده، دومره ښخونې فېشن هم نۀ ده کړې. نن سبا غلا دَ خپل پرمختګ په هاغه لوړ مقام ولاړه ده، چرته چې دَ سیاسی، ثقافتی، ادبی، دفاعی اؤ اېتمی رازونو غلا وده موندلې ده اؤ په نړیوال کچ ئې دَ مخ نیوی دَ پاره ادارې جوړې کړې شوې دی (دا بېله خبره ده چې زیاتره په دې غلاګانو کښې دَ غلا نیونکو لاس ککړ وی).

دَ ډالرو دَ لوی ګیډی تر مخه دَ نوې ټېکنالوجۍ تر لارې دَ اېتمی رازونو پټ خرڅ، دَ hacking په ذریعه دَ یوُ بېنک اکاؤنټ نه بل بېنک اکاؤنټ په "برېښنائی غلا" (Digital robbery)، سیاست کښې دَ مفاهمتونو په ترڅ کښې دَ اولس په "ډاډ" دَ اولس نه غلا کول څرګند دی.

په ثقافت کښې مروج الوقت غلا ته که هر څو دَ "جدیدیت" یا "Adoption" نوم ورکړے شوے دے، خو سترګې بیا هم دَ حقیقت نه پټول ګران دی. دا لوی ثقافتونه وی، چې واړهٔ ثقافتونه وړی کړی ـ بربنډ کړی ـ غلی کړی اؤ بیا ورته دَ خپلی خوښې فاسټ فوډې ورکړی ـ دَ خپلې مرضۍ shorts ور واغوندی اؤ پخپل شور باندې ئې اخته کړی. دغه رنګ لوی، زر اؤ زور لرونکی ثقافتونه واړهٔ، بې زره اؤ بې زوره ثقافتونه دَ خپلې لمن لاندې پټ کړی، خپل رنګ ورکړی اؤ په خپله ژبه ئې را واړوی. هم دا سبب دے چې اوس دَ مکې، استنبول اؤ دَ نیویارک اؤ دَ تل ابیب دَ نوی کُول تر منځه توپیر کول ګران شوی دی. دَ جدیدیت هوا دَ پېښور اؤ کابل پټکی، بورقې اؤ پړونی پسې هم لاس اُوږده کړی دی، خو دَ لوی الله شکر دے چې لا بدرنګه رجعت پسندی اؤ قدامت خوښی ساه اخلی.

دَ ادب په مېدان کښې کېدونکې غلا زما تر خیاله که ډېره شدیده نهٔ وی، بیا هم ډېره "متشدده" ضرور ده. داسې غلا کښې هېڅ قسمه زر اؤ مال ته دَ نیت اوبهٔ نهٔ خړولے کېږی، بلکې دَ احساساتو غلا کېږی ـ دَ نظریاتو غلا کېږی ـ دَ

تشبیهاتو غلا کیږی . غلا دَ خپل هر مفهوم اؤ هر انداز سره حرامه وی . ادبی غلاګانو کښې دَ څهٔ جُزیَاتیٔ یا جُزُالْجُزیَاتیٔ غلا نه علاوه بعضې وخت دَ یؤ تخلیق یا فنپارې "کُلیٔ" غلا هم واقع شی . دا غلا دومره سپینه اؤ په ډاګه وی ، چې دَ هیراندی یوه اوسیدونکې به ئې له خپلهٔ خانه هم ؤ نهٔ کړې شی . هم دَ داسې پیښو مخ نیوی لپاره په بین الاقوامی کچ "کاپی رائټ ایکټ" وجود کښې راوستلے شوے دے .تر نبه دَ دې ایکټ یوه فائده په نظر راغلې ده اؤ هغه دا چې په کتاب ، البم یا په بله داسې تولګه ؤلیکلے شی چې "جُمله حقوق محفوظ دی"۔ ولې بیا هم شوشې ، ګیلې اؤ اعتراضونه هاغه رنګ دی ، لکه چې وو .

زهٔ کله نا کله پخپله فکر کؤم چې کېدے شی حکومت ته دَدې شخړې هوارې دَ پاره دَ یؤ قرارداد څخه وروستو تحریری خواست ؤکړے شی ۔ کېدے شی (خاکمِ بدهن) واکمن پرې (بیا خاکمِ بدهن) غوږ هم ؤکړوی اؤ دغه رنګ دِ فنانس منسټری (یؤ خل بیا خاکمِ بدهن) دَ توثیق نه وروستو "محکمهٔ انسداد سرقهٔ شاعری" جوړه کړے شی ، خانګړے لښکر (Special Force) "نازل" کړے شی . هسې هم دَ قامی

PUKHTO.NET

خواکونو مشران (بې له څۀ توپيره) کۀ اوسنی دی اؤ کۀ پخوانی ، دَ سرحدی کرښو په ځاے دَ ملک دَ هرې لوې ورې محکمې پام لرونکی شوی دی ، نو کېدے شي حکومت ئې په دې کښې هم بوخت کړی . کېدے شي بيا مونږه ته دَ دغې محکمو دَ چارواکو لخوا دا ډول خبرونه په غوږو راځی ، چې "فلانکی يا فلانکې دَ فلانکی يا فلانکې شعر ، غزل ، مرثيه ، قصيده ، تکل ، رپورتاژ ، ناول ، افسانه ، انشائيه وغېره يا دَ شعر ، غزل ، مرثيې ، قصيدې ، تکل ، رپورتاژ ، ناول ، افسانې ، انشائيې وغېره څۀ خيال ، څۀ برخه يا پوره په پوره تخليق پټ کړے دے". دې ډول خبرونو سره به دَ تانو کچېرو په انګڼونو اؤ کوټنو کښې تودوالے هم راشي اؤ ديوانی مقدمې به دَ هائي کورټ سپريم کورټ پورې بازار هم تود کړی .

حقيقت خو دا دے چې دا ډول واقعې به دومره شمېر سره مخې ته راشي چې دا انديښنه به ؤزېږېږی چې حکومت به دَ بدن دَ "ناسُورِيافته" برخې دَ دارو په ځاے دَ هغې دَ بيخی جرړې خبلې څخه دَ ويستلو لاره غوره کړی اؤ دغه رنګ به "محکمۀ انسداد سرقۀ شاعری" دَ يۀ ائينی ترميم تر لارې "محکمۀ انسدادِ شاعری" کښې تحليل کړې شي (پاکستان

کښې ائینی ترمیم دَ واک واکې لاس کښې اخستلو نه وروستو تر ټولو اسان اؤ کثیرالاستعمال کار دے). "دَ ټولنې سټرګې" به ؤتړلے شی. دا منم چې دَ زړهٔ چاؤدون په سبب بهٔ دَ مرګونو شرح کښې لږ ډېر زیاتوالے راشی، ولې بیا هم دَ ټولنې ډېرو سټرګو دَ "جمالیاتو" په نوم دَ "جنسیاتو" روزګار پېل کړے دے، کوم شاعران چې دَ "تَلَامِیذُالرحْمَان" په خاے دَ سُوْرَةُ الشُعَرَاءِ دَ مفهوم تر مخه حرام دے.

مونږه یؤ داسې دور کښې ساه اخلو، چې هلته زمونږ نه ګېرچاپېره دَ غلاګانو یؤ جال خور دے. دَ "چوپال" نه تر "محله"، دَ "ګناه کدو" نه تر منبره" ــ هر سړے تر خپله وسه غل دے. یؤ لاس وړاندې وړئ اؤ بل وروستو ــ ډېر اُودهٔ کېږئ مهٔ! (هسې نهٔ چې تل مو دَ مېښو نر کتی کیږی) ــ دَ بهر غَل نه زیات د خپل کور بېدی دَ سټرګو لاندې ساتئ (ځکه چې بېدی دَ کور وی، نو کندر کول اوبهٔ ځښکل شی).

دَ لوی الله پناه غواړم ــ خان دَ پاره، تاسو دَ پاره اؤ ټولې نړۍ دَ پاره ــ هر هغه نظر نه چې غل وی اؤ هر هغه زړهٔ نه چې غلا پکښې وی.

PUKHTO.NET

# بلـنه

تهٔ دَ اسمانونو غېږه کښې اوسېدونکې دَ رڼا وړانګه ئې اؤ زهٔ په زمکه پرته یوه لپه سپېره خاؤره یم. دَ اسمانونو غېږه پرېږده اؤ دَ زمکې په لور راشه ، چرته چې یوې لپې سپېرې خاؤرې ستا دَ لمس تکل کښې په زرګونو کلونه تېر کړل. ستا په لاره کښې راتلونکی ستوری دَ خپل قدم ښکولولو باندې ؤنمانځه ، چې دوی هم دَ تیارې نه رڼا ته راشی. لرې نهٔ ده ، چې دغه ستورو کښې یؤ زما دَ برخې هم وی.

نېغه راځه!

په لاره کښې پښه نیولې نهٔ شې!

PUKHTO.NET

په زمکه زهٔ ستا دَ لارې څارلو تکل کښې ورو ورو روکېږم. دَ اندېښنو بادونه الوځی اؤ زما دَ وجود څهٔ ذرې خان سره دَ ګوتې نه نیولې بوځی. دَ زړګونو کلونو دې زړهٔ چاؤدې لارڅارنه کښې زهٔ کهٔ اوس هم یم ، نو دا ستا دَ وجود دَ لمس په تلپاتې ژوند باور دے.

نېغه راځه!

په لاره کښې نوره پښه نیولې نهٔ شې!

چې ما ته راؤرسې ، نو په ما راخوره شه!

زما دَ ذات هرې ذرې ته غاړه ؤځه!

زما دَ ذات هره ذره پخپل لمس پیاوړې اؤ سپېځلې کړه!

زهٔ یوه لپه سپېره خاؤره یم.....

زهٔ دې یوه ذره شم.....

خو زما تړون ستا دَ سپېځلې رڼا سره ؤکړه!

# علی بابا اؤ يؤ څلوېښت غله

هفهٔ چشمې داسې په پوزه سورې کړې وی، چې دندری ئې غوړونو ته غزېدلی وی. ساده اؤ درنه جامه اغوندی. په وړومبی ځل لیدونکی خو ئې دَ کلیٔ روشن خیاله مُلا کنی. روشن خیاله دومره دے، چې دَ خپل اختلاف سره دَ بل خبره هم اؤری. ښه خبره په دومره مهارت سره کوی چې ډېره بده نهٔ ښکاری. بده خبره منی نهٔ چې دهٔ کړې یا کوی. دَ بل خبره دومره انهماک سره اؤری، چې ویونکے خوار له ډېرې حیا غلے شی. په مینه خبره هم داسې کوی، چې دَ هفهٔ دَ جسمانی حرکت نه به ئې تصدیق کوې. دومره په خوند خبره کوی، چې مخامخ ناست اؤرېدونکے، اؤرېدونکې یا اؤرېدونکی ساه هم اخستلې شی. دلیلونه ورسره دومره ډېر دی، چې اکثر دلیل هم نهٔ پوهېږی، چې په څهٔ خبره ئې "ورکړم". خبرې نه وروستو داسې معنوی چپتیا خپله کړی، لکه چې پخپله هم نهٔ وی پوهه، چې څهٔ ئې ؤوئېل. څومره چې خبرو کښې دَ "زوَر

زہر" خیال ساتی ، دومرہ پہ "خیال" کښې دَ زوَر زہر منونکے اؤ قائل دے . پہ غبر ادبی خلقو کښې چې څومرہ ادبی ښکاری ، دې نہ زیات پہ ادبی خلقو کښې "مؤدب" دے . تنقید پہ دومرہ ارتکاز سرہ کوی ، کۀ دومرہ ارتکاز سرہ ئې اعتکاف وُکړو ، نو بلہ ورخ بہ ترې تصوف لرہ خلق لاس نیوہ کوی . تنقید ئې دومرہ تعمیری دے ، چې زیاترہ شاعران ادیبان ئې خوا لرہ لہ دې وېرې نۀ ورخی ، چې هسې نۀ مونږہ ترې "تعمیر" شو .

تندے ئې تل روښانہ وی اؤ بیا هاغہ وخت خو ډیر وی ، کلہ چې ئې خوا کښې څوک نۀ وی . خوا لرہ چې ئې ورخې ، نو یا بہ دَ کشور سلطان غوندې "پردہ پوخہ" ورخې اؤ یا دَ مسرت شاهین غوندې "ډېرہ شوخہ" ــ "منځګړی" (زما مطلب قطعاً منځګړے جنس نۀ دے) دۀ سرہ ایسارېدلے نۀ شی . دَ پټو (تصویر) جوړولو داسې هنر ئې لاس کښې دے ، چې کۀ انسان دَ سلو کلونو هم شی ، خو پټو کښې دَ هاغہ عمر ښکاری ، ګوم عمر کښې چې ئې تصویر ویستے وی . لویہ خبرہ دا دہ چې کۀ دۀ نانا پاتېکر لرہ تصویر ؤ ویستلو ، نو هغہ بہ دَ ایشوریہ رائے نہ زیات ګلیمرس ښکاری (دَ شکل و شباهت تر

PUKHTO.NET

حده پورې).

کاذې چلولو باندې ئې دومره لاس بر دے، چې کاذے خوار ددهٔ دَ اجازت نه بغېر ړق وهلے نهٔ شي اؤ خدا ے مهٔ کړه کهٔ ړق ؤ وهي، نو بیا شکر په دې ؤباسی، چې دَ اؤرېدلو نظام پکښې نشته. دوډۍ خوړلو کښې نمړۍ دومره نفاست سره اخلی، چې په نمړۍ ئې دَ ګُتو نخښه قدرې نهٔ پاتې کیږی. لکه دَ سوې دَ شونډو په سر خوراک کوی، خوړل داسې کوی لکه چې ډېر وخت دَ حکومتی دلې غړے پاتې شوے وی. مېلمه پاله دومره، چې مېلمه پخپله دا ارمان ؤکړی، "کاش! چرې زما مېلمه شوے!"

دهٔ لره راتلونکی زیاتره مېلمانهٔ یا خو هاغه وی، کوم چې دَ خپل پښو ویستلو لپاره ددهٔ خوا له راځی اؤ یا دَ شاعرۍ اؤ ادب سره اړیکې لرونکی خلق. مونږه ددهٔ پېژندګلی دَ محمد علی علی په نامې سره لرو، خو زهٔ ورته ' ِ بابا وېم. پخوا علی بابا سره څلوېښت غلهٔ به تاسو اؤرېدلی وی. دَ فوتوسټی دې ماډرن علی بابا سره یؤ څلوېښت غلهٔ دی ــ یؤ څلوېښتم پخپله دے. زهٔ ور سره تر خپله وسه ډېره ناسته په دې غلا کؤم، چې کهٔ یؤ څلوېښتم زهٔ شم.

# زغم

زۀ په دوېمه درېمه ورځ خامخا دَ هغۀ مېلمه کېږم ـــ يو سبب ئې دا دے چې دَ هغۀ دَ لاسو پخلے ډېر خوږ وی او دا چې زۀ هم په خېټه لږ زيات مئېن يم . زۀ چې کله هم دَ هغۀ ډېرې ته ورشم ، نو هغه څۀ نا څۀ کار کښې بوخت وی او چې زما ښکالو واؤرى ، نو يو لاس پورته کړى ـــ په مخ ئې يو رونق راشى ـــ نسوار يو اړخ ته ؤتوکى او په زوره ؤوائى ، "پخير پخير حيات خانه! خدائے شته چې اوس مې زړۀ کښې تېر شوې".



PUKHTO.NET

نن چې زهٔ ورغلم ، نو هغه خلافِ معمول ؤزګار ناست وهٔ . يؤ بالښت ئې سر ته پروت وهٔ چې دَ هغې سره ئې يؤ څنګل هم ملګرے کړے وهٔ اؤ دَ کټ په پيارمه ئې دوه بالښتونه دَ غزېدلو پښو لاندې کړی وو . دَ هغهٔ په مخ لکه دَ صحرا هېڅ تاثرات نهٔ وو ، خو دَ ژور فکر يوه بې ترسه سيلۍ يا لکه دَ غم يوه بې درده شپه چې ئې په مخ دېره شوې وه . زهٔ په دې منظر لږ پښه نيولے شوم . دغه وخت ئې په ما نظر ؤلګېدلو . په يؤ اړخ شولو ـ کوم لاس چې ئې دَ سر نه لاندې وهٔ ، هغهٔ باندې ئې دَ بدن زور ورواچولو ـ پښې ئې پاڅېدلو ته راغونډې کړلې ـ دوېم لاس ئې پورته کړلو اؤ لکه دَ نور کله نهٔ ، خو بيا ئې هم قدرې په زور ؤوې ، "پخېر پخېر حيات خانه! خدائے شته چې ....." ، اؤ دې سره دَ فوَن په تلۍ اؤرېدو ئې فون کاواکه غوږ له يؤړلو اؤ وې ، "هلو! څنګه چل ؤشو"؟

دَ بل اړخ خبرو اؤرېدو سره سره ئې توپۍ دُ سر نه لرې کړه ، خوا ته ئې کښېښودله اؤ رو غونډې ئې تندے ؤګرولو . بيا ئې ؤوې ،

"خه يره! خدائے پاک به پې زما دَ لاسه خاؤره نهٔ وه ليکلې نو . ...."

فون يؤ اړخ ته ايښودلو سره نبغ ؤدرېدلو ـ توپۍ ئې بيا په سر کړله اؤ ما ته ئې ؤوې ، "حيات خانه! را لې ؟"

دې وېنا سره چې هغهٔ کومه موسکا ؤکړله ، نو زهٔ پرې پوهه شوم، چې هغهٔ دغسې موسکا دَ پاره په خان خومره جبر کړے وهٔ . زهٔ ئې کلک غېږه کښې ؤنيولم اؤ بيا ئې ؤوې ، "يره حيات خانه! وايه کنه! ښه ده چې رالې مړه! يوازې ناست ؤم".

هغه يوه کمپنۍ کښې فوکلېن اپرېټر دے اؤ استوګنه ئې بيخی يوازې ده . زهٔ دا منم چې دَ مسافرۍ ژوند کهٔ هر څو يؤ عذاب دے ، خو دې کښې خانګړې وختونه دَ عذابونو عذاب وی ، هن! کاکا به څکه دا عذاب ډېر کم محسوس کړے وی ، چې هغهٔ دَ خپلې ډېرې نه خپله دَ ګنداؤ ډېره جوړه کړې وی ، هر وخت مېلمانهٔ ورسره وی . نن ما په ورومبی څل دَ هغهٔ نه واؤرېدهٔ چې ، "..... مړه! يوازې ناست ؤم". هغهٔ کښې بله خوبی دا ده چې يؤ خوا به ور ته په سی دی سندرې يا فلم کېږدی اؤ بلخوا در ته پخپله قېصه شروع کړی . بيا خوښه ستا ده چې غوږونه سندرې يا فلم ته ږدې اؤ کهٔ کاکا ته غوږ کېږې . ما چې دَ کاکا پحقله دا څل کوم بدلون محسوس کړے وهٔ ، نو

ژړهٔ کښې مې راغلل چې پوښتنه ترې وکړم، چې "کاکا! خبر خو دے کنه؟"

ما لا خلهٔ خبرې ته سموله، چې کاکا را ته ووې، "حیات خانه وایه کنه مړه! ښکا مې ستا دَ هغه مدهورې ګډاګانې راوړې دی، خو اڅو جوړ شوے ور ته نېم. تهٔ کښېښنه چې دا وګورو". ما دَ څهٔ وئېلو اراده وځنډوله، ځکه چې کهٔ څهٔ داسې دَ پرېشانۍ خبره وه، نو هغهٔ به ما ته پخپله وئیلی وو اؤ سندرې به ئې نهٔ لګولې. بیا دے ما ته مخامخ کټ کښې ډډه شو اؤ وې ئې،

"حیاته خانه! وایه کنه مړه! زما نیکهٔ دې خدائے وبخښي. دَ هغهٔ هم ستا په شان خوی وهٔ. تهٔ په دې هندۍ جینۍ مئېن شوے ئې اؤ زما نیکهٔ په بدرۍ جماله ښاپېرۍ باندې".

ما تی وی ته کتل، خو دهٔ ته مې هسې ووې،

"په بدرۍ جماله؟"

"اؤ کنه یره! هغه زما څکه نیکهٔ نهٔ وهٔ. زما دَ پلار ترهٔ وهٔ. پلار مې را ته وې چې هغه په بدرۍ جماله ښاپېرۍ مئېن شوے وهٔ. بیا پُوخوا په زمانه کښې په یکه غونډ کښې یۆ ملک وهٔ. دَ هغهٔ دَ لور دَ ښائست ډېرې قېصې خورې وې. زما نیکهٔ سره پخپله

دوه مَلَکۍ وې . خلقو ور ته وې چې دَ دغه ملک لور ډېره ښکلې ده . تهٔ ئې وګکه اؤ دا بدرى جماله ښاپېرۍ خو هسې خیالي قېصه ده .اصلي بدرى جماله خو دا ده .

هغه وخت کښې دَ انګرېزانو اُوګومت وؤ . وېل حالات ډېر خراب وو .لکه خو کهٔ اوس وګورې ، نو خو هم هغه چل دے . مخکښې انګرېزان اؤ پښتانهٔ جنګېدل اؤ اوس زمونږ خلقو په يؤ بل پسې توپکونه راخستي دي .يؤ پوخي شوے دے اؤ بل شرخوښے شوے دے .زهٔ اؤ تهٔ په منځ کښې دَل شو .اؤ والله خو کهٔ وګورې نو غريب سړی ته چل دے .خو تهٔ به وے چې په دې ساؤدی آرب کښې تهٔ وګوره زهٔ کلی ته تلم خو کفیل مې نشته اؤ پاسپورټ دَ هغهٔ سره دے ....."

(هغه تل هم دغسې خورې خبرې کوی اؤ زهٔ ورته تل دغسې دَ ضرورت مطابق "ښه" يا "نه" کؤم . يؤ خل ور ته دَ ضرورت مطابق وګورم اؤ بیا تې وی کښې سترګې ښخې کړم)

"نو حيات خانه! پرون مې يؤ زوے وهٔ ـــ اوس داسې غټوکے ؤ ـــ خدا ے شته زهٔ په دې شيُونو نهٔ پېږم ، خو ورور مې وې چې اتم کښې سکول وئ اؤ چې پاس شی نو دَ کلی دَ ډاکټر سره به چل زده کولو ته کښيني ـــ سکول نه راتلو چې په کولو

لګېدلے دے . وئ ریډی ریډنګ اسپتال ته ئې وړے ؤ خو مړ دے".

زۀ نېغ کېټ کښې کښېناستم ـ ما وې ، "دا کله ؟" اؤ سترګې اؤ خلۀ مې دَ خوب په انتظار کښې واز پاتې شو .

"دا پرون مړه ! زۀ نن تلم خو پاسپورټ نشته . پُوخُوا به انګرېزان وو ، نو غَل به ښکاره وۀ . اوس خو ....."

هغه پاڅېدلو اؤ انغری طرف ته ئې په تللو کښې ؤوې ،

"پرېږده مړه! زۀ تا له دوډۍ راخلمه . چاے به وروستو ؤڅښکو".

هغۀ نورې خبرې هم کولې ، چې لکه دَ کنکوسو زما غوږونو له راتلې ، خو زۀ پرې نۀ پوهېدم . تۍ وی کښې څۀ وو ؟ دې تا ما نۀ کتل خو څۀ سازونه اؤ اوازونه مې غوږونو له راتلۀ اؤ سترګو مې دَ کنداؤ په لویه ډاګه کښې یوه جنازه لیدله .

# جاکړ مُلا

جاکړ مُلا ته دې لوی خدا ے هم بېګا له نمرخاتهٔ نه نمرپرېواتهٔ پورې قبر ارت ببرت کړی اؤ چې هم بېګا له ئې په وراندې دَ حُورې دَ غاړې نه امېل ؤشلیږی ، په ریښتیا جاکړ دے ــ چې جوش کښې راشی ، نو بیا دې ته نهٔ ګوری چې دَ چا یې وسه چوپال ئې په سر راخستے دے ــ دَ خان دَ محل دړوالونه ئې ؤجړقول اؤ کهٔ دَ خدا ے دَ کور منارې ئې ړنګې کړې .لکه دَ شینولو سر نا ګس ؤوائی ، بیا چې څوک ئې مخې ته ورغلو ، هغه ئې نهٔ شی خوځولې .

دَ اېم اېم اے (مرکزی مجمعِ عمائم)په لویه غونډه کښې ئې ؤوې ،

"دا ټول مسلمانان ورونه دې ، خو دا قاضی خېل ئې تربوران دی".

قاضي خبل ئې سکوټ له اسلامه په ويستلو کښې پاتې شول ، خو البته دَ فاسق اؤ فاجر په نومونو ئې فائز کړلو .

دَ ماسخوتن نمونځ پسې ئې چغه کړه ، "لعنت شه! بيا لعنت شه چې سحر بانګ ؤشي اؤ دا پاختر اودهٔ ونی . يؤ مسلمان جګ نهٔ شهٔ ، چې راشي اؤ بانګ ؤکړی .مُلا پړ دے . دا دَ اخيرۍ زمانې مسلمانان به راويښوی".

ما وې ، زهٔ ورته وېمه ، چې دا خو دَ پخوا راهسې دغه رنګ روانه خبره ده .مُلا دَ چرګ په بانګ پاڅی اؤ مسلمان دَ مُلا ــ مسلمان په مُلا پسې دے اؤ مُلا په چرګ پسې .

دَ جمعې خطبه کښې خلق په دوېم بانګ جومات ته مخه کړی ، خو دَ اختر په ورځ څهٔ کولے شی؟ دَ اختر په ورځ هم دِ اووهٔ دوزخونو نومونه ، دَ هغوی ژورتيا ، په هغوی کښې دَ درجه حرارت ناپ ، دَ وختونو حساب اؤ بيا لکه دَ دنيا دَ طبقاتی نظام دَ درجه بندۍ تفصيل ــ کله نا کله مې زړهٔ له دا خيال راشي ، چې خدائے خو دې ددهٔ استاذ په دوزخونو کښې روست کړی ، هدو دَ جنتونو نومونه خو څهٔ چې لفظ "جنت" ئې ورته نهٔ دے ښودلے .

تول کال به دا خبره کوی چې دین ته مو شا کړې ده ، خدا ے درله دنیا ته مخه کړه اؤ خوار ئې کړئ ، خو دَ سرسایې په ورخو کښې ورته دَ کلی هر سړے دَ پاکستان په وسائلو دَ ناستو دَ دوویشتو کورنیو وارث ښکاری .مړے کۀ غوږ نۀ وی ، نو په قبر ئې وېښا هم په نۀ زړۀ کوی ، البته دا خبره پکښې خامخا کوی ، چې "خواری داده چې دنیا ئې هم دغسې سپوره تېره کړه اؤ کۀ څۀ عمل ورسره نۀ وی نو بیا هلته دوزخونه ........ " کۀ دَ زړۀ زور دې وی ، نو غوږ ورته ږده .هر موږ مړی نه چې کور ته لاړ شی ، نو دَ سقاتونو هرې بورۍ ته کتلو سره وائی ، "مړے داسې وی .هر ورځے پښې ؤغځوئ ، وئ زۀ مړ شوم ــ ببخ دې ؤخی!!! "

څو کاله اکاهو چې کله دَ امریکې بېړې دَ افغانستان دَ ړنګولو په نیت روانې شوې ، نو دَ جمعې په خطبه کښې ئې ؤوې ، "اے دَ اشنغر پښتنو! دَ اسلام پتنګانو!

چې دَ امریکې بېړۍ نه دَ ستر افغانستان په سپېځله خاؤره وروبې توغندے پرېوځی ، نو دا جاکړ مُلا به ئې مخې ته دېوال شوے وی .تاسې به زما سره ځئ؟"

هغهٔ خلقو ته چاپېره په خواب طلبه نظرونو کتل . په تندی ئې غوټو څرګندېدلو سره "لاهُوبابا" دَ تکبیر نعره پورته کړو ، خو پخپله دَ پورته کېدلو نهٔ وهٔ . دغه وخت څو نورو هم دَ ېړې نه خان ژغورلو لپاره لاسونه پورته کړل . ما هم پخپلو کاکا ته وُکتل ، خو چې هغه غلے پاتې شو ، نو ما هم هېڅ وُ نهٔ وئېل .

څو ورځې پس کابل رنګ شوے وهٔ اؤ یوُ خل بیا چې هغهٔ منبر باندې غاړه تازه کړله ، نو یوُ "کافر" ورته وُوې ،

"تا یوُ دوه جمعې وړاندې افغانستان ته تللو قسم خوړلے وهٔ اؤ ستا دَ قسم په سبب کلی ته دَ دولسو زلمو جنازې راغلې دی اؤ تهٔ لا افغانستان خو څهٔ چې درې ته هم لا نهٔ رلې ، نو تا ته په منبر دَ څهٔ وئېلو هېڅ حق نشته".

هغې ورځ نه په جومات کښې دَ کلی دَ څهٔ "مسلمانانو" اؤ "کافرانو" تر منځه خلهٔ وُوهلې شوه . چاکړ مُلا درې کاله وروستو په سوات کښې ښکاره شو . زمونږ دَ کلی دَ دولسو شهیدانو زلمو سره پښو کښې لاهوبابا هم ښخ دے . داسې غوړېدلے یم چې دا خل به تاکنو کښې وُدرېږی اؤ کهٔ خبر نهٔ وهٔ ، دا خل به (خاکم بدهن) وُتاکلے شی .

PUKHTO.NET

# پېژندګلو

ما ته قابيل يا هابيل وئېل ستا! خوښه ده، خو زهٔ خان دَ پاره نهٔ دَ قابيل سره تړون خوښوُم اؤ نهٔ هابيل سره ـــ خکه چې کهٔ زهٔ قابيل کېږم، نو دَ ورور په وينو مې لاسونه سرهٔ کېږي اؤ کهٔ هابيل کېږم، نو زما په وينو مې دَ ورور لاسونه سرهٔ کېږي .

آيا تهٔ داسې کولے شې، چې ما ته آدم وائې ؟

کوم چې زهٔ يم ـــ

هنْ!

آدم سره پېژندګلو کښې هم دَ قابيل اؤ هابيل سره تړون دے .
آيا مونږ داسې کولے شو ، چې دَ تاريخ نه دَ قابيل نوم ؤباسو ؟
خو دې سره به ادم اؤ دَ هغهٔ تاريخ نيمګړے شي....
چې داسې نهٔ شو ـــ نو زما مرسته ؤکړه!
راځه ، چې دواړه دَ ورورولۍ غږ ؤکړو اؤ دَ قابيل رسم ؤوژنو ـــ
دا به دَ قابيل وژنې نه غوره وي ، ځکه چې دَ قابيل وژلو سره
به زهٔ اؤ تهٔ هم قابيل شو .....
زما اؤ ستا ځلو نه به هم زمونږ دَ ورونو دَ وينې وږم راځي.



PUKHTO.NET

# دَ "باور" تمهید

کهٔ دَ گمانونو په بوړنوونکو تیارو کښې دَ باور وړانګې
څرک نهٔ وهلو ، نو دَ ایمان کور به تل په اندېښنو ادانه ؤ.
کهٔ دا نهٔ ؤ ، نو انسان به دَ انا نه ډک سر یوٕ نالیدلی خدا ے ته
ولې په سجیده ایښودلو ؟ کهٔ دا نهٔ ؤ ، نو پخپلو لاسونو توږلے
بُت به څنګه خدا ے منلے کېدلو؟ کهٔ دا نهٔ ؤ ، نو دَ مریم
خو ے به چا دَ خدا ے خو ے منلو؟
باور دَ منطق نه پرته دَ خدا ے دَ وجود منلو نوم د ے. زړهٔ
کښې مېشته دغه باور هره اندېښنه اؤ وسوسه دَ خپلې عقیدې
په توره غوڅوی. دا عقیده کله کله دَ دلیل مرسته هم لری اؤ
کله کله بغېر له دلیله هم. باور هاغه زور د ے ، چې دَ دهٔ په
مُلاتړ دَ ماده پرستئ ډکې دې مړه خوا نړۍ کښې مینه ساه
اخلی. یوٕ مئېن دَ خپل جانان په نظر کښې هم دغه باور وینی ،
خکه خو دَ انتظار په سلګونو کلونه خان ته دَ سترګې رپ کړی.

داسې چرې هم کېدے نۀ شي ، چې يوه تولنه کښې دې دَ مذهب په نوم زړونه وهمونو ته سپارلے کيږي..... هلته دې دَ سياسي نظرئيې بنسټ اؤ پوهه نۀ وي..... هلته دَ وګړي په حقونو پښې ايښودې شي..... هلته دې مينه دَ پېغورونو سيورې کښې ساه اخلي.....هلته دې بې وسې جبر ته دَ قسمت نوم ورکوي.....هلته دې سرېتوب په سر خاؤرې بادولې شي..... هلته دې قامي اتلانو پسې ملندې کيږي..... هلته دې دَ موسمونو بدلون سره دَ کروندې تابيا نۀ کيږي..... هلته دې دَ مانۍ اؤ حرم په نوم دَ وګړي ويار وژلے کيږي اؤ بيا دې هم دغه تولنه نړېدلو څخه وژغورلې شي ؟ امريت به دغسې تولنه کښې خو ورځې خنکدن دَ ژوندون په نامه تېر کړي ، خو خپلواکي چرې هم دَ باور نه پرته خپل جوړښت تينګ نۀ شي ساتلے (څکه چې باور دَ خپلواکۍ اؤ يقين دَ کور درشل دے).

دَ معراج پېښه ، دَ طُور واقعه اؤ دَ سلېمان تخت دَ وګړي دَ شعور اختراع نۀ شي کېدې. دې قېصو باندې باور دليل بې معنې کړي..... هاغه باور چې په روح دَ خاؤرې بُت ژوندے ساتي (کله دغه بُت يوه لپه ښخلې اؤ دغه روح دَ هوا دَ يو پُوکي نه پرته هېڅ نۀ دي).

باور اؤ منطق دَ يؤ بل په وينو خوؤ پائی. منطق دَ دليلونو لټون کښې سرګردانه وی اؤ باور په عقيدو مُلا تړلې وی. زهٔ دَ باور هاغه ملګرے يم ، چې دَ دهٔ مرسته کښې هره ساه دَ منطق شنو ګرګو سره خپل سر دقوؤم. زهٔ دَ منطق دليل اؤ منطق زما عقيده پيژنی. دا زما باور دے ، چې زما رغ شوی انځورونه به ړندو نه هم داد واخلی اؤ زما ليکلې سندرې به کانهٔ احساسونه هم ؤنځوی.

يادګيرنه:

(دَ دوېمې شعری ټولګې "باور" تمهيد)

PUKHTO.NET

# دَ کورودانۍ سُوپر پلېننګ

هغه به کوم زلمے وی، چې دَ کوروداني خوب اؤ دَ کورودانۍ خیال به نهٔ لری؟ ولې بیا هم زیاتره خلق دېر لږ په لږې اؤ Systematic ژوند تېروی اؤ دَ خوبونو اؤ خیالونو کلی ته ورته دَ تللو وخت په لاس نهٔ ورخی. وړهٔ لوی شی ـ لا شونډه ئې شنه شوې نهٔ وی، چې دَ دنیا یؤ پلؤ ئې نیولے وی اؤ بیا ئې مور پلار دَ لاس نه لاندې کولو دَ پاره غم شروع کړی، وادهٔ ورلره وکړی ـ بیا ئې کور خان له کړي ـ بچی ئې وشی ـ لوی شی ـ مور پلار ئې دَ دنیا دَ حرامو نه توبه وکړی، حج وکړی اؤ دغه رنګ دَ all that ends good is good په مصداق قېصه ګواتو له لاړه شی. دَ داسی خلقو نسلونه راشی اؤ لاړ شی، خو دوی دغې دائرې څخه ؤ نهٔ وځی.

PUKHTO.NET

زهٔ دا په ډاګه وایم چې زما ژوند کښې دَ لفظ "ترتیب" هېڅ معنا نشته، خکه چې په یؤ خاص ترتیب سره جوړې شوې باغیچې نه زما دَ بې ترتیبه غوړاسکو، فولفولکو اؤ سپیلنو ټالۍ ډېرې خوښې وی. دَ خښتو اؤ سیمټو په مرسته جوړ شوی نبغ لښتی نه مې په سخابُوټو ببرشوندې کچه وله زړهٔ ته ډېره نزدې وی، کومه چې کږه وږه بهیږی. دَدې هر څهٔ نه پرته دَ "کورودانۍ" منصوبه کهٔ ما دَ پاره مزاجاً هر څو غېرفطری ده، خو دا ده چې ده.

زهٔ به چرې دا خبره خوښه نهٔ کړم چې زما ممکنه دَ وړو مور دې زما دَ پلار دَ وړو مور اؤ دَ هغې دَ لونو سره مشت و کرېبان وی اؤ کهٔ چرې هم دغه نوبت راشی، نو چې زهٔ پکښې حتی الوسع په زمزم لمبېدلے ښکاره شم اؤ ښکاره خبره خو دا هم ده چې کله زهٔ "خان" یادؤم، نو مطلب ترې زهٔ اؤ زما دَ وړو ممکنه مور وی.

دَ خان په حقله به دا خبره په ډاګه کړم چې زهٔ یؤ ډېر ښهٔ منصوبه ساز یم، هر څو کهٔ زما پېژندونکی اؤ زهٔ پخپله هم دې خبره کښې خان (یوازې خان) سره اختلاف لرم.



PUKHTO.NET

زۀ په کور کښې ډوډۍ هله خورم، چې را ته ؤوئيلے شی، چې دا مې خوړې مورکۍ. دَ خپل خوند نه ډکو لاسو باندې پخې کړې دی (دَدې په شا زما يؤ غرض دے). زۀ هاغه جامې اغوندم، کومې چې زما مور پخپلو پاکو لاسو وينځلې وی اؤ استری کړې وی. دَ خوېندو دَ لاسو وينځلې شوې، استری شوې جامې زۀ نۀ اغوندم (دَدې په شا هم زما يؤ غرض دے). کله چې زۀ کور صفا جارو شوے ؤوينم، بيا هم مور ته وايم چې "صفائی" تا نۀ ده کړې، ځکه چې هېڅ "نفاست" پکښې نۀ ښکاری (دَدې په شا هم زۀ يؤ غرض دے).

دې وړو خبرو کښې زما څۀ غرض دے، دې نه وړاندې به زۀ دا خبره ؤمنم چې داسې "طفلانه مزاجی" وقتی طور زما په reputation منفی اثرات غورځوی، خو راتلونکی وخت کښې زۀ دَدې مېوې وينمه. زۀ به دا وادۀ کؤم اؤ دې سوچ سره چې په ما کوم کېفيت راځی، هغه دَ بيان په جامو کښې تاسو ته نۀ شم ښودلے. دې وړو خبرو کښې زما يؤ غرض دا دے چې کله زۀ دَ "څۀ" خاوند شمو نو هغه معصومه به څۀ کوی. دَ پلار په کور کښې به ئې ګُل دَ ډندر نه شُوکولے نۀ وی، دلته به خواره غورځيږی پاسيږی. داسې وخت کښې څۀ ذمه وارۍ په

ما راځي . زما په خيال کښې زۀ چې کله کور ته راځم اؤ وينم چې هغه معصومه پخلي ته ناسته ده ، نو زۀ به "مصنوعاً" قاربږم اؤ ورته به وبم ، "هله! دا څۀ کوې ؟ تۀ اؤ پخلے !!! هې هې! پخلي خو مې دَ مور دَ لاس دی . تا ته ما نۀ دی وئيلی چې زۀ دَ بل چا دَ لاس پخه نۀ خورم".

دې وخت کښې دَ معصوم پاکې لخوا زما په قار څۀ حسبِ توقع ردِعمل هم کېدے شي ، خو دغه ردِعمل به دَ وړومبی نه شوی مفاهمت په سبب مخې ته نۀ راځي . تر څو چې دَ مور دَ زړۀ خبره ده ، نو هغه به يقيناً داسې زړۀ سترې غوندې ښکاری ، خو هغه به هسې داسې ښکاری .

دا محسوسؤم چې خنې لوستونکی يا اؤرېدونکی بۀ ددې ليک په لوستلو يا اؤرېدلو سره خپله يوه جانبداره راې زما پحقله قائموی ، خو زۀ دوی ته دا خبره په ډاګه کول غواړم چې کۀ دوی په ما دَ څۀ قسمه زوجه پرستۍ يا ايرزړۍ تور لګوی ، نو يقيناً دا به دَ حق نه څنډه کول نۀ وی . ددې ليک په لوستلو يا اؤرېدلو به يقيناً چې څۀ ملګری په وَښکو وَښکو کښې مُوسيږی اؤ دا په دې خبره دلالت کوی ، چې زۀ اوس نۀ څۀ منصوبه جوړؤم ، دا څۀ نوې خبره نۀ ده .

نو دَ غرض خبرې لره بیا راځم . دا چې کومې زما ښکې ارادې دی ، یقیناً چې زما په overall reputation بد اثر هم غورځولے شي ، خو مستقبل کښې چې کله زما کور ودان شي ، نو څوک به هم زما نه ګیله نهٔ کوی. وړومبی به زما دَ خوی خلاف رِدِعمل کوونکې زما مور وی اؤ دَ هغې ګیله به په دې ځاے نهٔ نیسی ، چې "دا دَ وخت له سره داسې وهٔ".

بل دا چې کهٔ اخلاقیاتو ته شي ، نو زما دَ ممکنه دَ وړو دَ مور به ما حق جوړیږی ، چې دَ هغې ژوند دې په سکون وی . کال ۲۰۰۸ء پورې چې پاکستان کښې کوم ترقی پسند ، روښان فکره ، اعتدال پسنده اؤ توانائۍ بخش (خدایه ما مهٔ نیسې) حکومت تېر شوے ، هغې کښې په ډېر پراخه زړهٔ اؤ رُوڼ تندی مېرمنو ته پراخه حقونه ورکړے شوی دی . کهٔ زمونږه فوځ یا سیاسی ډلې ائین اؤ منشور تل دَ ښځو لاندې کوی ، نو په اولسی سطح مونږه سره خو نهٔ ښائې چې دَ داسې پیاوړو ، سپېڅلو اؤ مفیدو اردیننسو دَ نفاذ لاره کښې خنډ شو .

لوی الله دې مور لره ډېر ژوند ورکړی ، ګنې بیا شکر دے زهٔ هم ښه په څلور سانکه روغ یم ــ اؤ دې کښې دَ شرم څهٔ دی ؟

# دائـــره

دَ رياضۍ ژبه کښې دَ درې سوه شپېتۀ نقطو هاغه مجموعې ته "دائره" وئيلې کيږی ، چې هره نقطه ئې دَ مرکز نه يو هومره مزل لری او کُټ نۀ لری . کائناتو کښې دېره ښکاره په نظر راځی . زمکه ده کۀ نمر دے ، سپوږمی ده کۀ نورې سيارې دی ـ هر څۀ دَ دائرې په شکل کښې دی . دَ نوی فلکياتی سائنس تر مخه دَ مرکز نمر نه چاپېره دَ سيارو (زمکې ، سپوږمۍ ، مريخ ، عطارد ، زحل ، نېپچون او پلوټو) وغېره حرکت دَ دائرې په صورت کښې وی . نمر ، زمکه او سپوږمی نه واخله تر اېټم پورې چرته چې مرکز وی ، هلته دائروی حرکت وی . دَ اېټم دننه نيوکلېس (چې پروټان او نيوټران نه جوړ وی) نه چاپېره الېکټران هم دَ دائرې حرکت کوی .

هندسو کښې "صِفر" هم دَ دائرې یؤ صورت دے ، چې دَ نیشت برابر وی . صِفر مونږ ته ښائې چې دا هر څۀ چې څۀ دی ، هېڅ هم نۀ وو اؤ دا هر څۀ چې څۀ دی ، هېڅ به هم نۀ وی . ښکاره معنا ئې دا ؤخی چې صفر (دائره) ابتداء هم ده اؤ انتها هم .

مونږه ژوند هم دَ مختلفو دائرو په منځ کښې تېروو . زمونږ نه چاپېره دَ مذهب ، پښتو ، حیا ، ننګ ، غېرت اؤ رشتو ترونونو دائرې تاؤ دی ـ دَ دائرو په حقله قرآن پاک هم په ښکاره وئېلې دی ، چې تِلْک حُدُوْدُاللهِ فَلَا تَقْرَبُوْهَا (دا دَ الله حدود دی ، دې ته مۀ نزدې کېږئ) ـ دا خبره چې دَ الله پاک حدودو پورې اړه شوې ده ، ارو مرو هر خاې کښې دَ تدبیق غوښتنه کوی اؤ ددغې جوګه ده . دې سره دا خبره په ډاګه شوې ده چې دائرو نه قدم اړول خو لرې خبره ده ، نزدې کېدل ورته هم منعې کړې شوی دی .

ډارون وئېلی وو چې انسان دَ تاریخ دَ سترې اوږد مزل اؤ مختلفو ارتقائی مرحلو نه وروستو دې اوسنی صورت ته راغلے دے . زۀ هغۀ سره دَ ایت لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ التَّقْوِيْمِ (په تاکید سره مونږه انسان په ښکلی صورت کښې رغ

کړے دے) په زور تینګ اختلاف څرګندومه. زهٔ انسان ته دَ ټولنیز ځناور (Social Animal) ویٔلو هم خلاف یم، ځکه چې کهٔ ځناور Social وی اؤ کهٔ Wild ـ ځناور وی اؤ هر کله چې یې جیلبه پرېښودلے شی، نو بیا دَ چا عزت، دَ چا سر اؤ دَ چا مال محفوظ پاتې کېدے نهٔ شی. په دې سبب ئې دَ حدود تعین ضروری شی، ځکه ترې چاپېره دائره رابشکل ناګزیر شی.

مونږ په حبث دَ یوُ مسلمان دَ حدونو دَ دغه پېژندګلو دومره معتقد یُو، چې چرته هم قَالَ الله اؤ قَالَ رَسُوْلُ الله راشی، بله خبره کول کفر ګڼو..... دا بیله خبره ده، چې دَ الله دَ حدونو په نوم دَ مُلا دَ حدود اردیننس ته هغه ځاے مخه نیسو، کله چې وینو، چې دَ الله په نوم دَ هغهٔ دَ مخلوق ژوند ته کندې کنستلې کېږی اؤ تشریح اؤ تفسیر کښې تېر کیږی.

مونږه هم ساه اخلو ـ لوږه لرو (بطنی هم اؤ جنسی هم). هوس اؤ حرص مو په وینه کښې په زغل دی. مونږه لره پکار دی چې دائرې، رواجونه اؤ قانونونه پام کښې وساتو. دَ دائرې څخه دَ پښې ویستلو، رواج دَ پښې لاندې کولو اؤ دَ قانون دَ ماتولو تاوان هم زمونږه دے. بیا پُښتون وطن اؤ پُښتنه ټولنه کښې خو دَ دائرې نه دَ قدم ویستلو ټولو نه لویه سزا پېغور

دے . چې نومې پښتون وی ، نو دَ پېغور دَ زغم لافه ئې دروغ دی .

تر څو چې سترګې دَ حیا اؤ شرم په اوښکه تر وی ، خلق دَ دائرو خیال ساتی . بعضې وخت یؤ سړے دَ خانګړو تړونونو (رشتو) دَ پاره دَ حالاتو په مناسبت سره حدونه ټاکی اؤ دائرې راکاږی . داسې وخت کښې ډېر زیات اختیاط پکار وی ، خودساخته دائره دومره هم ارته بېرته پکار نۀ وی ، چې سبا ئې دَ زغملو توان نۀ رسی اؤ دومره تنګه هم نۀ ، چې کۀ سړے هسې خوځیږی ، نو هم پرې حد روا کیږی . بل چا دَ پاره هم حدود ټاکلو کښې باید چې دغه رنګ دَ اختیاط نه کار واخستلے شی .

دا یؤ فطری عمل دے چې کۀ سړے ټول عمر دائرې نه بهر ګرځی ، خو خان ورته دائره کښې ښکاری اؤ کۀ بل حد ته نزدې قدرې هم شی ، نو دَ هغې دائرې په تناظر کښې ورته "کافر" وائی .

## مــرام

زما خاوره دَ سرکشۍ زمکې نه چڼ شوه اؤ دَ سپېڅلې پرخې په پُونه ئې دَ تاؤ کښېښولو هڅه ؤشوه (هغه پرخه چې وروستو ورته دَ ادم زېږون دَ مينې نوم ورکړو).

زهٔ دَ يؤ داسې غر په لوړه څُوکه ؤغونځېدم ، کومې څُوکې چې دَ اسمان په سينه پسې شوندې مښلې اؤ دَ "إهْبِطُوْا" غږ سره ما دَ خاورې په لور پل واخستلو.

زما لاره کښې يوه داسې خِلا راغله ، کومه چې لکه دَ خان په غم اخته ادم کښې دننه وي.......

دغه پړاؤ کښې زما ساه په خاـــے ؤدرېدله ، خو ما ترې پل واخستلو.



PUKHTO.NET

ځهٔ وخت بېرته په يؤ پراؤ داسې زوړ ؤ، اؤ زبېرګی وو، اؤ سلګۍ وې، اؤ ژړا وه، لکه چې ادم دَ ګناه دَ خوند بېعه کښې دَ دوزخ ور ته خپله ميراته توبه څېلمه کوی.......

دغلته زما داړه سترګو کښې وېره دېره کېدله اؤ تورې لړې زما نظر ته لاره کښې دېوال روغولو، خو ما ترې ګام واخستلو.

ځهٔ مزل کولو باندې په زوَره زوره دَ خندا زوړ ؤ. داسې برېښېدله، لکه چې دَ ادم تول زوزاد په يؤ ځاے له خندا شنهٔ شوی وی اؤ دغه خندا کښې دَ ژوند نازولې موسکا اؤ دَ مرګ بوړنوونکې سلګۍ ورګډ شوې وی.......

ما ته دغلته ايسارېدل ژوندۍ ساه پسې ملنډه ښکاره شوه، ځکه مې ترې قدم واخستلو.

زهٔ وريخو ته راؤرسېدم. دغلته دَ اېشمه بوی لکه دَ لونګين زما سپېړمو له راغلو اؤ زما وازغهٔ ئې دَ ازل په بام ؤدرول. دغلته مې زړهٔ لړ په ځاے شولو. ژوند اؤ مرګ دواړو بره کتل. ما خپلې سترګې دَ ژوند اؤ مرګ څښتن ته اوچتولې، چې دې کښې زما همزاد هم زما نظر سره لاړلو، اؤ دَ ژړا اؤ خندا منځ کښې پړاؤ باندې پښه نيولے شو. دغه ځاے نه را تېرېدلو کښې زما همزاد خپلو غوړونو کښې داسې ګوتې ورکړې وې، لکه څنګه چې ئې

دَ خندا پړاؤ نه تېرېدلو کښې خپل غوږونه پخپلو لاسونو کلک نيولي وو. ما خپل بصارت سترګې په بنو کښې نيولو سره راؤنغښتلو ، چې دَ ژوند اؤ مرګ سره وړاندې لاړ نهٔ شي اؤ خپل سماعت مې دَ خندا اؤ ژړا ، دَ ملنډې اؤ وير ، دَ موسکا اؤ سلګۍ دغه ننداري ته پرېښودلو.

زهٔ دغلته څو شېبو نه زيات ايسارېدلے نهٔ شوم.

زمکه په نظر راتګ سره ما نه له اسمانونو تر زمکې تول پړاوونه هېر شول. يؤ تت غوندې ياد لکه دَ "اَلَستُ بِرَبِّکُمُ الْاَعْلیٰ" زما دَ ياد په ګېنوس برېښېدلو. زمکه په ؤچه اؤ لونده کښې وېشلې شوې وه. لونده هغه چېتيا وه ، چې دَ ژوند هر يؤ زوړ ئې خان کښې رانغښتلو. په غاړه ولاړ ورته خپل زړهٔ راسپړدلے شو اؤ لوندې دغه خبرې چا ته هم نهٔ کولې.

ؤچه هغه زوړ ؤ ، چې هرې چېتيا ته ئې په مرۍ ګوتې ايښې وې. دغه زوړ کهٔ دَ سلګۍ نه رغے ؤ اؤ کهٔ دَ مرګ نه ژوړ.

زهٔ څو شېبو له دَ زمکې اؤ اسمان منځ کښې خوړند پاتې شوم. ؤچه اؤ اوبهٔ دواړه وېشلې شوې وې. دَ ژبې ، ذات ، مذهب ، ثقافت ، رنګ اؤ سيمې کرښې دَ زمکې په سپېڅلي مخ

لکه دَ سپېرۀ پرهر راکښلې شوې وې. دَ ادم دَ ښښت وِینې په ؤچه اؤ لونده بې څوکه پرتې وې.
دَ خاؤرې په یوه برخه دَ رڼا یؤ بڅرے پروت ؤ. دغه بڅری نه وتونکو وړانکو دَ بودۍ تال روغ کړے ؤ. ما ژوند گامونه دَ دغه بڅری په لور پورته کړل. چې ورنزدې شوم، نو لکه دَ ملغلرو په دغه بڅری دَ پرخې نیازبینو څاڅکو مستی کوله. یؤ څاڅکی ما ته ؤوې،
"راځه! دَ اور اؤ وینې نه وېزاره روحونو دَ پاره دې بڅری نه پرته دَ زړۀ خوږېدو بل ځاے نشته.
راځه! دَ تیارو نه هم دَ دې بڅری غېږه پناه ده.
راځه! ژوند هم دَ دې بڅری غېږه کښې پلوری.
راځه! مینه هم دلته په نیازبینه موسکا هرکلے وائی.
راځه چې دَ نړۍ تولې نخښتې کله ساه ورکړی.....
راځه چې دَ جنگونو ښنې کله ؤخوئیږی.....
راځه چې دَ شر دَ زړۀ زور کله کښینی.....
دَ دې بڅری نه اخوا به ئې دَ ساه اخستلو بل ځاے نۀ وی.
دَ رڼا دا بڅرے امن دے.....
دَ رڼا دا بڅرے مرام دے....."

# دَ مینې بل لیک

په سمه ډېره مینه سم ډېر سلامونه!

کله کله خو وېم ، کهٔ زما ژوند پرې مرګ ته لږ نزدې کېږی ، شی دې ، خو چې دَ بېلتون میراتکړښې سیورے مو له سره لرې شی. دَ ورځې په نمر اؤ دَ شپې په سپوږمۍ خپسه ناسته وی. اوس تهٔ ؤوایه ، چې وختونه دومره اُوږدهٔ شی ، نو زغم به تر څو ساه راکاږی ؟

اؤ ستا دې هم بلا روکه شی ، چې خان دریاد نهٔ کړم ، یاد کښې دې نهٔ راځم اؤ چې خپل لیک درباندې زباد نهٔ کړم ، قلم له دې لاس نهٔ ځی.

نن دَ ماښام نمونځ کښې درې اؤ ماسخوتنی کښې اووهٔ سهوه سجیدو دې لیک ته کښېنولے یم. چې وارهٔ وو ، دَ جومات استاذ به وې ، "ایمان لرونکی نمانځهٔ کښې تېرؤځی". تهٔ وایه ،



PUKHTO.NET

چې دومره دې څوک یا څهٔ په زړهٔ کښې ځاے ونیسي، چې نموتخ کښې دې تېرباسي، نو بې ایماني نهٔ شوه؟ کله کله پخپل ایمان ؤوېرېږم. دَ ورځې مې ګوتې دَ کمپیوټر په بټنو ناګهانه وَدرېږي، اؤ مازغهٔ مې داسې په یؤ ځاے ولاړ خوځېږي، لکه چې په ولاړو اوبو کښې رژېدلې پانه خوځي.....

اؤ بیا ستا دَ خیال خوښه ده، چې څهٔ وخت ئې را نه لاس واخستل. هغې ساه سره دې زما زړهٔ تړ وُجوي، چې کومې سره ئې تهٔ یاده کړې نهٔ ئې. زهٔ خو نور نهٔ شم. زهٔ خو په تږوله نړۍ پښې ږدم، خو نور دې کیفیت سره دَ ژوند توان نهٔ لرم. یا هغه ورځې وې، چې مرګ پورې به مې په واز ګومی خندل اؤ یا دا ورځې دی، چې دَ مرګ وېرې نه دَ دېوال په سیوری تېرېږم، چې الله مهٔ کړه، کهٔ.......

په دې خبره ئې غوڅوم، چې نور دې ما الله پخپل وطن اؤ خپل وطن په ما اؤ بل وطن پخپل اولس ودان ساتي.

تندے دې رادېخوا کړه، چې ښکول کړم.

په لوی الله دې سپارم.

ستا

PUKHTO.NET

# ذات

زما ځرمن کښې فرښتې ننوتلو دَ پاره هڅه کوله ، چې شېطان دَ پښې نه راکښله.....

بیا شېطان زما ځرمن کښې دَ خان ټومبلو زور کوُلو ، چې فرښتې دَ پښې نه راکښلو.....

ما یوُ ځو شېبې دغه ننداره وُکړه.

یوُ ځو شېبې مې خپله ځرمن کښې شېطان اوُ بیا مې ځو شېبو له فرښته محسوس کړه.

موسکے شوم.

بیا لږ موسکے شوم.



PUKHTO.NET

بیا چې لږ موسکے شوم ، نو غږ مې پرې وکړو.
شېطان زما سترګو کښې دَ ګناه تکل ته ؤموسېدۀ اؤ فرښته زما خېخمه کښې دَ توبې اوښکې ته موسکے شوله.
ما دَ هغه دواړو په منځ کښې دَ عقل په تخته خان کېښودلو اؤ دَ خدا ے په نُوره مې پرې خان ؤویشلو.
هغه دواړه چې یؤ خا ے شول ، ورک شول.
زۀ چې دوه خا ے شوم ، شته شوم.

PUKHTO.NET

# دَ چاړې لاندې

دَ اوسپنې دَ بېلابېلو ناپوړو پترې اؤ دَ لرګی ، هډوکی یا دَ پلېسټک مُوټے "چاړه" وی . کۀ یؤ اړخ ئې تېرۀ وی ، نو "یؤمخیزه" یادېږی اؤ کۀ دَ پترې دواړه اړخونه تېرۀ وی ، نو "دوه مخیزه" یا "پېشقوزه" ورته وئېلې کېږی . دوه مخیزی کۀ خلق وی کۀ چاړې ، زړۀ کښې دَ خاے کولو نۀ وی ـ بیا چاړه خو کۀ دَ سرو زرو شی ، نو هم په لړمون دَ منډلو نۀ وی .

هسې خو به دَ چاړې دَ ارتقاء په حقله وثوق سره څۀ وئېل په خړو اوبو کښې دَ ړوند مهی مزل وی ، بیا هم تخمیناً وئېلے شو چې دَ کانی زمانه کښې ترقی یافته انسان دَ تېرۀ کانو څُوکې ویستلې وې ، چې دَ هغې په مرسته ئې دَ ځان دَ ژغورنې دَ پاره خپل زړۀ تر څۀ خودفرېبه حده پورې غُولولے وۀ اؤ وخت تېرې سره دې هئیت ته را ؤرسېده .

دَ چاړې لاندې دَ راتللو رسم هم واضحه نهٔ دے . دَ اوسپنې موندلو اؤ دَ دې په استعمال کښې دَ راوستلو دَ چل زده کولو نه وروستو به یقیناً چې دَ تاریخ په یوه پوړۍ حلالې ، بلیدان یا قتل کښې په کار راوستلې شوې وی ، خو دَ یؤ مسلمان په حېث زهٔ دا خبره وثوق سره کوُم چې دَ چاړې دَ قربانۍ په وخت په کار راوستل هاغه وخت پېل شول ، کله چې حضرت ابراهیم علیه السلام خوب ؤلیدلو اؤ تعبیر کښې ئې دَ حضرت اسماعیل علیه السلام په ځاے دَ یؤ ګډورې په مرۍ چاړه راښکلې شوه . دَ چاړې کار مرۍ سره وهٔ ـ دَ چاړې کار مرۍ سره وی ـ دَ چاړې کار مرۍ سره دے اؤ دَ چاړې کار به مرۍ سره وی..... هغه مرۍ کهٔ دَ ځاروی وی اؤ کهٔ دَ ادم زاد.

دَ فېشن په لوری تګ سره انسان چاړه پخپله خپلې مرۍ لره راوړه . چاړه دَ مرۍ خوا کښې ښه نهٔ وی ـ دَ چاړې اؤ مرۍ یؤ تر بله نزدې کېدل ښه نتیجه نهٔ راوړی .

کور کښې دَ هره ورځنی استعمال نه وروستو چاړه زیاتره دوؤ لاسونو کښې لیدلې شی ـ دَ قصاب اؤ نائی. دَ قصاب چاړې نه لوی الله هاغه وخت وژغورلو ، کله چې دَ ابراهیم علیه

السلام دَ خوب تعبير په ګډوزی ؤشولو اؤ دَ نائی دَ چاړې په حقله به دومره ؤوايم چې ، "پخپله نو ګيله څنګه له بله".

نن ترې زۀ لاندې راغلم ـ کۀ رېښتياؤ ته شی ، نو نائی لره مې پېسې ورکولو ته زړۀ نۀ کېږی . سبب ئې داد ے چې څټوکے رژېدلے د ے ـ څنې زۀ اوږدې اؤ غټې ساتم ـ دَ نائی دَ کار يوه ږيره دۀ ، په هغې ورلره پېسه پېسه "حلاله" کړم .

ما ورته وې ، "ږيره په قېنچۍ هواره کړه . خبر د ے کۀ لږه وړه هم شی ، خو دومره نۀ چې "ږيروتۍ" ترې جوړه کړې اؤ بيا دَ مخ اؤ مرۍ زياتی وېښتۀ په مکېنې (مشين) واخله ".

هغۀ وې ، "ښه!"

ږيره ئې دومره کړه چې دَ څلوېښتو قدمونو نه په سترګو روغ ليدله ـ دَ مخ وېښتۀ ئې هم په مکېنه دَ متعلقه حدو ـو پورې واخستل ، خو مرۍ ته ئې زړۀ ټينګ نۀ شو . مخې سره ئې پرې کريم مښل پيل کړل . ما ته ئې هم هلکوانه را ياده کړه ، چې کله به مو سنت په تېره چاړه اخستل . دَ دغه خوند ژوند ډېر اوږد نۀ ؤ ، خکه چې دَ نائې لاس چاړې له لاړل اؤ دَ چاړې په ليدلو سره زما زړۀ کښې دا يقين پوخ شو ، چې دَ هر ژوندی اؤ خوځنده انجام مرګ وی . نرۍ شان خوَله مې په تندی راغله .

هغه مې وکړه چې ساه بنده کړم ، خو بیا هم دَ مرګ رګ دَ شهادت اوړېدلی وو...... بهر به ئې توپ وهلو . خلق وائې چې "له وېرې مې لاړې نۀ تېرېږي" ، زما خو له سره مرګ کښې لاړې وركې شوې وې . تالو مې وچ کړخ وۀ . داسې رچ راباندې راغلو لکه چې ګوخن وی ، خو څۀ وخت تېرېدو سره دغه ارتعاشي خوخښت کښې کموت راغلو . بدګمانی ښه نۀ وی ، خو ما داسې ګڼل لکه چې نائې په ما سترګې پټې کړې وی اؤ لکه دَ "وفاق" دَ خپل "معمول کاروایۍ" کښې بوخت وی . چې مرګ ؤوینی ، دَ سړی زړۀ ته څۀ نۀ راځی . کور ته مې دَ پام مخ شو . کور...... وړۀ وړۀ بچی.....دَ وړو وړو بچو مور.....زما نشته ، خو دَ ژوند په کوم ګټ پېر ما دَ دغه مذکورو ارمان نۀ ؤ کړے . دَ شېطان مخ دې تور وی ، زۀ وېم "ښۀ وو چې نۀ وو ، کنې اوس به نۀ ؤم اؤ ښه ده چې بې څوکه یم ، کنې اوس به بې څوکه وو".

څومره چې دَ چاړې اؤ مرګ تر منځه فاصلې سر خوړلو ، دومره مې په خان زړۀ سوزېدلو . خیال راغلو چې دا خو دربانډې کلیمه هم نۀ وائې اؤ "بې کلیمې" خو حلال هم مُردار شی ـ پخپله خو ئې ؤوایه .

اخ! څۀ ؤوېم ؟ شپږ واړه په زړۀ راځي ، خو په خلۀ نۀ راځي . دېخوا چاړې مرۍ ښکول کړه اؤ بله خوا ما دومره محسوس کړل ، چې ساه مې دَ بدن دَ کور نه خپله کډه واخستله ، وتلو له رؤ لتهوی .

بيا خبر نۀ شوم ، خو څۀ وخت وروستو چې مې سترګې وغړېدې ، نو پوهه شوم چې سرټکلنو غنمو کښې زما دَ برخې دانې وړۀ شوې دی . زۀ کرسۍ کښې تقريباً ناست ؤم (تقريباً ځکه چې ما ته خان وروميے ملاست ښکارېدلو اؤ دَ "محمول عليه" په نظر کښې ساتلو سره دا وخت ناست تکے صحيح معلومېږی .وَاللهُ اَعْلَمُ بِالصوَاب) ، په وېښتو يؤ پترے راښکلے شوے وۀ اؤ بيا نائی دَ ناکړده قتل دَ قصاص له وېرې پښې سپکې کړې وې .

يؤ زۀ ؤم چې لا شهيد نۀ ؤم ـ يؤ نائی وۀ چې اوسه پورې به ئې کډه کړې وی .ـ يوه دنيا ده چې هيڅ نۀ ده .

هر چا سره لاسو کښې ، پښو کښې ، ژبه کښې ، نظر کښې ، زړونو کښې بې شمېره چاړې دی . دغه بې شمېره چاړې حلالول غواړی (هغه حلال وی کۀ حرام) . خان ته پامته دار شئ! کۀ چا ته حرام يئ ، نو چې خان ته مو حلال نۀ کړی!

## ډاډ

کهٔ حالاتو دَ هغهٔ دَ تنکو ارمانونو په ویره غړغړې کولې ، نو هغهٔ به دَ سترګو غبرګ کښې اوښکې په څهٔ جواز ایسارې کړې وې ؟

چې پسرلی ئې شند شوی وو ، نو دَ ګلونو دَ کرلو تابیا به ئې څهٔ رنګ کوله ؟

چې ویښې شپې ئې لمبې شوې وې ، نو خوب کښې به ئې مستئ څهٔ لمغړې لیدلې وې ؟

چې وختونو ئې مخ راشوکولے وهٔ ، نو خپل مخ کښې به ئې دَ لوی الله دَ نُور لټون په کوم زړهٔ کولو ؟

چې دَ زلېخې دَ ښار استوګن شوے وهٔ ، نو دَ ګرېوان دَ څيرې کېدلو وېره به ئې په سر ولې سوَره نهٔ وه ؟

ننګیالے نن هم چې راویښ شو ، نو دَ زړهٔ دَ خوَږېدلو یوه لاره نهٔ وه . هغهٔ سحر ډېر په خوند نمونځ وُکړو . مُلا صېب په دوېم رکعت کښې "إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْراً" وُلوستلو اؤ دَ ننګیالی په پښتېنو سترګو کښې یوُ څو معصومو اوښکو چپاؤنه وُکړل .

کۀ حالاتو ئې دَ تنکو ارمانونو په وینه غړغړې کولې ، خو هغۀ دَ خپلو اوښکو ستر نۀ وۀ مات کړے ـ کۀ پسرلی ئې شنډ وو ، خو دَ ګلونو دَ کرلو موسم ئې نمانځلے وۀ ـ کۀ ویښې شپې ئې لمبې وې ، خو خوبونه ئې دَ اندېښنو په بازار نۀ خرڅول ـ کۀ وختونو ئې مخ را شُوکولے وۀ ، خو دَ لوی الله نُور به ئې پکښې خلنده لیدلو ـ کۀ دَ زلېخې ښار کښې اوسېدلو ، خو دَ هوس لاسونه ئې دَ خپل ګرېوان خیرې کولو ته نۀ پرېښودل ـ

نن بیا هغه پاڅېدلو. نن هغۀ ته په سجیده کښې توې شوې اوښکه بې پښتو ښکاره نۀ شوه ـ نن بیا هغۀ خپلې سترګې دَ یو نوی امید په رڼا رڼې کړې ـ نن بیا هغۀ په مرګونی ارمان کښې ساه پُو کړله ـ نن بیا هغهٔ دَ بدې ورخ تور ، دَ قسمتونو دَ خدا ے په لمن پورې نۀ کړلو.

نن بیا هغهٔ دَ حالاتو زوز ته سینه وڅپوله ، خکه چې ننکیالی دَ وهمونو په سیوری کښې ژوند نۀ تېروی ـ

ننکیالی دَ باور اؤ همت په رڼا کښې مزل کوونکی وی .

## اے طبلِ بلند بانگ در باطل هیچ ......

دَ ابراهیم علیه السلام قېصه خو کهٔ تا پښتوکاکا ته ؤوېٔ ، هغه به ئې هم درته ؤکړی ، خو دا ده ، چې کهٔ تا ورته بیا وئېل ، نو په دوېم ځل ئې نهٔ کوی.

دَ اختر خطبه کښې به ګړندی ابی خبرې کولې. یوه ورځ ورته راپوړېه وې ، "ګړندی ابی! خطبې ته غوږ شه! الله نه ؤوېرېږه! خبرې کول ښهٔ نهٔ وی".

ګړندی ابی ګړندے خواب ورکړو ، "دَ ابراهیم علیه السلام قېصه ما اوولسو کلونو کښې تکی په تکی یاده کړې ده. جمعه ، وروکے اختر ، لوی اختر ، مرینه ، ښادی..... مدارګل مُلا خو بلې خبرې قېصې مسئلې له ځلهٔ نهٔ ور وړی.....هن! دا واؤره!".



PUKHTO.NET

بیا څو شیبو له جومات نه دَ مدارګل مُلا غږ راتللو اؤ هغهٔ سره یؤ خاے ګرندی ابی دَ دغه قیصې ګردان کولو. دَ کور دَ ښځو وښکی ورو ورو خندا سره څیرې کېدل. توپیر دَ مدارګل مُلا اؤ ګرندی ابی اواز کښې ؤ ، نور نهٔ.

دا کورونو کښې په تنارهٔ چې کومه قیصه کیږی ، دا دَ ابراهیم علیه السلام دَ قربانی قیصه ده ، کومه چې مدارګل مُلا وظیفه کړې ده. دې قیصې کښې یوه ګټه دا ده ، چې لکه دَ نمونځ ئې په یادو یاده ده اؤ دوېمه ګټه دا چې کهٔ زړهٔ دې نرے ؤ، نو سلګی نیمه به خامخا وهې اؤ دوېمه پسې ګټه دا چې کهٔ "رقّت" دېر "طاری" شی ، نو نیمه کښې ئې هم پرېښودلے شې اؤ دوېمه پسې چې کومه ګټه ده ، هغې پسې ګټه دَ "اقتدی یافته اولس" ده.....

زهٔ اووهٔ ورځنی کښې یؤ خل جغ کورونو ته خم. کله کله دَ مازیګر نمونځ هم هلته مدارګل مُلا پسې کوُم. تېره ورځ چې دَ کورکورخان مور مړه شوې وه ، زهٔ جنازې له ورغلے وُم. اولې چې صفونه روغ کړل ، نو غږ وُشو ، "لا پاؤ کم اتهٔ منتونه پاتې دی". چنچرکاکا دَ سقات مُصلې ، صابونونه اؤ نور څیزونه ویشل. دَ امامت په کرښه مدارګل مُلا ژوندے شو، نور

ؤسوزېدل. دَ هغهٔ سترګو ېؤ شېبې له ګرۍ ته ؤکتل اؤ بيا خپلې پوزې ته کتلو سره دَ چنچر کاکا لاسونو پسې ؤنخښتلې. ژبه ؤخوځېده

"دَ دوه ورځې ژوند څهٔ باور دے. كُلُّ نَفْسٌ ذَائِقَةُ الْمَوْت. يوه ورځ حضرت ابراهيم عليه السلام خوب ليدلو. (دَ چنچرکاکا لاسونو نه ئې مُصله لاس ته کړه). څهٔ وينې ، چې خپل خوے حضرت اسماعيل عليه السلام ئې ؤليدلو......".

هغه ډېر غمخوارهٔ دَ جنازې ځاے ته روان وو ، چا چې به راتللو سره ګورګورخان ته ېؤ لاس پخپله سينه اؤ بل لاس به ئې دَ هغهٔ ګوتو کښې ورکولو. دَ دغه خلقو په مخونو به دَ خواشينۍ يوې لړزېدلې سيلۍ خاله اچولې وه اؤ چې ګورګورخان به دَ چا لاس خپلو ګوتو کښې محسوس کړو ، دَ هغهٔ مخ ته به ئې په مړغيړنو سترګو ؤکتل اؤ بيا به ئې جنازې له راغلو ټول اولس ته ؤکتل. چې خپل تربور درخل خان ته به ئې ؤکتل ، نو مړغيړنو سترګو کښې به ئې ترېدلې موسکا ترپک ؤوهلو.دا جنازه کهٔ ډېره درنه نهٔ وه ، نو دَ درخل خان دَ مور جنازې نه ګورګورخان ته لږه درنه خامخا ښکارېدله. درخل خان به دَ ګورګورخان دَ ترېدلې موسکا ترپک ته سترګو

کښې "جر شه!" ؤوې ، څکه چې کهٔ دا جنازه ډېره سپکه نهٔ وه ، خو درځل خان ته دَ خپلې مور جنازې نه لږه سپکه خامخا ښکارېدله.

"حضرت اسماعیل علیه السلام چې کله دا خبره واؤرېدله ، نو......".

دَ مدارګل مُلا اؤ دَ هغهٔ دَ قبیلې دَ ملګرو جولۍ چې څومره درنې شوې وې ، دومره چنچرکاکا پسې دَ سقات څیزونه کرخوونکو ساه اخستې وه. دَ مدارګل مُلا سترګې چې دا ځل دَ ګړۍ ستنو له لاړې ، نو دَ جنازې وخت ته دَ پنځهٔ پنځوس سېکنډونو لاره پاتې وه. ما هم ګړۍ ته ؤکتل اؤ چې بیا مې دَ مدارګل مُلا مخ ته دَ یوې سلګۍ اؤرېدلو پام کړو ، نو دَ هغهٔ په مخ اوښکو لاره روغه کړې وه اؤ وخت په وخت سلګۍ به دَ قبضې منځ کښې ساه اخستله. دَ ګړۍ ټولو نه نرۍ ستن ته اووهٔ څلوېښت ټوپونه پاتې وو ، چې ګنه کښې جا غږ ؤکړو ،

"صفونه نېغ کړئ!"

جنازې له راتلونکو صفونه روغول. کورګورخان اؤ درځل خان اوس هم سترګو کښې یؤ بل ته "جر شه" وئېل. زهٔ پخپل ځاے دې باور سره ولاړ ؤم ، چې ما نه یؤ خوا بلخوا به هم

کربنې سر ته ؤرسی. لږ موسکے شوم، چې زما غوږ کښې دَ صفت الله چنی خلې ؤوې،

"دَ الله دَ نازولو مینه دَ حضرت زړهٔ کښې داسې ده، چې خېره کولو سره ئې اوښکې تینګې نهٔ شوې. کاش کهٔ تا دې په زور سترګو نه اوښکه توی کړې وه".

ما دَ "اَللّٰهُ اَکْبَر" اؤرېدلو سره غوږونو له ګوتې یؤړې. هغهٔ چې دوېم "اَللّٰهُ اَکْبَر" نه لږ وړاندې پورې .هر څهٔ وئیلی وی، ما اؤرېدلی نهٔ دی.

دَ جنازې سر ته رسېدلو نه وروستو چې مړے ادیرې پله واخستلے شو اؤ زهٔ کور پله روانېدم، نو صفت الله چنی ته مې پام شو، چا سره چې کهٔ هر څو سپک ؤ، خو خپل پیټے هم ؤ اؤ بیا ئې هم حضرت نه په ډېر تکّلفانه ډول کښې پیټے اخستلو دَ پاره لاسونه په عجز اؤ انکسار وړاندې کړل اؤ مدارګل مُلا ترې خپله ډکه غېږه داسې لرې کړه، لکه چې وړې کاکې غېږ کښې نیولې دَ خوښې نښخکه دَ یؤ "نه!" سره هغه چا نه لرې کړی، څوک چې ورته وائی، "کاکۍ! ګودۍ ما له لاکه!".

دَ صفت الله چنی په تندی راغلې کربنې چې ما ؤلوستې، نو غږ مې پرې ؤکړو. الله دې دَ دې قام دَ لاربښودنې پوهه ورکړی اؤ

الله دَ تولې نړۍ دَ پاره دَ اسلام دَ پوهې ، امن اؤ وروروليۍ کار ترې واخلی ، زما په غږ خوا له راغلو. ما ورته دَ "جامعة الازهر" مِصر نه دَ علميت سند په لاس کوونکی علمی اؤ سياسی پوهاند شېخ محمد عبده (مړينه ۱۹۰۵هـ) دا شعر ؤلوستلو ، کوم چې هغوی دَ خپلې وروستۍ ناروغتيا ورځو کښې ليکلے ؤ ،

وَ لَسْتُ أُبَالِيْ أَنْ يُـقَـال مُحَمَّد
أَبَلَّ أَوْ اَلْـتَـظَّـتْ عَلَيْـهِ مَاتَـمْ
وَ لَـكِـنْ دِيْـنـاً أَرَدَّتْ صَـلَاحَـهُ
أَخَافُ أَنْ تَقْضِيْ عَلَيْه الْعَمَائِم!

(زهٔ په دې زړهٔ نهٔ خورم ، چې څوک زما په حقله ؤوائی ، چې رنځ نه ؤژغورېدم يا زما جنازه کښې دېره ګڼه وه. زهٔ خو يوازې دَ هغه دين چې زهٔ ئې ودې له پاره هلې ځلې کؤم ، په حقله دې وېرې دننه دِدِ کړم ، چې هسې نهٔ دا لوی پټکي ئې لکه وېنهٔ ؤ خوری ).

بله ورځ ماښام زما خوا له صفت الله چڼے راغلو. دَ هغهٔ دَ ځلې نه دَ کورګورخان دَ مور دَ درېمې دَ خېرات دَ وريژو بوی راتلو. ما دَ هغهٔ سترګو ته ؤخاندل. هغه لږ موسکے شو. ما نه ئې دَ شېخ محمد عبده دَ شعرونو ژباړه ؤپوښتله. ما ورته ؤکړه. هغهٔ څو

شبېې خپل تندې دَ کیَن لاس قچې نه بغبر څلورو کوتو باندې وُکرؤلو اؤ بیا ئې زما لاس خپلو دوارؤ لاسونو کښې مخه ښه دَ پاره واخستلو. تللو کښې ئې ؤوې ،

"الله دې جاکړمُلا ته څښلمه شی".

اوس چې هغه ما کلی کښې ؤوینی ، نو ما نه څنده هم نهٔ کوی ، خو خوا له هم ډېر نهٔ راځی.

ما ورته تلو کښې ؤوې ، "الله دې مونږ ته نېغه لاره سمه کړی ، چې دَ "أَحْبَار" اؤ "رُهْبَان" په بیعت دَ دوزخ خشاک نهٔ شو".

PUKHTO.NET

## زهٔ اؤ پړنګ کاکا

يؤ مونږ يُو ، چې په شنه شونډه مو مينه ؤکړه— په سپينه ږيره مو وادهٔ ته متې راؤنغښتې اؤ کله چې نور خلق په ورو ملا ترې ، مونږ ورو ته ملا ؤتړله —

بل پړنګ کاکا دے ، چې مور ئې لا دَ څلوېښتې نه ددې نمانځې کړې هم نهٔ وې ، چې دَ خپلې هفه وربرې لمن ئې ورلره څيرې کړه ، کومه چې دهٔ نه ايله يوه څلوېښتې مشره وه - ورو دَ پاره خو ئې خپلې شونډې شنې کبدو ته هم ؤ نهٔ کتل- کشر خوے اؤ لور ئې وارهٔ ښکاری - نور واړه "وارهٔ" ئې وروڼه خوېندې ښکاری - ښځه ئې دَ ښځې په رنګ ښکاری - چې کور ته ئې ننوځې ، نو لکه دَ پاکستانی سياست دَ شاهی محلې به پکښې پوهه نهٔ شې ، چې سرکار څوك دے اؤ روان کال ته سترګې په لار څوك دے - پُر اسراريت شته ، خو تړونونو کښې نهٔ - مشر خوے به ترې په ګرانه څوارلس کلونه کشر وی ، خو دَ روژنې اغيزې ته څير شه ، چې اوس هم پړنګ کاکا خپل پلار ګنی.......

کشره لُور اؤ خوے ورته "پاپا" وائی....... مشران ورته "داجی" وائی اؤ دَ ورو مور ته "اے" اؤ "دغه" وائی.

چې وروکےؤ ، نو ؤړی به ئې ورتول ، چې لږ لوی شو ، نو اوړی کښې دَ تماکو بتی اؤ ژمی کښې به ئې ګانی کولې. دومره بوخت ژوند کښې ئې هم ورو دَ پاره وخت ویستلے دے اؤ کهٔ نن اتهٔ نهه پښتانهٔ په نړۍ کښې ډېر شمېرلی کیږی ، نو دا دَ پډنګ کاکا زیار دے.

اوس چې دَ وروکو شو ، نو چېلی اؤ دَ هغې ورغومی له واښهٔ راوړی.....څلور وخته نمونځ کوی..... دوه وخته ډوډۍ اؤ درې وخت چی څښی.....ښادۍ کښې وریژې خوری.....مړینه کښې ژوندو ته اوبهٔ نیسی(ښکاره دعا نهٔ کوی ، ځکه چې دغه چل ورته ابې ښودلے نهٔ دے)..... تاکنو کښې خپل خان له ووټ ورکوی اؤ بیا پسې خبرې نهٔ کوی. هغه کهٔ هر څو ناویاته دے اؤ ژوندے یا مړ ورور نهٔ لری ، خو بدا ۸م دَ پشی شا وهنا نه کرکه کوی.

دَ پښو نه سر پورې نهنیم لوهشتې اُوږد اؤ یؤنیم لوهشت ارت ببرت.خاے په ولاړه اؤ مُلاسته یؤ رنګ نیسی. کلی کښې دَ چا سره ډېره ناسته پاسته نهٔ کوی.



PUKHTO.NET

اوس خو کلونه تېر شو. لاس کښې ئې دَ ژوند کربښه درې اتیا ته رسېدلې ده. تندی اؤ مخ کښې ئې کوتونه دَ شل کلن دی. زړ وی کهٔ لر وی ، خو راتلونکو پنځهٔ کلونو کښې به پرې نهنیم لوښت اوړده اؤ درې لوښتې پلنه موړه روغه شی.

په هغهٔ دَ خپلو اتهٔ نهه وړو یتیمانېدو اؤ دَ خنکی دَ کوندېدو نه پرته خوک نهٔ نیمګړی کیږی.....

ما ته خو وړه خبره نهٔ ښکاری ، چې یؤ سړے دومره ژوند کښې هم دَ چا هېڅ دول حق خوړلے نهٔ وی. کهٔ ما کولے شول ، زهٔ به دَ پنځهٔ روپو سکه پېل کړم ، چې په هغې به دَ پدنګ کاکا پتو وی اؤ لاندې به ورته لیکلی شوی وی ،

"پردے حق مهٔ خورئ.

خدا ے خپل فرض نمونځ بخښی ، خو پردی یوه ادېله نهٔ بخښی. هلته به څهٔ ورکوو ، چرته چې نهٔ وی".

# دَ بغاوت پېغور

تولہ شپه دې غم ؤخورم ، چې پښتون قام را لره خلقو دَ عقيدو اؤ نظرئيو پہ نوم تالا کړو ـ تولہ شپه مې دا درون پېټے په زړهٔ پروت وهٔ چې زما دَ باغي قوم سرو سترګو دَ خپل غرور په قيمت دَ غلامۍ رانجهٔ ځنګه دَ مفاهمتونو په نوم خاے کړل ـ ټوله شپه دې اندېښنو سکوندلم چې زما دَ پښتو دَ مينې اؤ پت سندرې خان دَ "دهمال" سره ځنګه بلد کړو ـ تولہ شپه دَ دې احساس تاؤ ويلې ويلې کړم چې زمونږه غوندې ماضي پرست اؤ په تېرو وختونو ويارې کوونکي دَ راتلونکې ورځ دَ پاره نن دَ حالاتو په نبض ولې خان نهٔ پوهوی؟ ـ تولہ شپه مې خپل خان دَ دې شکست خورده احساس کمترۍ په درشل غوځ غوځ کړو چې ژبه مو ګونګۍ کړې شوې ده اؤ دَ نورو دَ جنګونو خشاک شُو.

زما دَ خان سره دې خانه جنګۍ کښې پوهه نهٔ شوم اؤ هلته دَ نمر سترګه راؤختله . يؤ نا پېژندلی اواز راباندې غږ ؤکړو ،

"اے دَ اشنغر دَ خاوړې زويه!"

غږ راباندې غونی خېږ کړه، خو خان مې ورته زړه ور کړو، ما وې

"څوک ئې؟"

وې، "جبرئيل يم".

ما خپلو اوترو سترګو کښې کاکير شوے نظر يؤ خل بيا برند کړو، خو ژبې مې هېڅ ؤ نهٔ وې،

"جبرئيل يم ــ اے دَ اشنغر دَ خاوړې زويه! نهٔ په ګيله کولو پوهېږې اؤ نهٔ په پېغور ورکولو ــ تهٔ کهٔ دَ ګيلې اؤ دَ پېغور چل زده هم کړې، نو چا نه به ګيله کوې؟ ــ چا له به پېغور ورکوې؟ نهٔ دې دَ محمود غرور خپل کړو اؤ نهٔ دې دَ اياز ادا ژوندۍ ؤساتلې شوه ــ ستر احمد شاه دې دَ تاريخ دَ پاڼو نه ؤشوکولے شو ــ دَ خوشحال خان ځلے دې دَ خېبر اؤ اټک منځ کښې ورک شولو ــ عبدالرحمان چې ديوان ئې دَ قرآن سره يؤ ځاے تاخ کښې ږدې، درنه په قبر کښې ژوبل کړے شو ــ دَ ملالۍ لوپټه درنه تماشه شوه ــ ستا قام دَ پاره دَ اشنغر خانۍ نه خان ملنګ کړے باچاخان دَ هغهٔ په ژوند دَ پېغورونو اؤ تورونو په کاڼو "رجم" کړے شو ــ ستا دَ رڼا دَ صف سر لښکر

لوی نجیب په لوی بازار کښې دَ تیارو په لمسه ؤوژلے شو ـــ ستا مؤقف وړاندې کوونکے، ستا پښتو ګویا کوونکے نورالبشرنوید ته دَ قدر په سترګه کتلے کیږی ـــ خو خپلو کښې پردے ګڼلے شی ـــ ستا سندرې دَ خپل سرور سره دَ خاموشئ قبر کښې ښخې کړې شوې ـــ ستا په اذان دَ کلیمې وئېلو په خاے فتوې ورکړې شوې ـــ ستا دَ ازادئ اؤ سوکالئ غازیان غداران ؤګرځولے شول ـــ ستا دَ شهیدانو دَ قبرونو نه په شُعلو پورته کېدو هم دَ هغوی شهادت رد کړے شولو ـــ

ما ته ستا دَ حوصلې سترګو کښې دَ امید یؤ بخرے ؤځلېدلو ، نو لکه دَ بې وسو په ګیلو اؤ پیغورونو سر شوې".

بیا دغه خبرې ؤدرېدلې ـــ ما خپل مخ ته له شرمه لاس ؤنیول ، خو څوک خان له خپله خانه نۀ شی پټولے ـــ ما پسې نمر خاندل ـــ هوا را ته ګُورېدله ـــ مرغیو را پسې ملندې کولې ـــ موسم را ته سپک کتل ـــ پښتنې خاؤرې را نه مخ اړولے وۀ ـــ

اؤ زۀ خپل مخ له خپله خانه نۀ شم پټولے ، هن! دا ده ، چې دغه پیغور را کښې یؤ نوے بغاوت ؤپُوکلو ـــ!!!

# ښاغلی

هغه په اښتته روان وی او چې ولاړ وی ، نو هم ئې د مخامخ ليدلو نه سړے په دې نهٔ پوهيږی چې ولاړ دے او کهٔ ناست . ناست داسې وی لکه چې چا شيش پخولو د پاره نخښنه لچه کړې وی او يا ورو په شينولو کښې رچکې ته تپ اخستے وی . د دومره لوړې وُنې دا يوه کته ئې کړې ده ، چې څوک ورته هم ګوری ، سترګې ورته ښکته کوی او دے چې هر چا ته ګوری ، په اوچتو سترګو ګوری . جامې ئې داسې اغوستلې وی ، لکه چې په جامو کښې چا تومبلے وی او پېزار ئې داسې په پښو کړے وی ، لکه چې چا ورته دروند پيټے په پښو کړے وی . ږيره دومره په وېښ خروی ، لکه چې د ږيرې تخم ئې چنړ سوزولے وی او څټوکے داسې ساتی لکه چې ددهٔ د وني دغه هم د غتېدو نوم په خلهٔ نهٔ اخلی .

خلق خو وائي چې پښتانه اتم پاس دے ، خو زه ئې نه منم ـ خکه چې دَ هغهٔ په تندی دَ پوهې کومې کرښې جوړې شوی ، نو هغې نه خو دا خبره په ګُته کیږی ، چې کهٔ دیارلسم نهٔ ؤ ، نو دا دولسم خو به دهٔ په ورنی کښې وئیلے وی . دَ خبرو نه ئې دا خبره په ډاګه شی ، چې خبره څومره په پوهې سره جوړه کړی ؛ بیا ورته دَ هر لفظ دَ ضرورت مطابق ژبه خوځوی اؤ هم دَ هاغه لفظ دَ تجوید تر مخه دَ اواز مخرجونو لره لاره ورکوی .

په هغهٔ هر وخت دَ سنجیدګۍ داسې پهریان ناست وی ، چې تهٔ به دا ګمان کوې ، چې دا جوړې بدنیته دے اؤ بد نیته هم دَ هاغې لوئې مرتبې ، چې ښه ورځ ئې په بل خو څهٔ ؟ په خان هم پېرزو نهٔ شی . دَ هغهٔ دَ مخ په څادر کښې ژور شوؤ ګُتونو نه دا خبره څرګندیږی ، چې دَ خندا مېوه ئې دَ اُوږدې مُودې را هسې نهٔ وی خوړلې . دَ اونې سره ئې دَ ځوانۍ دا یوه ګټه ده چې دَ وخت تیرې سره په زړېدلو هم بوډا نهٔ ښکاری ، بلکې دَ هغهٔ همځولی وائی چې کله په دهٔ ځوانی راغله ، نو هاغه وخت هم دا کبج غوندې وهٔ اؤ دَ وړو سره سره به دَ زړو په تولګی کښې هم ددهٔ ناسته چا بده نهٔ ګڼله .

مولانا صیب دَ جمعې خطبه کښې چې کله په خوانۍ کښې دَ شوؤ ښو کارونو دَ پاره دَ لس چنده ثواب زېرے اؤرولو، نو په خوانۍ کښې دَ شوؤ ګناهونو په سزا کښې ئې هم دَ ژبې نه کار اخستے وؤ، خو دَ پخنو کاکا په دې پوښتنه چې، "مولانا صیب! دَ ښاغلی په حقله دې څۀ خیال دے؟"

نو مولانا صیب په دې خبره هېڅ ؤ نۀ وئېل. پخپله دَ پخنو کاکا دا وېنا ده چې ښاغلی سره به دَ خوانۍ حساب نۀ وی، ځکه چې دغه وخت ئې دَ وړوکوالی اؤ بوډاتوب تر منځه چرته هم نۀ ښکاری.

پخپله دَ ښاغلی دا خیال دے چې هغۀ وادۀ ځکه نۀ دے کړے، چې هغۀ ته دَ خپل جغ ځوک ترلاسه شوی نۀ دی اؤ ریښتیا خو دادی چې دَ هغۀ دَ جغ یوه ګرنډۍ ابۍ ده اؤ ښاغلے هغې ته "ابۍ" وائی اؤ ابۍ هغۀ ته "ورور".

دَ ښاغلی په حقله کۀ ځوک ډېرې خبرې هم ؤکړی، خو په دې خبره ځوک هم سترګې پټولې نۀ شی، چې ښاغلے دَ خپل زېږون نه تر دې مُودې دَ خپل زور په لمن چا ته دَ ضرر رسولو تور نۀ لری ــ هغه کۀ دَ سړیتوب په سبب وی اؤ کۀ دَ بې وسۍ تر مخه. مونږه دَ دې دعا کوونکی یُو چې خدایه! چا

لره هم چا ته دَ ضرر رسولو طاقت ور نهٔ کړې اؤ په ضرر رسولو ئې ته پخپله ؤزورې .دې نه لويه خبره څهٔ کېدے شي ، چې يؤ ساه اخستونکے دَ بل ساه اخستونکي دَ شر نه په څنده وی ، هغه کهٔ دَ شر کوونکی دَ بې وسی په سبب ولې نهٔ وې .

PUKHTO.NET

## مونږ، بدي اؤ مافي الضمير

کۀ مونږه دا فرض کړو، چې هر سړے سم دے، نو بیا؟

اوه! دا مې څۀ ؤوې؟ ــ

خه خبر! یؤ زۀ نۀ یمه، دا زمونږه قومي المیه ده چې مونږه دروغ یا ناشونې هم خان ته اؤ په خان "فرض" کوو اؤ دا هم زمونږه قومي المیه ده چې "خه خبر! دا یؤ زۀ نۀ یمه"، خو شکر دے چې دې خبره کښې مونږه هېڅ سیمه ایز تعصب اؤ فرقه وارانه سوچ ککړ نۀ لرو، چې هره المیه مو "قومي" وی.

کۀ ستاسو خوښه وی نو، دَ مضمون تمهید لره بېرته راځو، خو دا نۀ فرض کوو، چې هر سړے سم دے، ځکه چې هېڅ نۀ یُو خبر، کۀ ائین کښې دا ترمیم شوے وی، چې چا ناشونې فرض کړې، نو هغه به سعودي عرب یا انګلستان ته جلاوطن کوو.

خبره مونږه دَ "مونږه" نه پېل کړې وه اؤ ریښتیا خو دا دی چې کۀ زۀ خبره دَ مُونډ نه رانیسم ، نو بیا به زۀ دوه رنګی کؤم اؤ دَ یؤ لیکونکی په خاے ناسته ما دَ دوه رنګی، کولو دَ حق نه لاس په سر کوی .

بدې دېر ښۀ څیز وی .بدې اوچتې ساتل زمونږه دَ تبلیغی ورونو نخښه ده .دَ دنیا په کوم ګټ کښې چې کۀ هر یؤ مذهبی ګوند یا ټولګے وی ، خو زما پکښې اسلامی تبلیغی ګوند په یوه خبره دېر زړۀ ته نزدې دے ، خکه چې دوی دَ زمکې دَ پاسه اؤ دَ اسمان لاندې څیزونو کښې هېڅ کار نۀ لری . دوی تل دَ زمکې دَ لاندې اؤ دَ اسمان دَ بره خبرې کوی . دوی تا نه هېڅ نۀ غواړی . په لاره ښی اړخ ته تګ کوی ، زمکې ته ښکته ګوری (زما لکه ستاسو ټیټې سترګې نۀ وی خوښې ، خو دَ دوی دې ټیټو سترګو ته ژوند کښې څو خله پسخېدلے یم)، بدې ئې اوچتې کړې وی ، خپلې شپږ خبرې (نمبرې) ورته داسې یادې وی ، لکه مونږه نه چې دا نۀ هېرېږی چې:

دَ رحمان وېنا به هله در په یاد شی

چې دې یؤ دېوال شی، بل ته شا شی

دوی تل وائی چې ، لږه به خورو ، لږ به اُودۀ کېږو ، هر کار به

په مشوره کوو ، دَ لارې به په ښې اړخ ځو ، ښکته به ګورو ، دَ بل خبره به نۀ غوځوو اؤ داسې نورې خبرې هم کوی ، چې ډېر ئې نۀ کوی .

"بدې" یوه بله اصطلاح کښې هم په کار راوستلې شی ، خو ښیاق و سباق ئې دَ اوچتو شوؤ بدو سره هېڅ سمون نۀ خوری . دَ دې بدو پحقله ما تېره ورځ پخمو کاکا نه هم تپوس کړے وۀ اؤ ګرندی ابی نه مې هم پوښتنه کړې وه ، خو دواړو را لره دَ خپلې عظیمې فلسفې په رڼا کښې ځواب را کړے وۀ اؤ په ډاګه ده چې دَ هغوی لویه فلسفه زمونږه وړو سرونو کښې چرته ځائېدله ؟ پاتې شو پډنک کاکا ، نو هغه سوالونو ته لکه دَ سوال ؤګوری.....موسکے شی اؤ بیا دَ ځنګی خوا له ځان رسوی اؤ هغې سره دَ کټ غېږه کښې کښینی.

بیا ما دَ تېرو وختونو ور بېرته ګرلو اؤ دَ دې دَ پېل په حقله مې دَ ځان پوهولو په لورې پَل واخستۀ . دَ بدو خبره دومره لرې نۀ وه ، چې دَ وړومبی قدم درک ئې نۀ وۀ . خبره دومره لنډه وه ، لکه په نړۍ دَ ادم بابا قدم ایښودلو نه څۀ ورځې وروستو .

خو دې نه وراندې ، چې ما لږه نوره څېړنه کړې وه ، زما ګرځنده ؤشنېدلو اؤ بل اړخ نه غږ ؤشو ،

"دَ مدار پلار يم".

"په خېر! په خېر بَدادا!".

دَ هغهٔ خبرې مرغيژنې وې. غږ ئې هغسې ژوندے نهٔ ؤ ، لکه چې دَ منفوحې (رياض.سعودی عرب) په سره مانۍ کښې به ئې زمونږ مراوی مخونه تخنول. ما لږ ورو ؤوې ،

"بَدادا! خېر دې وی ؟"

"يه هلکه! خلق وائی ،

يؤ کال به بل وطن کښې تېر کړم

چې ستا دَ حسن دوران تېر شی ، را به شمه

زهٔ پنځهٔ کلونه پس راغلم. دلته خو اوس هم هغه ........ ده. دَ دوی دَ ښځو دَ خوېندو دَ ترورپانو دَ ماميګانو دَ خوابښيانو پښت .........".

"بَدادا! خبره ؤکړه. کوم خاے ئې اؤ څهٔ ؤشو ؟".

"روغنيه! کهٔ سفارتخانې هلته پهٔ پاسپورټ روکېدلو ما دَ پاره OUTPASS روغولو ، نو هغوی ورومبے زما پېژندګلو کړې وه. دا دلته چې کومه پولسان دی ، نو ولې دوی زما مخ اؤ ږېې ته

نهٔ ګوري. زما دا بُوتاړ اؤ لواړه ژبه دوی ته نهٔ وائی، چې زهٔ دَ "سرسنۍ" یم، چې دوی زهٔ ګاډی کښې کښېنولے هاغه کابل ته روان کړے یم".

کهٔ بدادا ما پوښتلے نهٔ ؤ، نو هغهٔ به هم دغه کنځلې کولې اؤ زهٔ به په خبره ئې هم نهٔ پوهېدم. هغه ما ته "روغانیه" په ځائے "روغنیه" وائی. پرغخ خو په هغهٔ یؤ سحر نه واخله بل پورې اؤ بیا دَ بل نه واخله بل پورې وی. خو "کابل ته روان کړے یم" چیست؟

"بدادا! پوهه شوم، چې څهٔ کښې په لاس ورغلے ئې، خو دا را ته وایه، چې اوس ئې کوم ځائے کښېنودې؟"

"هن! خبرې ؤکړه!"

"سلامونه"

"وعلیکم سلامونه"

"وروره! دا سړے مو کوم خوا روان کړے دے اؤ دَ دهٔ خوشی کولو دَ پاره به.....".

"زهٔ پخپله طوطی یم. خان اېف ائی اے (FIA) ته را رسوه!".

دَ مسلمان خوی زما اؤ دَ بداد تماس ته هم په مرۍ غلے شو. زهٔ نېغ عزیزالله پسې لاړم اؤ دَ هغهٔ موټر دَ پېښور دَ لارې په خښته

ؤخويوۀ. ګڼمته کښې مونږ هلته وو. دَ ايف ايي اے دفتر ته ننوتلو باندې زما وينې بدادا ته ؤځوټکېدلې. دومره ښۀ خلق. زۀ ئې بدادا سره مخ هم کړم. ما چا "لوى" ته پښو دربولو دَ پاره تماس نه ځنده ؤکړه.

"جالات داسې دى، چې دَ ځکه ګاونډى پېژندګلو به هم کوې". يۀ بابوګى ؤوې،

"زمونږ معروضى حالات چې تېرو دېرش پنځۀ دېرش کلونو نه کوم پله روانِ وو، داسې خو کېدل".

ما هغۀ له لږ خواب دېر تبى سره ورکړو.

"زۀ وينم، چې تاسو هم مصروف يئ. دلته کۀ قانون ته ګورو اؤ دَ قانون په لاره خو، نو دَ دۀ دَ پېژندګلو سپيناوے خو به دَ دۀ د سيمې نه مونږ ته راځى. شپږ اتۀ ورځې خو زۀ وېم چې دا اخلى اخلى".

ما سيګرټ راؤويستلو اؤ تيلے مې ورته ؤهلو. هغه دغه ځاے ځۀ کاغذ باندې سترګې ځملولې اؤ غلے شو. دغه وخت پورې دَ هغۀ سترګو نه هغه ويارِ کډه کړې وه، کوم سره چې زما دَ ورتګ په وخت دَ هغۀ سترګو کښې پښتون خلق ؤ.

"کۀ خبره اُوړدو له نۀ بوځو نو بيا؟"

زما سپېږمو نه لوګے وتلو اؤ هغهٔ زر کاغذونه یؤ اړخ ته کړل اؤ په موسکو.سترګو ئې ؤوې ،

"کهٔ قانون ته شی ، نو دغه لس اتهٔ زره روپۍ....."

"قانون ته....."

"نه صیبه! دَ قانون څهٔ جرمانه نشته. مونږ خو دغه دَ سپیناوی دَ پاره دَ مندې تړرې اؤ کړاؤ....."

"دغه دَ لس اتهٔ زره سپیناوے مهٔ کوه. قانون ته کهٔ نهٔ کښېنو ، نو څو ته به غاړه ږدم ، دغه راته ؤوایه!"

"پنځهٔ به ښنګه وی ؟"

"زهٔ به ورشم. دَ دې سړی ضمانت له راغلے ؤم. کهٔ په ضمانت نهٔ کیږی ، نو زهٔ به وړاندې خبره ؤکړم ، چې قانوناً څهٔ لاره ده. زما په اند سوات نه دَ دهٔ دَ پېژندګلو سپیناوی باندې به زیات لګښت نهٔ راځی. بل زما څهٔ ملګرے دوه ایف ائی اے کښې دی ، دَ هغوی خُلهٔ به هم بوی کړم ، خو تاسو بې خایه نهٔ کړؤم".

لږ وخت کښې ما دوه سیګرټ ایره کړی وو. زما لهجې هغهٔ ته څهٔ وئیلی وو ، چې هغهٔ زهٔ لاس نه ؤنیولم اؤ دَ ستنبدلو ست کولو سره ئې غږ ؤکړو ،

"مچوکیه! بدادا راؤباسه!"

ما ته ئې دَ چیو هم ؤوئېل. زما ورتلو پورې بدادا دوه نیمې ګېنتې تېرې کړې وې. چې ما ته غاړه وتلو، تولې درې نیمې ګېنتې شوې وې. په یؤ ساده کاغذ لیکل ؤشول، ما اؤ بدادا پرې ګوتې ؤلګولې اؤ پررررررر.

زۀ چې ورتلم، بدادا سره دَ سیخونو شا ته لس ملګری وو. زۀ چې راتلم، اووۀ پاتې وو. بدادا ته کۀ ما ډېرې دَ اشنغر خوږې ګورې ماتې کړې، خو هغۀ وې، چې دَ مدار مور مې یادیږی. بدادا زۀ غېږ کښې کلک ؤنیولم. ما ښکول کړو، زۀ ئې ښکول کړم. دَ سوات لاره ئې ؤنیوله. عزیزالله چې موټر تۆدولو، دغه غراری کښې زمونږ دَ موټر خوا کښې یؤ تن بل ته وې،

"دولس زره روپۍ خو پرېږده، چې دا تک راتک خان له زړۀ چاؤدون دے. راځه چې په اتۀ ئې ورسره غوځه کړو!".

عزیزالله وې،

"سبا وټ ته راشه! غوا له به لږ پاندونه ؤکړې اؤ مونږ پوړ راغوندوو، هغه به هم راسره راغونډ کړې، وریځې ګورې دی، خدا ے زده څۀ وخت رانورې کوی".

ما ورته وې ،

"هو ياريه! شپږ خو پاتې شوى وو. چې مونږ وردګې ته رسيږو ، دَ سيخونو شا ته به څوک هم نهٔ وى".

"څهٔ؟"

"هيڅ نهٔ! څهٔ سندره راباندې واؤروه ياريه!"

تېپ: "کده شه! کده شه!

يا مې په بده کړه! يا را په بده شه!"

عزيز الله: هاهاها

زهٔ: غلے ملامته ناست يم.

PUKHTO.NET

# وېلنټائن نائټ

زیارت — 13/02/1969

"ژلوریا سولومانوف" اؤ پخپله "سولومانوف" دواړه یؤ بل سره ډېر مُطمئن دي. سولومانوف هغه مړونو کښې نهٔ دے، کوم چې دَ خپلو مېرمنو په هره خبره نیوکې کوي اؤ ژلوریا هغه مېرمنو کښې نهٔ ده، کومې چې دَ خپل مېړهٔ هره خبره په بده اخلي. داسې دوؤ حالتونو کښې کېدے شي..... یا خو په یؤ بل ډېر باور اؤ یا یؤ بل نه ډېره مړه خوا. دواړه دَ یؤ بل په څهٔ تولنیزو تړونونو اؤ ملکرتیاؤ هم گوتې نهٔ اوچتوي اؤ دغه رنګ ئې ژوند په یوه ډېره هواره لاره روان ساتلے وي. سولومانوف خپل روزګار کوي اؤ دومره گټي، چې دَ هغهٔ اؤ ژلوریا وخت پرې ډېر ښهٔ تیرېږي. ژلوریا توله ورځ کور کښې وي، خو کله کله چې دَ ملکرو څهٔ غونډه وي، نو سولومانوف ته یؤ خل

PUKHTO.NET

خامخا وائی. هسې خو زیاتره دَ ملګرو اؤ سوېلو سره ناستې دَ پاره هغه وخت تاکلے کیږی، کله چې شپه پېغله شی. دغه وخت هم سولومانوف دَ هغې لاره نهٔ نیسی. دواړه سحر چې یؤ ځاے څښی، ماښام ډوډۍ زیاتره دَ دواړو بهر وی، خو یوه پیالۍ چې اؤ څو خبرو دَ پاره یؤ بل سره څو شېبو له ناسته هر ماښام کیږی. دواړه یوه کوته کښې څملی اؤ هر څو کهٔ بېل هم اُودهٔ کیږی، خو یؤ کټ کښې څملی. نن به کال پوره شی، چې سولومانوف خپله غېږه کښې دَ ژلوریا پستې سینې اؤ دَ هغې دَ تؤدې ساه خوند اخستلے ؤ. دَ سولومانوف شونډې کهٔ هر څو اوس هم پخېر راغلی اؤ په مخه ښه کښې دَ ژلوریا دَ شونډو نه تپ اخلی، خو نن کال پوره شو، چې دَ هغهٔ لاس دَ هغې په خوړنو کوناتو خوئېدلی وو اؤ دَ هغهٔ لینګی دَ هغې دَ غمانو تاؤ سره تاؤده شوی وی اؤ دَ هغې په شونډو ئې شخوند وهلے وی. دَ هغوی دې رویې نه زمونږ تولنه کښې کرکه کیږی، خودې نه مخ اړول اسان نهٔ دی، چې زمونږ تولنه کښې ډېرو خلقو دغسې رویې دَ خپلو کورونو دېوالونو کښې په څهٔ نا څهٔ ډول خپلې کړې دی.

په اېم تي وي دَ انګرېزۍ ژبې سندره کۀ هر څو دَ سولومانوف پوهې نه لرې وه ، خو سندرې سره نڅېدونکې ځانګې دَ هغۀ بوخت ساتلو له ډېرې وې. هغۀ يو بالښت سر نه لاندې اؤ بل ئې دواړو پښو کښې نيولے ؤ. سائيډټېبل باندې پرته اېشستړا کښې هغه سيګرټ نه ختونکے لوګے روکېدونکے ؤ، کوم چې ډرېسنګ ټېبل ته څېلمه ناستې ژلوريا ته څو شېبې اګاهو هغۀ دَ ننداري په وخت خپلو ګوتو نه لرې کړے ؤ. هغه وخت ژلوريا دَ خپلو سُوربخنو شونډو چاپېره کرښه تاوهله. سندرې سره نڅېدونکې هره جينۍ کښې هغۀ ته ژلوريا برېښېدله. سپينې پنډۍ، چې کُونډۍ وُرنونو سره هوارې وې. سپين پتونان، چې خوځښت سره به لکه په پيو پروت پېروے وُرپېدل. ډېرې غټې نۀ، خو څۀ لږې جيګې شوې سينې، چې دَ نڅا په وخت هر جول اؤ ټوپ سره به ئې جُوتې خوړلې. سينې نه ښکته نرۍ کېدونکې اؤ کوناټو ته په رسېدلو بيا پلنېدونکې خېټه، چې نوم پکښې دَ نورو نه زيات ژور ؤ. دَ نوم نه لاندې وېښتۀ داسې لکه چې وي نۀ اؤ هم په دغه ځاے دَ بلبلکۍ انځور. هغۀ به شېبه پس خپله شونډه په غاښونو کښې وُزورله اؤ ښانګو کښې نيولې بالښت له به ئې زور ورکړو. دَ

درېسنګ تېبل هنداره کښې ژلوریا هم دَ سولومانوف ننداره دَ بې غرضۍ په پرده کښې کوله.

ژلوریا پاڅېدله. په هغې هر رنګ ښکلے ښکارې، خو دَ سُور رنګ اغوستن دَ هغې ښائست یؤ په دوه کوی. سولومانوف لږ نېغ شو، چې ژلوریا څلهٔ ورنزدې کړه. دَ هغهٔ شوندې کهٔ هر څو شخوند وهلو ته تېښېدلې، خو دَ ژلوریا اوس اوس کړې دول دَ هغهٔ شوندې ؤنیولې.

"دَ کرستینا کره ناوخته پورې ناسته ده".

"زهٔ درپسې درشم؟".

"کرستینا به ما راؤرسوی. تهٔ چرته ځې؟"

"څو ملګرې هوټل کښې یؤ ځاے کیږو. درې ګېنټې".

چې دَ سولومانوف سترګې له تی وی ؤ نهٔ وتلې، نو ژلوریا روانه شوه. هغهٔ دَ ور په پورې کېدلو دَ رېموټ هره تنۍ یؤ یؤ ځل ؤټومبله، چې دَ سندرو، ډزو، خبرو اؤ نورو غږونو یوه لړۍ څو شېبو دَ پاره کوټه کښې په انګازه شوې وه.

دَ هوټل په هال کښې رنګ رنګ رڼاګانې ساه په ساه ځلېدلې اؤ روکېدلې. دَ پېغلې شپې (ورجن نائیټ) موسیقۍ سره پستې لیچې دَ خپل خپل ویلنټائن غاړه کښې څېره شوې

وې. هیجان زلمے ؤ. په جذبو جوبن ؤ. گناه دَ خوند سیورې کښې خندا نه شنه شوې وه. په فرسټ فلور دَ 713 کېبن ور کښې دَ ژلوریا په ښی کوناتی دَ هغې کین اړخ ته ، خو هغې نه نیم گام وروستو دَ راتلونکی گارکوف ښے لاس پروت ؤ ، چې دَ هغې سترگې دَ کېبن 712 ور کښې دننه تلونکی سولومانوف سره مخ شوې. سولومانوف سره چې هر څوک وه ، خو دَ اغوستن زیړ رنگ نه ئې برېښېدله ، چې دې شپې دَ پاره ئې دَ هغهٔ دَ خوښې رنگ اغوستلے ؤ. دَ کېبن 712 اؤ 713 منځ کښې دېوال کهٔ هر څو دواړه اړخونه یؤ بل نه پټ کړی وو ، خو دَ دواړو اړخونو دَ اوازونو ستر ئې نهٔ شو ساتلے. انجلینا پاختر پرته وه اؤ په هغې سولومانوف لکه دَ کوَر خور شوے ؤ. دَ ژلوریا مَلا گارکوف په دواړو لپو اؤ دَ هغې کوناتی دَ هغهٔ په دواړو پتونانو دده شوی وو. راتلونکو غږونو نه دَ سولومانوف غوږونو دَ ژلوریا اؤ دَ ژلوریا غوږونو دَ سولومانوف اواز چن کولو اؤ دَ دغه اواز ښخولو دَ پاره به ئې خپل اواز ښهٔ اوچت اؤ اُوږد کړو.

جمعه — 14/02/1969

نمر تیارې جارو کړې وې ، چې سولومانوف خپلې کوټې ته دننه شولو. په کټ کښې ژلوریا خوره وره پرته وه. دَ هغې دَ ښی لاس

نه لاندې ښۍ سينه دَ ترخ نه ښکاره شوې وه او مُلا او پنډۍ ئې دَ بړستن نه بهر وې. سولومانوف هغې ته لږ نزدې شو ، خو خدائے زده چې زړهٔ ئې په څهٔ خبره بيا ستون کړو. هغه دَ کټ بل اړخ ته دېوال ته مخ کړے څملاستلو.

بايد چې سولومانوف او ژلوريا دَ يوُ بل خوب خراب نهٔ کړي. بېګا به دَ دواړو ملګرې او سوېلې دستورې له راځي. بېګا له دَ هغوی دَ وادهٔ دوېمه کليزه ده.

PUKHTO.NET

# تور ځلی

دَ پېغلې سپوږمۍ رڼا کښې که هر څه رانه شوی وو ، خو تيارې هر منظر کښې ځان پټېدلو ته نه پرېښودلو. دِ خرولې ، بکيانې ، شبوې ، توت اؤ اينځر وُنې دَ خپلو وُنو اؤ ښانګو نه پېژندلې شوې. نرۍ لړه دَ سيند دَ اوبو نه ختله اؤ چاپېره داسې خورېدله ، لکه چې په ټول منظر نرے لوګے خورېږی. دَ کيږرو شپيلی ، دَ ځنې مرغيو دَ وزرونو پرا ـــے ، دَ سپو غپار اؤ لرې چرته دَ ګيدړانو اؤ لېوانو بوږنووونکې چغې شپه ويرندکه کړې وه. سيلۍ به لکه دَ زهرژن مار ساه اخستله.

په تـوله شپه دَ وېرې تور سيوری خواره وو. زما همزاد دَ اشنغر په لوی تاپُو ولاړ ؤ اؤ چاپېره نندارتون کښې ئې سترګې ښخې کړې وې. دَ نړۍ ؤچې برخې بې شمېره تورو څلو سره داسې برېښېدلې ، لکه چې په زلمی مخ بې شمېره ننکۍ ختلې وی. دَ هر څلی خوا کښې دَ غوښې يؤ بُت ولاړ ؤ اؤ دَ بُت په شونډو به دَ موم دَ تار ګينده وه. دَ هر بُت سترګو به دغه وېرېدونکے بوږنووونکے منظر ليدلو اؤ دغه وېره به ئې دَ سترګو نه څڅېدله. غوږونو به دَ دغه مهيبو غږونو زوږ اؤرېدلو ، خو ژبې دَ خوځښت اؤ اواز دَ سر اوچتولو توان نهٔ درلودهٔ. په ژبه دَ چپتيا وينهٔ اړم وو اؤ دَ غږ پيښې دَ وېرې بياستې تړلې وې.

دَ ژوند تۆده وينه دَ مرګ وېرې کنګل کړې وه......

دَ تيارې دَ منظر په شا نمر پړکاله پروت ؤ.....

دَ جومات دنګې منارې ساه راښکلې وه......

دَ کانو زړونه په ډکو خوړند وو.....

اوبو نه بهېدل هېر شوی وو......

دَ ؤنو پاڼې په خاـــے ولاړې اؤ تنې ړچېدلې.....

سپوږمۍ پخپل سيوری پسې غلې غلې خوئېدله.....

وړو ستورو هېبت کښې ځانونه خپلو غېږو کښې نيولی وو.....

زما دَ همزاد سترګې په يؤ داسې بُت ښخې شوې ، چې دَ هغهٔ سترګې ويستلې شوې وې اؤ دغه وخت ترې هم وينې توئېدلې. دواړو غوږونو کښې ئې تؤدهٔ سيخونه ټومبلی شوی وو ، ژبه ئې غوڅه شوې وه ، چې وينو ترې دغه وخت هم دارې وهلې. دَ هغهٔ لاسونه څنګلو کښې غوڅ شوی وو اؤ دواړه پښې ئې دَ څنګنانو نه لاندې شلې کړې شوې وې ، خو بيا هم هغه غلے نهٔ ؤ. زما همزاد موسکے شو اؤ دَ دغه بُت لوړتيا اؤ سپېڅلتيا ته ئې لاس په تندی کېښودلو.....

دغه دَ يؤ باغی روح بُت ؤ.

PUKHTO.NET

# دَ مینې پۀ بل لیک

پۀ سمه ډېره مینه سم ډېر سلامونه!

لږ وخت مې ډېرو خبرو ته نۀ پرېږدي. وخت هم څۀ بلا ده. چې تۀ نۀ وې ، سم ډېر ؤ. چې تۀ راغلې ، اوس دومره هم نشته ، چې تا ته پکښې دوه تکې ؤلیکم.

ما هر چا نه ډېر اؤ ښۀ پېژنې. سپینه خبره درته کؤم. تا لیکلی دی ، چې ما درته ډېر وخت ؤشو ، لیک دراستولے نۀ دے.

ګرانې! لاسونه پښې مې دیارې نه نۀ ؤزګارېږی اؤ پاتې شو یادول ، نو لرې ده ، چې تۀ دې زما یاده نۀ ئې اؤ زۀ دې ژوندے یم.

ساګانې خپله ببعه کښې زمونږ نه څو ارمانونه غواړی. ښېرې کوه ، چې ساګانې ارمانونو اؤ ارمانونه ساګانو سره خرڅ نۀ کړو.

ما ډېر ډېر یادوه ، تا ډېره ډېره یادؤم. سمې ډېرې دعاګانې کوه ، زۀ سمې ډېرې دعاګانې کؤم. وایه چې ، "لویه خدایه! زما دَ مرې خاؤرې ؤرِی بچی پخپله خاؤره شته کړې!".

تندے را دېخوا کړه ، چې ښکول کړم.

پۀ لوی الله دې سپارم.

ستا



حیاته! مونږ چې ئې کافر له خیاله تېر شولو ، نو
هاغه به هم وخت وی ، چې خلقو له ایمان راځی



**حیاتونه** دَ خپل نوعیت ښکلې اؤ جدیدې بلکې جدید ترینې افسانې دی، چې خپله لمن کښې ئې خوارهٔ وارهٔ موضوعات لکه سماجیات، عمرانیات اقتصادیات، سیاسیات، مذهبیات، نفسیات اؤ جنسیات په ډېره دلچسپه پیرایه کښې دَ خپل ځانګړی اسلوب سره رایؤ ځائے کړی دی.

ډاکټر محمد زبیر حسرت